# Daily Wahdat -Peshawar

## ورځپاڼه وحدت - پېښور

بنسټ اېښودونکی: پیر سید سفید شاه همدرد   ذمه وار: سید هارون شاه

د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند او د پښتون قامي وحدت په اړوند خپرې شوې لیکنې


ورځپانه
بانی: پیر سید سفید شاه ہمدرد
وحدت
ایڈیٹر: سید ہارون شاه
پیښور

یکشنبه (اتوار)، 21 جمادي الثاني 1422 هـ ق، 18 سنبله 1380 هـ ش
9 ستمبر 2001، 26 بادرو، 2058 ب، جلد 26، شماره 246، بیعه 4 روپۍ


# قامی وحدت زموږ قانونی او آئینی حق دے، افضل خان

**پښتون قام یو غاصب قوت ویشلے دے او ددغه غاصب داعمل قانوني بنیه نه لري. افغان چي هرچرته وي یو قام دے**

**دپاکستان او افغانستان حکومتونه دي دډیورنډ کرښي دواړو غاړو پرتو افغانانو ته بغیر د کاغذونو دتګ راتګ اجازه ورکړي**

**دافغانستان موجوده مسئله له دي امله پیدا شوه چي پښتون قام ملي وحدت نه محروم و، بلجیم کښي جرګې ته خطاب**

ګنټ (وحدت خبریال) قامي وحدت زموږ فطري قانوني او ائیني حق دے ځکه چي پښتون قام یو غاصب قوت ویشلے دے او ددغه غاصب دا عمل قانوني بنیه نه لري ځکه نو دپاکستان او افغانستان حکومتونه دي د ډیورنډ دکرښي دواړو غاړو ته پرتو افغانانو ته بغیر دکاغذونو دتګ راتګ اوتجارت ازادي ورکړي د اخبري دپښتونخوا قامي پارټي مشر افضل خان لاله دپښتون سوشل

پاتي صحفه ۵ کالم ۴

پاتي: افضل خان

ډیموکرټیک ګوند دبلجیم دڅانګي لخوا دبلجیم دګنټ په ښار کښي دپښتون قامي وحدت په لړ کښي جوړې شوې جرګې ته خپل خطاب کښې کړیدی ده ووئیل چي دافغانستان موجوده مسئله له دي امله پیدا شوه چي پښتون قام دملي وحدت نه محروم و که چرې دپښتنو په منځ کښې قامي وحدت موجود

وے نو دا اوسني واقعات به منځ ته نه راتلل او که چرې راغلی هم وے نو ډیر زر به د افغاني قام په بریالتوب سرته رسیدلی وے ده زیاته کړه چي په موجوده افغانستان کښې په نامه پښتون د اقتدار خاوندو خو په حقیقت کښې د ریاستی اقتدار نه محروم و په دغه افغانستان کښې پښتني لباس او طریقه دقدامت نخښه او پښتو ژبه دجهالت نخښه وه او دیو داسې کلتور چي حقیي سره دافغانیت هیڅ سروکار نه و په زور و التصدی غلامی دلاژي په پښتنو

ونیول شو چي ددې نتیجه دا شوه چي ولس اکثر لوستي پښتانه انګریزي، اردو، فارسی او نورو ژبې لیکلے او لوستلے شي خو په پښتو نه پوهیږي غونډه کښې دپښتون سوشل ډیموکرټیک ګوند مشر ډاکټر کبیر ستوري، دګوند دمشر صلاح کارحاجي فضل الرحمان شیر، دخپروني دجرګې، غړي نصیر ستوري او دګوند دبلجیم دروښانفکرانو او پوهانو برخه اخستي وه

9-ستمبر 2001

ABC CERTIFIED | THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN | MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

ورځپاڼه پېښور

# وحدت

چيف ايډيټر
پير سفيد شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

سه شنبه (نهې)، 9 جمادي الثاني، 1422 هـ ق، 6 سنبله، 1380 هـ ش
28 اگست 2001، 15 بادرو، 2058 ب، جلد 26، شماره 235، بيعه 4 روپۍ

# پښتون د شروع راسې د يو قام او يو وحدت نوم دے، افضل خان

## دا قام 1893 کښې پيرنگيانو د يو سازش تر مخه په خلورو برخو وېشلے وو چې تر ننه هم هغسې ټاله واله او ټوټې ټوټې پروت دے

## د پښتنو د ټولو قامي او اجتماعي مسئلو حل دې کښې دے چې پښتانه خپل وحدت بيا ترلاسه کړي، جرمنۍ کښې خطاب

## ملګري ملتونه دې طالبان په رسميت وپيژني، بنديزونه دې ترې پورته کړے شي، ډاکټر کبير ستورے

کولن (وحدت خبر) د پښتونخوا قامي پارټۍ مشر محمد افضل خان وئيلي دي چې پښتون د شروع راهسې د يو وحدت او يو وجود نوم دے ولې د يو سازش تر مخه دا يو قام پيرنګيانو په کال ۱۸۹۳ کښې په خلورو برخو ووېشلو او د دومره اوږدې مودې تېرېدو په وجه د پښتون قام تن هم هغسې ټوټې او ټاله واله پروت دے دا خبرې اوږمه ورځ د جرمن د کولن په ښار کښې د پښتنو قامي جرګې ته خپل خطاب کښې کړېدې دا جرګه چې پکښې د نړۍ د ګڼو هېوادونو څخه قام پرست مشران او سياسي پوهان شريک دي د

صفحه ۵ کالم ۳

دوخت تقاضا ده که دوی بيو موټې شول نو نړۍ کښې د دوی نه زيات صلاحيت لرونکے او مضبوط بل قوم نيشته ده وويل چې پښتانه څکه نظر انداز کړے شوي دي چې د دوی خپلو کښې اتحاد نيشته او په همدغه وجه

د دوی په مسئلو کښې اضافه کيږي ده وويل چې دلته جرمنۍ کښې خلو پښتو زرو پورې پښتانه دي او د دوی مسئلو د هوارۍ دپاره موږ په شريکه کوششونه پيل کړېدي

پريخوا به وخت په خپله کوي څکه چې اوس په عالمي کچ وارہ قامونه رايو ځاي کيږي او لوئې وحدتونه جوړوي نو په عالمي کچ د

بدليدونکو حالاتو په تناظر کښې دا خبره اوس ډيره رالنده ده چې پښتانه خپل وحدت وګټي جرګې ته پخپل

خطاب کښې په جرمنۍ کښې د پښتنو د سوشل ډيمو کراټيک ګوند مشر ډاکټر کبير ستوري په ملګرو ملتونو زور راوړو چې افغانستان کښې د امن او سوکالۍ د يقيني کولو دپاره د طالبانو حکومت په رسميت وپيژني او لکه د نورو ملکونو دې د طالبانو حکومت ته هم اواك ورکړے شي چې هغوی په نړيواله سطح خپلو تجارتي او سفارتي هلو ځلو ته دوام ورکړي ده د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا لخوا په طالبانو د لګيدلو بنديزونو غندنه وکړه او وې ويل چې بايد دا بنديزونه ژرترژره ختم کړے شي او لرو بر پښتنو ته دې موقعه ورکړے شي چې هغوی بغير د څه پابنديو د تورخم په پوله تګ راتګ وکړے شي ده په دې خبره خفګان ښکاره کړو چې د

افغانستان په زيانه برخه د واك لرلو باوجود د طالبان د نړيوالې ټولنې لخوا تراوسه په رسميت نه دي پيژندل شوي همدا شان کبير ستوري د طالبانو څخه هم غوښتنه وکړه چې په افغان اولس د غير ضروري بنديزونو لګولو نه ډډه وکړي چې داشان افغانستان هم د نړۍ د نورو قامونو سره د سيالۍ په ډګر د اوډريدو جوګه شي دغه جرګې ته د جرمنۍ د سوشل ډيمو کراټيک ګوند ډاکټر ګونتر الکيلي، ډاکټر شير افضل ګرديوال ايډوکيټ علي خان محسود، محمد شيرين ګرديوال او حاجي فضل الرحمان شير هم تقريرونه وکړل د پښتون سوشل ډيمو کراټيک پارټۍ سيکرټر او د پښتون کور مشر هدايت الله خان بنګش وويل چې د پښتو اتحاد

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو د ورځپاڼه

MEMBER APNS

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

ورځپاڼه پېښور

وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

# عالمي قوتونو د خپلو مفاداتو د پاره افغانان تباه کړل، اجمل خټک

## چاچې په افغانستان جنګ مسلط کړے و، اوس هم هغه قوتونه د امن قائمولو کوششونه کوي

## د هر قوم خپل شناخت شته خو پښتون قوم تر اوسه د خپل قومي پیژند ګلونه محرومه دے

پېښور (وحدت خبریال) د اے این پی مرکزي صدر سنېټر اجمل خټک وئیلي دي چې پاکستان کښې د هر قوم خپل شناخت دے خو پښتون قوم لا تر اوسه د خپل قومي تشخص او پیژند ګلونه محرومه دے. د ګل په ورځ دلته د ډاکټرانو بوټي دستورې ته خپل خطاب کښې ده ووئیل چې پښتونخوا زمونږ بو لرغونے او تاریخي نوم شناخت او حق دے او د اسئله به اے این پي په هره سطح راپورته کوي او په خپله صوبه به پښتونخوا نوم ږدی ده ووئیل چې صوبه سرحد د هیڅ یوې صوبې نامه نهٔ شي کیدے ځکه چې د هر ملک او هرې صوبې سرحدونه

باقي صفحه ۱۰ اتم کالم

### باقي :: اجمل خټک

وي. ده ووئیل چې مونږ داسې چې دلته غیر پښتانهٔ هم اباد دي خو ولي د پاکستان داسې کومه صوبه ده چې هلته دا کثریتي قوم سره نور قومیتونه اباد نهٔ وي؟ د افغانستان په بابله ده ووئیل چې افغانستان او افغانان عالمي قوتونو د خپلو مفاداتو د پاره تباه کړل

او په افغانانو ئي جنګ مسلط کړے و خو اوس هم هغه قوتونه لګيا دي روس او وسطي ایشیاء ته د ځان رسولو د پاره په افغانستان کښې د امن قائمولو کوششونه کوي.

15 جولائی 1997

CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو وړومبۍ ورځپاڼه

ورځپاڼه پېښور

# وحدت

چیف ایډیټر

پیر سفید شاه همدرد

چهارشنبې (بده) تاریخ ۵ ۲ شعبان ۱۴۲۱ هـ ق، ۲ قوس (لیندۍ) ۱۳۷۹ هـ ش،
22 نومبر ۲۰۰۰ ۸۵۲ مګر ۲۰۵۵ ب، جلد ۲۵ شماره ۳۱۶ بیعه ۳ روپۍ

# پښتانه په یوه کړ راغونډیدے شي، کبیر ستورے

د پښتو د نړیوال کانفرنس او قامي جرګې له لاټې نه ښوه چې پښتانه متحد کیدے شي

قامي جرګه زمونږ اتاله ده، مونږ خپلې لانجې او ربړې په جرګو هوارو و

په افغانستان کښې داسې نظام محکم شي چې هرڅانه د عمل شخصیت د ودې براخې موقعې په لاس ورشي



ډاکټر کبیر ستورے

پېښور (وحدت خبریال) اِښان کښې د پښتو د نړیوالې او ولسي کونډ مشر ډاکټر کبیر ستوري ویلي دي چې پېښور کښې اوس اوس شوې پښتو نړیوال کانفرنس او پښتون قامي جرګه کښې د پښتو یوځائي ته راغونډیدل ډېره ښه خبره ده او د دې نه دا ثابته شوه چې پښتانه په یوه کړ راغونډیدے شي او دا هم ډېره ښه خبره ده چې کوم ښت ادبي استعدادونه په پښتونخوا کښې شته هغه ډېر ملکونه تر دې چې پرېښ تلي هیوادونه هم نه لري. «وحدت» سره په یو خصوصي مرکه کښې ده وویل چې د پښتنو یوځائي راغونډیدل یو

پاتې صفحه ۷ کالم ۲

### پاتې :: کبیر ستورے

ښت پرمختګ دے. چې انګرېزي به ئې ډېره سوده پاتې وي او بیا دوسره زیاتې ادبي ټولنې دلته شته چې ټول یو شي نو ښت قوت به وګرځي. هم دغه وجه ده چې د نړیوال کانفرنس او قامي جرګې نه دا خبره غلطه ثابته شوه چې د پښتنو ترمنځه اتفاق نشته. ده وویل چې په دې دواړو غونډو کښې د ماضي حال او مستقبل په حقله خبرې وشوې چې د یو قام د ترقۍ د پاره ګټه ورې ګرځېدلے شي بلکه دا چې دا غونډې صرف ادبي نه وې بلکې په دې کښې نور موضوعات هم د غور لاندې راغلل. ده وویل چې قامي جرګې زمونږ اتاله ده او په دود دستور، مونږ خپلې لانجې او ربړې هوارو و. ډاکټر کبیر ستوري وویل چې پښتون قامي جرګه د قام په شکل کښې ده په دې کښې د ټول قام نمائندګان راټول شوي وو چې پکښې قامي ملکان، مشران، لیکوالان او ادیبان شامل وو او که دا سلسله روانه شوه نو د پښتون قام ټولې مسئلې به په داسې جرګو کښې وړاندې کیږي او هوارېدے شي. ده وویل چې دا اسمه غونډې د افغانستان او پاکستان په سنیغ کښې نژدې والے دے چې دا رنګ دواړو ملکونه یو بل ته نژدې شي او د دښمنۍ په مقابل کښې دواړو هیوادونه دوستي وکړي، تجارتي اړیکې قائم کړي او دا چې د پښتنو په سنیغ کښې دې لارې نه بندیږي. د دې یوښتنې په ځواب کښې چې د جرګې د پاره یو هیئت د افغانستان راتلونکے وُ او جرګه کښې د کیږ پاره د دوی ... ولول شو. ده وویل چې د جرګې راغونډونکو ته به دا معلومه شوې وي چې دا هیئت د بل غاړې نه یا د افغانستان نه راتلو په دې کښې څوک وو بیا هم که د هیئت مخه نیول شوې وي نو دا رویه مناسبه نه ده او د ډېمو کرېسي د کمزورۍ کولو یوه هڅه ده. په حیث پښتون د طالبانو د پالیسو په حقله ده وویل چې اسلام او پښتوه یو بل نه نه شي جدا کیدے. طالبانو په افغانستان کښې امن راوستے دے او امن د هرڅه نه ډېر ضروري دے او بې د امن نه تعلیم او اقتصاد بلکې هیڅ ترقۍ نه شي کیدے. په بل پراو کښې په منطقه کښې د امن د ټینګښت د پاره او هغه په دې چې په افغانستان کښې یو داسې نظام محکم شي چې پکښې هرچا ته د خپل شخصیت د ودې پراخې موقعې په لاس ورشي. اروپا کښې د طالبانو د مخالفت په حقله ده وویل چې هر څوک مخالفت د خپلو مفاداتو د پاره. کوي. دې لړ کښې د افغانستان کشاله تجارتي ده ... کښې خاص کر چې دا به د ترکمانستان نه د افغانستان په لاره پاکستان ته ګنګه رانیږي او ټول هیوادونه غواړي چې دا پائپ لائن دې زمونږ په لاره تیر شي چې زمونږ اقتصاد ترقي وکړي روس هم د ځان نه کښې یوتلل نه غواړي. تهران خپله ګټه غواړي چې پائپ لائن د دوی په خاوره تیر شي. ده وویل چې ټول د خپلو ګټو د پاره کار کوي. روس غواړي چې د مسعود په لاس بې امني راولي څو د پائپ لائن د تیریدو د پاره امن ضروري دے. د دې سوال په ځواب کښې چې تاسو په افغانستان کښې کوم قسم نظام غواړئ ده وویل چې د امن نه پس د هیواد د پاره ضروري ده چې ډېر ګوندیز پارلیماني نظام راوستل شي ګنې په منطقه کښې تاسن کښې شوې مسئله هم ګډوډ بدلے شي.

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو د روميې ورځپانه

MEMBER APNS

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

ورځپانه وحدت پېښور

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

بیعه څلور (4) روپۍ

د جمعې ورځ، ۵ ربیع الاول ۱۴۱۸ ه ق، ۲۰ چونګاښ (سرطان) ۱۳۷۶ ه ش، 11 جولائی 1997ء، 27 هاړ 2054 بکرمي، جلد 12، شماره 186

## د پښتنو د یووالي ورځ په "المان" کښې ونمانځل شوه

### پوزر کسانو پکښې برخه واخسته، محمد افضل خان پکښې مشر میلمه و

## پښتون قام د یو وجود حیثیت لري، غونډې ته د افضل خان خطاب

کولون (پ ر) د پښتنو تولنیز اولسولیز گوند د پښتنو د یووالي ورځ د جولائی د میاشتې په پنځمه نیټه د المان په کولون ښار کښې ونمانځله. په غونډه کښې د زرونو زیاتو کسانو برخه لرله. د گوند مشر ډاکټر کبیر ستوري د هر کلي وینا وړاندې کړه. ډاکټر شیر افضل کردیوال د گوند د جرگې لخوا مقاله وړاندې کړه. په دې موقع د پښتون قامي وحدت لارښود او د پښتونخواه قامي گوند مشر خان لاله محمد افضل خان چې د پښتنو تولنیز اولسولیز گوند په بلنه د یووالي د ورځ د پاره المان ته راغلې وو خپله وینا کښې ووئیل چې پښتون قام د یو وجود حیثیت لري او ترڅو چې د دغه وجود تقسیم شوې برخې یو ځائي نه شي ترهغې په منځنۍ اسیا او افغانستان کښې امن نه شي قائمیدې. په دې موقع د پښتنو د تولنیز اولسولیز گوند مشر کبیر ستوري ووئیل چې طالبان دا وخت د افغانستان د مفاداتو د پاره کار کوي او زموږ گوند د هر هغه چا حمایت کوي چې د ملي مفاداتو د پاره کوي. ده ووئیل چې د پاکستان او افغانستان ملي مفادات گډ دي. نو ځکه د یو غېږ وحدت یا منطقوي اتحاد په چوکاټ کښې د پښتونخواه د ننه او بهر د پښتنو د یووالي سوچونه روان دي. زه د پښتنو پوهانو څخه هیله کوم چې د منطقوي اتحاد په چوکاټ کښې د پښتنو د یووالي په شکلونو او سوڼلونو خبرې او غور وکړي.

جمعه ۱۱ جولائی ۱۹۹۷ء

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

وحدت

د پښتنو د یووالي ورځ

# د نصر الله خان نصر 35 م تلین ونمانځل شو

په دې اړه د خليل عوامي اتحاد لخوا په دستوره غونډه وشوه، مقررينو د مرحوم په ژوند رڼا واچوله

پېښور (وحدت خبريال) د شهيد نصر الله خان نصر د شهادت پنځه ويشتم تلين پرون د خليل عوامي اتحاد د ثقافتي ځانګې لخوا په ځانګړو مراسمو سره په بر تاکال کښې ونمانځلی شو او د مرحوم نصر په فرهنګي شخصيت رڼا واچول شوه. د غه غونډه چې صدرات ئې حاجي يوسف علي خليل او مشر ميلمه يکښې د وحدت ورځپاڼې رئيس پير سيد سفيد شاه همدرد ؤ. د قران کريم د څو

باقي صفحه ۵ کالم ۸

باقي :: نصر تلين

مبارکو اياتونو په تلاوت سره پرانستل شوه وروسته په ترتيب سره ډاکټر هدايت الله، پير سيد سفيد شاه همدرد ، صابر شاه صابر، ډاکټر کبير ستوري، ملک محمد خليل، نوبهار شاه خليل، ارباب مسعود خان، احمد علي عاجز او نورو خبرې وکړې او پښتو ژبې او پښتو ادب ته د مرحوم نصر د خدمتونو په اړه ئې مطالب څرګند کړل. وينا والو ووئيل چې نصر الله خان نصر په خپل وخت پښتو ژبې او پښتو ادب ته دومره خدمت کړے دے چې دا وخت ئې په لره او بره پښتونخوا کښې خپل ادبي مقام ساتلے دے. وينا والو ووئيل چې نصر په دې برسيره چې وتلے شاعر، اديب او ليکوال ؤ د پښتو ژبې د تعميم او رواجولو دپاره ئې شپه او ورځ په ځان يوه کړې وه. نصر الله خان نصر د نولس سوه درې شپېته کال د نومبر د مياشتې په دوه ويشتمه نېټه په شهادت رسېدلے ؤ او دا څلورسمه غونډه ده چې د دغه مرحوم په ياد کښې جوړيږي، د غونډې په پائي کښې يوه مشاعره هم وشوه او د اروا ښاد د شاعرۍ او فرهنګي شخصيت په باره کښې ګڼو شاعرانو خپل شعرونه واورول.


وحدت
ورځپاڼه
MEMBER APNS
THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN
ABC CERTIFIED
پېښور
چيف ايډيټر
پير سفيد شاه همدرد

ABC CERTIFIED
THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN
MEMBER A.P.N.S

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه
پېښور
ورځپاڼه
# وحدت
چيف ايډيټر
پير سفيد شاه همدرد
رجسټرډ پي نمبر 27

دوشنبه (پير) ورځ، 17 صفر المظفر 1426هـ ق، 8 وری (حمل) 1384هـ ش
28 مارچ 2005ء، 14 چيتر 2061ب، جلد 30، شماره 84، بيعه 4 روپۍ

نړیوال پښتو ادبي کنونشن غوښتنه

# پښتو دې رسمي ژبه وګرځول شي

**پښتنو ته دې په دې خاوره دخپل ملي شناخت حق ورکړې شي او دصوبه سرحد نوم دې پښتونخوا کېښودې شي**

**افغانستان کښې د یورېنیم زده کسانو دوړیاعلاج بندوبست دې وکړې شي او په افغانستان دې نورې بمبارۍ بندې کړې شي**

**پښتو دې تر لسمه نصاب کښې شامل او لسم نه څوارلسم پورې دې لازمي مضمون وګرځولې شي**

**دپښتو داستاذانو په خالي اسامیو دې بهرتي وکړې شي ، په ټي وي او ریډیو دې دپښتو پروګرامونو وخت سیوا کړې شي**

**نړیوال پښتو ادبي کنونشن کښې په دوهمه ورځ په سلګونو کسان شامل شول ، په مختلفو موضوعاتو مقالې وړاندې کړې شوې**

پېښور (ضیا فاروق فراق) پښتو ته دې په دې خاوره کښې دخپل ملي شناخت حق ورکړې شي . او دصوبائي اسمبلۍ لخوا دمنظور شوي قرارداد مطابق دې دصوبه سرحد نوم په پښتونخوا بدل کړې شي ، صوبائي حکومت دې داسمبلۍ دقرارداد احترام وکړي او پښتو دې په دې صوبه کښې رسمي او سرکاري ژبه وګرځول شي ، دا غوښتنه په پېښور کښې دجوړ شوي پښتو عالمي ادبي کنونشن په دوهمه ورځ دکنونشن لخوا منظور شوو قراردادونو کښې شویده ، په قرارداد کښې ووئیل شول چې تېر دور کښې ددې صوبې منتخبې اسمبلۍ دصوبې دنوم بدلولو قرارداد په درونده اکثریت سره منظور کړو او غوښتنه ئې وکړه چې دپښتنو سیمې ته دخپل ملي شناخت په توګه دپښتونخوا دنوم اېښودو حق ورکړل شي ، لهذا اوس دحکومت قومي، اخلاقي او آئیني ذمه واري جوړېږي چې ددې صوبې دمنتخبې اسمبلۍ دغه غوښتنه ومنې او دصوبه سرحد نوم په پښتونخوا بدل کړي . قرارداد کښې دا هم ووئیل شول چې څونکې دپښتونخوا په حواله قرارداد دسرحد اسمبلۍ نه منظور شوېدې ځکه نو ددې صوبې دحکومت اخلاقي . او قومي ذمه واري جوړېږي چې دخپلې اسمبلۍ دغوښتنې په احترام دصوبې ټولو سرکاري دفترونو او محکمو کښې دې لیکل لوستل په پښتو ژبه کښې کړي . او هم دې پښتو ددې صوبې سرکاري او رسمي ژبه وګرځول شي ، یو بل قرارداد کښې غوښتنه وکړې شوه چې دګورنر فضل حق مرحوم په کوششونو تېر وخت کښې پښتو تر پرائمري کچ پورې لازمي ګرځول شوې وه خو وروستو بیا پښتو دتعلیمي نصاب نه وویستې شوه ځکه نو دا کنونشن غوښتنه کوي چې پښتو دې تر لسمه پورې نصاب کښې شامل او دلسم نه څوارلسم پورې دې لازمي مضمون وګرځول شي . همدا شان غوښتنه وشوه چې بلوچستان کښې دې دلمرۍ نه تر لسم پورې تعلیمي نصاب کښې دپښتو مضمون لازمي کړې شي او هم دې دپښتونخوا صوبې په ټولو پرائیویټ او سرکاري تعلیمي ادارو کښې پښتو دیو مضمون په توګه لازمي وګرځول شي ، بل قرارداد کښې غوښتنه وکړې شوه چې په کومو کالجونو کښې دپښتو داستاذانو او دپښتو خالي اسامي دي هغه دې ډکې کړې شي ، بل قرارداد کښې غوښتنه وشوه چې صوبائي حکومت دې دپښتو سیمو نو مونه نورو ژبو ته نه اړوي او هرې سیمې ته دې دخپل پښتون شناخت حق ورکړل شي کنونشن دا

باقي صفحه 2 کالم 1

ABC CERTIFIED | THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN | MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبی ورځپاڼه

پېښور

ورځپاڼه

# وحدت

چیف ایډیټر

پیر سفید شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

یکشنبه (اتوار) ورځ 29 شعبان المعظم 1424 هـ ق، 3 لړم (عقرب) 1382 هـ ش
26 اکتوبر 2003ء، 8 کتک 2060 ب، جلد 28، شماره 294، بیعه 4 روپۍ

## اکاډمي ادبیات ډاکټر کبیر ستوري له مېلمستیا ورکړه

**د افسوس مقام دے چې خارجي ملکونو کښې د پښتو د ودې هڅې کېږي او پښتونخوا کښې نه، ستوري**

پېښور (وحدت خبریال) اکاډمي ادبیات پېښور څانګې پرون د نوموړي قوم پرست مشر او شاعر کبیر ستوري په درناوي کښې مېلمستیا ورکړه. په دې موقع ډاکټر فضل دین خټک د پښتو اکېډمي ډائریکټر راج ولي شاه خټک د اکاډمي ادبیات ریزیډنټ ډائریکټر سیدولي خیال د پي ټي وي سینټر

باقي صفحه 5 کالم 5

**باقي اکاډمي ادبیات**

پروډیوسر عزیز اعجاز، لیاقت علي سیماب او نوموړے پروډیوسر لائق زاده لائق هم موجود وو په دې موقع کبیر ستوري ووئیل چې په خارجي هیوادونو کښې د پښتو ژبې د پرمختګ د پاره عملي کارونه کېږي خو د افسوس خبره ده چې پښتونخوا کښې د پښتو ژبې د خدمت د پاره ټولې جذبې سړې شوې دي. ده دا هم ووئیل چې پېښور د پښتو ادب مرکز دے او هم دې ځائي ته د ادب پلوشې خورېږي او مونږ د دې ځائي په لیکوالو باندې فخر کوو

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملك كښې د پښتو وروميې ورځپاڼه

ورځپاڼه پېښور

# وحدت

چيف ايډيټر

پير سفيد شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

جمعه ،26جمادي الثاني، 1422 هـ ق،23تله،1380هـ ش

14ستمبر 2001 ،1اسو، 2058 ب،جلد 26 ،شماره251 ،بيعه 4روپۍ

افغانستان كښې امن نه بغير

# منطقه كښې امن نۀ شي قائميدے، افضل خان

## افغان اولس د هر استعمار په نره مقابله كړيده، د نړۍ يو قوت هم په افغانانو خپله زورګيري نۀ شي تپلے

## پښتانۀ په هر څۀ پوره دي ولې ديو اتفاق ورسره سخت كمے دے، همدغه يې اتفاقي مونږ ډلو كښې ويشلي يو

## امريكا كښې دشوې دهشت ګردۍ غندنه كوو، د تشدد په ذريعه مسئلې نۀ شي هواريدے، جرمنۍ كښې خطاب

جرمنۍ (وحدت خبريال) ديښتونخوا قامي پارټۍ مشر او قام پرست رهنما افضل خان لاله خواك چې په جرمنۍ كښې د پښتون سوشل ډيموكراټيك پارټۍ په بلنه داو خت دخپې يورپي هيوادونو په دوره دے ورمه ورځ د جرمنۍ په

منشن ګلابخ ښار كښې په يوه درنه غونډه كښې ګډون وكړو دا غونډه ډيوهاند ډاكټر محمد قاسم جعدر له خوا جوړه كړے شوې وه چې پكښې دنورو ګڼو روښتفكرانو نه علاوه زلمى هيواد مل هم ګډون وكړو په دې موقع غونډې ته په خپله وينا كښې محمد افضل خان لاله ووئيل چې زمونږ دټولو محروميانو او وروستو پاتې كيدو بوازينۍ وجه

داده چې مونږ ديو قام په حيث خپله پيژندګلوي نه لرو پښتانه په هر څه پوره دي ولې ديو اتفاق ورسره سخت كمے دے هم دغه يې اتفاقي مونږ په بيلو بيلو ډلو كښې ويشلي يو ده پاته كړه چې پښتون ديو وحدت نوم دے ولې دغه وحدت زمونږ نه يو استعماري قوت په چل ول او دهوكه اخستے دے نن كه مونږ دخپلو محروميانو دحل خبره كوو نو ددې دپاره ضروري ده چې مونږ خان وګڼو

خپل كورو ګڼو څكه چې افغانستان دنړۍ په داسې خاې كښې پروت دے چې د هرلحاظ سره اهميت لري څكه خو ورته علامه اقبال د ايشيا زړه وئيلى دى ترڅو پورې چې په افغانستان كښې امن نه وي نو ټوله منطقه كښې امن نشي راتلے قام پرست مشر ووئيل چې افغان اولس دهميشه راسې ازاد پاتې شوے دے او دخپلې تورې او ميړانې په وجه ئې دهر جارح او استعمار قوت مقابله كړې ده په غونډه كښې شريكو پوهانو د پښتون قامي وحدت دپاره د افضل خان لاله كوششونه وستائيل په يوه بله غونډه كښې چې ديښتون سوشل ډيمو كراټيك پارټۍ له خوا په فرانكفورټ كښې جوړه شوه هم ډيره مهمه غونډه وه غونډې ته دپارټۍ دفرانكفورټ دڅانګې دمشر لاله اقبال نه علاوه دګوند مشر ډاكټر كبير ستورى ، محمد شرين ګرديوال حاجى فضل الرحمان شير ، مبارز صافى، عزيز سر شار او

نصير ستوري وينا وكړه په دې موقع افضل خان لاله يو ځل بيا پښتون قام ته په كلكه دا غږ اوكړو چې په نړۍ واله سطح دبدليدونكو حالاتو په تناظر كښې اوس پښتون قام ته دخپل مستقبل په حقله سوچ پكار دے څكه چې ترڅو مونږ داسې تالا واله يو نو دنړۍ دقامونو سيالى نشو كولے افضل خان لاله ووئيل چې د افغانستان دموجوده حالاتو ذمه واري زمونږ په سر ده ګنې دنړۍ يو قوت په افغان اولس خپله زور ګيري نشي منلے دلته كه انګريز راغلے دے او كه چنګيز ماتې ئې خوړلې ده او په شا تښتيدلے دے قام پرست مشر ټولو افغانانو ته غږ وكړو چې دقامي وحدت دپاره خپلې هلې ځلې تندې كړي افضل خان لاله دجرمنۍ نه علاوه په هالينډ ، بلجيم ،فرانس او نورو يورپي هيوادونو كښې دپښتنو روښتفكرانو سره ليده كاته كوي دا ټولې جرګې دغه قامي جرګې كړي دي دكومې ابتداء چې دپېښور نه شوې ده بلخوا ديښتونخوا پارټۍ مشر افضل خان لاله اويه جرمنۍ كښې ديښتون سوشل ډيمو كراټيك

پارټۍ مشر ډاكټر كبير ستوري په امريكا كښې د داره مارۍ او تخريب كارۍ موجوده اقدام ډير په كلكه غندلے دے دوى په خپله يوه شريكه اعلاميه كښې وئيلي دي چې دداره مارۍ او تخريب كارۍ دا كارونه كله هم د اولس په ګټه نه تماميږي دوى وئيلي دي چې څينې مذهبي ډلې او څينې انتها پسند ګوندونه دداسې اقداماتو سرپرستي كوي كومه چې ډير خطرناكه او دغندنې وړ خبره ده څكه چې د تشدد د لارې دمسئلو حل نه شي راوتلے په شريكه اعلاميه كښې د امريكې د بې ګناه وژل شوو كسانو په وژنه د ډير غم او درد اظهار شوے دے څكه چې انسان وينه هر چرته توئيدنه دښې نيتجې نه وركوي په داسې حال كښې دوارو مشرانو پښتون اولس ته غږ كړے دے چې ديو پرامنه او خوشحاله ژوند دپاره دې ددوى دجمهوري قوتونو مرسته وكړي څكه په عالمي سطحه دبدليدونكو حالاتو تقاضا هم دغه ده چې جمهوري فكر ته وده وركړے شي او دخپلې خبرې سره سره دپل خبره هم واوريدلے شي

وحدت

چیف ایډیټر وپبلشر پیر سید سفید شاه همدرد ورځپاڼه "وحدت" دپاکستان دحکومت
په تصدیق دوحدت پریس خیبربازار پیښور نه چهاپوی، ایډیټر پیر حمدل شاه
ایډیټر: ظفر علی شاه ګیلانی، پته: ورځپاڼه وحدت ۲۰ اسلامیه کلب بلډنګ
خیبربازار پیښور فون: ۲۱۴۰۳۴ ۲۱۴۱۵۴ فیکس ۲۱۴۲۳۱
Emile: wahdatapes.comsats.net.pk

جمعه ۱۷ اکتوبر ۲۰۰۳

17 Oktober 2007

# د افغانستان دپښتنو دحقونو غم پکار دے شي سلیم سیف الله

د ډیورنډ د کرښې نه وړاندې

که د پښتنو د قامي وحدت او حقونو دپاره قامي جرګه جوړېږي نو ددې دپاره زما ګوند دافضل خان په مشرۍ کار کولو ته تیار دے

پېښور (وحدت خبریال) دمسلم لیګ (ق) مرکزي سېکرټري سلیم سیف الله خان وئیلي دي چې پښتنو ته الله تعالی هرقسمه صلاحیتونه او وسیلې ورکړیدي خو د دوی کمزوري دا ده چې هرڅوک خان لیډر ګڼي او د نورو مشري نه مني که چرې دپښتنو دقامي وحدت او حقونو دپاره قامي جرګه جوړېږي نو دې دپاره زه او زما جماعت د افضل خان لاله په مشرۍ کښې کارکولو ته تیار یو. پېښور پریس کلب کښې دوه ورځې قامي جرګې ته دتقریر په وخت دهٔ ووئیل چې دپښتون قام دترقۍ او خوشحالۍ دپاره دپښتنو ترمېنځ اتحاد او اتفاق د وخت اهم ضرورت دے دهٔ ووئیل چې ما او زما کورنۍ دپښتنو خدمت کړے دے دنورو په شان

موټره خپلې کارخانې پنجاب او کراچۍ کښې نه دي لګولې بلکې دلته مولګولې دي او د دې ځای خلق پکښې روزګار کوي زهٔ په دې فخر کووم چې زهٔ دپښتون او مسلمان کور کښې پیدا شوے یم دهٔ ووئیل چې دپښتنو د خیرو کولو په وخت موټر له کراچۍ او پنجاب کښې اوسیدونکي پښتانه هم یاد ساتل پکار دي دهٔ ووئیل چې د ډیورنډ کرښې نه وړاندې دافغانستان موجوده حالاتو کښې د دغه ځای پښتون اکثریت له دصحیح نمائندګۍ ورکولو دپاره اقدامات کول پکار دي دهٔ ووئیل چې حامد کرزے که هرڅه دے خو پښتون دے او جنرل مشرف په دې وجه دستاینې وړ دے چې اولس او افغان حکومت سره مرسته کوي دهٔ ووئیل چې د دې صوبې خلقو پکار دي چې افغانستان سره تجارت او همکاري وکړي په دې به د ډیورنډلائن مسئلې په خپله ختمې شي

17 Oktober 2003

وحدت ورځپانه 18 نوامبر 2003

# پښتون قامي وحدت او ډيورنډلاين

ليکل: شيخ جهان زاده



انګريزانو دتاريخ ، جغرافيې ،سياست اونفسياتو استاذان کښينول چې دافغانانو دوطن قابوکولو دپاره څه منصوبې جوړې کړې هغوی ته دپښتنو خويونه او کمزورۍ ښې معلومې وې نو دپوره غور او تحقيق نه پس دې نتيجې ته ورسيدل چې بې دتقسيم نه دپښتنو بل علاج نشته

پښتنو ته دې دپاکستان په چوکاټ کښې دننه خپل ټول حقوق ورکړے شي

دګندمک معاهده چې امير يعقوب خان سره شوې وه په حقيقت کښې دډيورنډ دمعاهدې بنياد وو

دافغانستان داميرانو سره چې څومره معاهدې شويدي په هغوکښې يکاره شرط داد ے چې دافغانستان امير به په خارجي چاروکښې دبرطانوي حکومت د هدايانو

[illegible]

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه
پېښور
ورځپاڼه
# وحدت
چیف ایډیټر
پیر سفید شاه همدرد
رجسټرډ نمبر ...
شنبه، ۱ رمضان المبارک 1422 هـ ق، 26 عقرب 1380 هـ ش
17 نومبر 2001، 5 مګر 2058 ب، جلد 26، شماره 316، بیعه 4 روپۍ

## حکومت جوړولو حق دې افغان اولس ته ورکړې شي: کبیر ستوری

### د شمالي اتحاد او پخواني باچا د حکومت راوستو هڅې د بشري حقونو په ضد کار ګڼو

### د پښتنو د شمولیت نه پرته نه حکومت جوړېدې شي او نه سیمه کښې ثبات او سوکالي راتلې شي

### د مسئلې د حل لاره داده چې افغانستان کښې د ډېر ګوندیزه پارلیماني ډیموکراسي بحالي کړې شي

پېښور (پ ر) د پښتون سوشل ډیموکراټیک ګوند د اکټر کبیر ستوري په یو بیان کښې وئیلي دي چې زمونږ ګوند د بهرنیو قوتونو لخوا په افغانستان کښې د شمالي اتحاد او پخواني بادشاه محمد ظاهر شاه د حکومت راوستو هڅې د بشري حقوقو په ضد کار ګڼي ځکه چې د شمالي اتحاد قوماندانانو هم پخواني باچا په تیر وخت کښې افغان اولس ډېر دردولے دے بايد چې د حکومت جوړولو حق افغان اولس ته ورکړے شي ده وئیلي دي چې پښتانه په افغانستان دوه شپېته اعشاریه اووه درې او پاکستان کښې دوه ویشت اعشاریه اووه فیصده دي د دوی غم او ښادۍ سره شریکه ده ده زیاته کړه چې د پښتنو د شاملولو نه پرته نه حکومت جوړېدے شي او نه په سیمه کښې ثبات او سوکالي راتلے شي ډاکټر کبیر ستوري وئیلي دي چې د افغانستان د لانجې حل او په منطقه کښې امن او ثبات د پاره تر ټولو ضروره لاره په افغانستان کښې د ډېر ګوندیز پارلیماني ډیموکراسي بحال کول دي د دې هدف د پاره پښتون سوشل ډیموکراټیک ګوند د لوئې جرګې د راغوښتلو وړاندیز کړے وو دې لاندې ټکو ته پاملرنه ضروري ګڼي. ملګري ملتونه دې په سیمه کښې مېشته سلو تنو نامتو پښتنو مشرانو ته بلنه ورکړي چې دوی د پښتونولۍ د دود او دستور مطابق لویه جرګه راوغواړي. لویه جرګه دې پښتنې سیمه کښې جوړه کړے شي او د دې لګښت دې ملګري ملتونه په غاړه واخلي. د پښتنو په هره ضلع کښې د ډېري مودې راسې د جرګو مرکزو عنعنوي سیستم شته لوئې جرګې ته دې د سیاسي، مذهبي، قومي مشران او د دې سیمه ایزو جرګو نمائنده ګان راوغوښتل شي د الویه جرګه دې د عنعنوي سیمه ایزو جرګو د نمائنده ګانو څخه یو موقتي پارلیمان جوړ کړي او هم دې دې سیمه ایزو جرګو ته دنده ورپه غاړه کړے شي چې په خپله سیمه کښې امن ټينګه کړي بايد چې دا پارلیمان موقتي حکومت وټاکي او دا حکومت ملګري ملتونه په رسمیت وپېژني او د افغانستان څخه بندیزونه پورته کړي دا پارلیمان او حکومت بايد په ټاکلې موده کښې اساسي قانون جوړ کړي چې د ډېر ګوندیز پارلیماني ډیموکراسي بنه ولري او د تائید د پاره ئې لویه جرګه راوغوښتل شي شمالي اتحاد ته هم پکار دي چې د خپل نفوذ د تمبر سره سم لوئې جرګې یا پارلیمان ته خپل نمائنده ګان ولیږي. ملګري ملتونه دې د افغانستان د بیا ودانۍ او د اروپا د اتحاد په شان د ګډې اقتصادي ټولنې جوړولو د پاره ډالرې برابرولو ذمه واري په غاړه واخلي تر څو د مرکزي ایشیا اولسونه دوررولي په فضا کښې د خپلو تیلو، ګیس، او نورو ذخیرو څخه استفاده وکړي او د تجارت او تګ راتګ ازادي رامینځ ته شي. ده هیله څرګنده کړې ده چې ټول دوست هېوادونه به د سولې د دې نوښتن په عملي کولو کښې مرسته وکړي. ځکه چې دې عمل سره به افغانستان او مرکزي ایشیا کښې سوله د واو ور شي ده د امریکې څخه هم غوښتنه وکړه چې نور به افغانستان بریدونه بند کړي ځکه چې د بې ګناه افغانانو وژنه ترڅېول نه اخلاقي او نه قانوني جواز لري او نه داره ماري حل کولے شي بلکې دې سره به د امریکا په ضد کرکه او نفرت نور هم زیات شي

ورځپانه

بانۍ: پیر سید سفید شاه همدرد

# وحدت

ایډیټر: سید هارون شاه

پېښور


ورځپانه — THE DAILY WAHDAT PESHAWAR — پېښور

وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد


## پښتون قامي وحدت او د افغانستان موجوده وضعه

لیک: محمد افضل خان
(بخوانی وفاقي وزیر)

### پاکستان د پښتون قام بوّوالی ته تیار نه دے


THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبې ورځپانه

MEMBER APNS


### دوو زرو بې ګناه طالبانو وژل د مهذبې دنیا په مخ سپېره ده

### پښتانه قام پرست مشران په کوم دلیل د برهان الدین رباني مرسته کوي؟



### ګلبدین حکمتیار په ایران کښې ناست دے او په پاکستان تورونه لګوي

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

پېښور ورځپاڼه

# وحدت

چيف ايډيټر

پير سفيد شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

پنجشنبه (زيارت) ۲۰ صفر ۱۴۲۱ هـ ق، ۵ اولاے (جوزا) ۱۳۷۹ ش، 25 مئی ۲۰۰۰ع ۱۵ جيټ ۲۰۵۷ ب، جلد ۵۲، شماره ۱۳۶، بيعه ۳ روپی

## د روس بريدونه به بې ځوابه پاتې نهٔ شي، کبير ستورے

### روسيه زمونږ د پخوانۍ جګړې د تاوان بوره وړې ده

پېښور (ب ر) د پښتون سوشل ډيموکرېټک ګوند مشر ډاکټر کبير ستوري په افغانستان د روسانو لخوا د توغندېو د حملو ګواښ غندنه کړېده او ويلي ئې دي چې د داډول بريدونه به بې ځوابه پاتې نهٔ شي. چې د اورلېږي به ئې نهٔ يوازې روسيه درې ورې کړي بلکې ټوله سيمه به بې ثباته کړي. پرون يو مطبوعاتي بيان کښې ده ووئيل چې روسيه زمونږ د پخوانۍ جګړې د تاوان بوره وړې ده. د روسې جمهور رئيس ته پکار دى چې پخوانۍ بوره ور کړي او ځان نور بوره وړے نکړي. ده ووئيل چې روسيه هڅه کوي چې د منځنۍ اسيا خپلواک هېوادونه بيا په بلې طريقې د خپل جج لاندې راولي. او د هغوى په

پاتې صفه ۵ کالم ۱

پاتې :: کبير ستورے

شتمنيو چې اوس ورته بازار پيدا شوے دے قبضه وکړي. کبير ستوري ووئيل چې روسيه يوخوا د مسعود په واسطه په افغانستان کښې ناراسې جوړوي او د بلې خوا د منځنۍ اسيا خپلواک هېوادونه لسوي او د طالبانو حکومت سره ئې په جنګ اچوي حال دا چې طالبان يو سوله خوښوونکے ځواک دے. ده ووئيل چې د منځنۍ اسيا هېوادونه چې د روسې لسون ونهٔ مني. او د افغانستان اسلامي امارت سره چې د برخهٔ ورسره شريک دي د خپل مفاداتو نه دفاع وکړي او د نړۍ د نورو منطقو په شان اقتصادي ټولنې کښې سره راټول شي.

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبی ورځپاڼه

ورځپاڼه پېښور

# وحدت

چیف ایډیټر
پیر سفید شاه همدرد

رجسټرډ نمبر 27

سه شنبه (نهی)، 14 رجب المرجب 1422 هـ ق، 9 میزان 1380 هـ ش
2 اکتوبر 2001، 19 اسد، 2058 ب، جلد 26، شماره 269، بیعه اروپۍ

# د ظاهرشاه راوستل به سیمه لویې کشالې سره مخ کړي. کبیر ستوری

## هرڅوک ظاهرشاه په خټه پښتون دے خوپخپل ځلوبښت کلن دور کښې نې پښتانه ټګولی دی

## نن دجمهوري قوتونو دقدرت دور دے ځکه نو منطقه کښې دې دمستقل امن دپاره دجمهوري نظام دجوړښت لاړې برابرې کړے شي

پېښور (وحدت خبریال) په جرمنی کښې دپښتون سوشل ډیموکراتیک ګوند مشر ډاکټر کبیر ستوری په خپل یو بیان کښې دامریکې او افغانستان د حکومتونو نه دا غوښتنه کړېده چې د اوسنی لانجې او غلط فهمی حل دخبرو اترو او سولې د لارې مینځ ته راوړی چې دغه شان د افغانستان عام اولس د جګړو په اور کښې ونه سوزی. ده زیاته کړېده چې پوره شپته صدی دامن اوسولې پیری ده چې په کښې د هېوادونو ترمینځه فاصلې رالنډېږی په داسې حال کښې به په افغانستان باندې جنګه ورتپل کومې چې نتیجې رابرسیره نه کړی ډاکټر کبیر ستوری زیاته کړه چې که چرې په طالبانو باندې دغرېی هېوادونو له اړخه بندیزونه نه وے لګول شوے او دوی لکه د نورو خپلواکو هېوادو په رسمیت پېژندل شوے وے نو دغه حالات به چرې هم نه مینځ ته نه راتلل ځکه چې پښتانه فطري طور امن خوښونکې قام دے دپخوانی باچا محمد ظاهر شاه افغانستان ته د بیا راتګه په بابله کبیر ستوری ووېل چې که هر څو ظاهر شاه باچا په خټه پښتون دے ولې د اولس داسې د خپلې ژبې خپل کلتور، خپلو روایاتو او خپلې "پښتو" نه پردے پاتې شوے دے او تردې چې په پښتو ژبه هم نه پوهېږی دغه باچا نه صرف دا چې په خپله ځلوبښت کلن دور کښې پښتانه ټکولی دی بلکې د پاکستان سره نې هم په څرګنده ډول دښمنی کړېده هم دغه دښمنی وه چې د پاکستان او افغانستان د پښتون ترمینځ نې فاصلې پیدا کړې. ده د شمالی اتحاد او د ظاهر شاه ترمینځ د رابطو په حواله ووېل چې کوم لوړ قوماندانانو دشمالی اتحاد په مرسته محمد ظاهر شاه دوباره په افغانستان مسلط کړو نو په دې منطقه کښې به یوه داسې شخړه رامینځ ته شی چې بیابه نې څوک هم په حل نه پوهېږی ځکه د افغانستان د ابادی لویه برخه پښتانه او پښتانه کله هم په خان باندې کم شمېره ولې زورګیری نه شی منلے. ډاکټر کبیر ستوری ووېل چې نن سبا د جمهوری قوتونو د قدرت دور دے نو ځکه په داوی چې په دې منطقه کښې د مستقل امن دپاره دجمهوری نظام دجوړښت لاړې برابرې شی. او پښتون اولس ته دجمهوریت د بیرغ لاندې د ژوند تېرولو موقع ورکړلے شی څو د تېرو پنځویشتو کالو راسې اولس نور د کړاونو سره مخ نه شی ځکه چې د افغانستان ناقراری ده ددغه اټل حقیقت په تناظر کښې باید امریکا دافغان حکومت سره نیغ په نیغه د خبرو سلسله پیل کړی چې د څه مودې راسې ددې غیر یقینی صورت حال څه نتیجې رابرسېره شی او ددې منطقې عام وګړی د سکون ساه واخلی.

وحدت

سه شنبه (نهی) ۲ اکتوبر ۲۰۰۱

Emille: wahdat@pes.comsats.net.pk

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبې ورځپاڼه

ورځپاڼه پېښور

وحدت

چیف ایډیټر
پیر سفید شاه همدرد

جمعه ۲۴ شعبان ۱۴۲۰ ه ق، ۱۲ قوس (لمریز) ۱۳۷۸ ش،
۳ دسمبر ۱۹۹۹ء، بکرمي ۲۰۵۶ ب، جلد ۲۴، شماره ۳۲۸، قیمت ۳ روپۍ

# د ټولو پښتنو اتحاد غواړو، هدایت بنګش

## د روم او جرمني غونډې افغانستان کښې هېڅ بدلون نه شي راوستې

## افغانستان کښې امن راتلل دوخت اهمه غوښتنه ده، اخباري خبرې

پېښور (این این ائی) د پښتون سوشل ډیموکریټک پارټي جرمني نشر سکتر، هدایت الله خان بنګش وئیلي دي چې روم او جرمني کښې شوې افغاني غونډې افغانستان کښې هېڅ بدلون نه شي راوستې، دا غونډې بوازې د پښو ضایع او د تعلیم یافته او بااثرو افغانانو د مصروف ساتلو بهانه ده، دې سره د هغو ټرلو په ځائې باید ټول افغانان طالبانو سره مرسته مکګرتیا وکړي ولې چې طالبان د افغانستان اصل واکمن دي. د افغانستان په پنځه نوی فیصده خاوره کنټرول لري او د وسله والو کسانو نه ئې وسله ټوله کړې ده. پېښور کښې اخباري نمائندګانو سره د خبرو کولو په وخت ده وویل چې زمونږ د تنظیم مقصد جرمني کښې موجود ټول پښتانه متحد کول دي چې د هغه شان دوی خپل تشخص او روایات ژوندي وساتي. ده وویل چې مونږ د افغانستان او پاکستان ترمینځه د ډیورنډ لائن په نوم راکښلې کرښه نه منو، مونږ د ټولو پښتنو اتحاد غواړو که هغوی لر اوسېږي یا بر اوسېږي. ده زیاته کړه چې زمونږ تنظیم جرمني کښې د پښتو یو سکول چلوي چرته چې پښتو ژبه ښودلې کېږي، او جرمن پښتو ډکشنري او جرمني کښې د پښتو ژده کولو کتابونه خپروي او ددې کافي مثبت اثرات راڅرګند شوي دي. د یوې پوښتنې په ځواب کښې ده وویل چې کال اتلس سوه درې نوی کښې د نومبر په دولسمه نیټه چې انګریزانو د ډیورنډ لائن کومه معاهده کړې وه هغه د انګریزانو تللو سره بحیله ختمه شوې ده او دسلیزې په پوره کیدو سره مونږ جرمني کښې د پښتنو دنیا یو والي ورځ نمانځلې ده. افغانستان کښې د بهرني لاس وهنې په حقله ده وویل چې ترڅو افغانستان کښې بهرني لاس وهنې کیږي. نو ددې بد اثرات به په ګاونډیو هېوادونو هم پرېوځي. ده زیاته کړه چې داوخت ټوله جګړه اقتصادي ده ایران، پاکستان، ترکي او افغانستان ټول غواړي چې د ازبکي پائپ لائن دې د دوی حدودو کښې تېر شي. د یوې پوښتنې په ځواب کښې ده زیاته کړه چې افغانستان کښې امن راتلل دوخت اهمه غوښتنه ده. ده زیاته کړه چې افغانستان کښې امن او مستقل نمائنده حکومت قائمیدو دپاره دې افغانستان کښې د کلیو په کچ جرګې راوغوښتې شي چې دوی نمائندګان غوره کړي او چې کله دا لړۍ مکمل شي نو بیا دې لویه جرګه راوغوښتې شي او د نمائنده حکومت د قیام دپاره دې کوشش وکړې شي. د یوې بلې پوښتنې په ځواب کښې ده وویل چې مونږ خپل تنظیم کښې د پاکستان او افغانستان پښتنو ته برابره نمائندګي ورکړې ده او داوخت ددې تنظیم صدر د افغانستان او نشر سکتر د پاکستان دے.

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN
ABC CERTIFIED
په ټول ملک کښې د پښتو د رومبې ورځپاڼه
MEMBER APNS
ورځپاڼه
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR
پېښور
وحدت
چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد
[illegible]

# د محمد افضل خان «قامي وحدت»

لیک: ډاکټر محمد اعظم اعظم

د پاغلي محمد افضل خان (خان لالا) نامه د شلمې صدۍ د پښتو په هغه مشرانو کښې راځي، چې د ازادۍ نه پس په فکري او عملي توګه د قام او وطن خدمت نه راوتلي دي، او په دغه ازغنه لار کښې ئې د هر قسمه کړاوونو او قربانو له غاړه ور کړې ده. په پاکستان دننه د پاکستاني اولس د خوشحالي او سوکالي د پاره د سیاست په میدان کښې د هغه هلې ځلې عموما د پښتون قام د ترقي او د ملي تشخص د پاره کلو په لړ کښې د هغه برلنه بسر زیارونه څۀ پټ پناه نۀ دي.

په دې وطن کښې د جمهوریت دودې او جمهوري اصولو د پرمختګ په تحریکونو کښې چې د ځینو کوم سیاسي مشرانو په عملي توګه په بوټه ماتیدونکي تسلسل د ډېر لږ اخلاصه سره خپل جهاد جاري ساتلے دے، او د خپلو کوښلو او پاکو اصولو په سنګر باندې پاخه ولاړ باقي شوېدي په هغو کښې د خان لالا نامه په سر کښې راځي.

د قامي سطحې د بولنيز شوې لیډر په حیثیت که هغه بوخوا د پاکستان د هرې علاقې د ژبنو طبقو د جمهوري او ائیني حقونو د پاره د حق او صداقت نعره پورته کړې ده نو بل خوا هغه د هغو حلقو د بې اروې زړاهم بې وار کوښې زولې ده د هغوی د پاره ئې د انصاف غوښتنه کړې ده د کومو سره چې د هغه علاقه ده. په ساده ډول افضل خان بوکوټلے پښتون فطرت لري. او د غه پښتون سراج عمر له په خپلو ائیني حدونو دننه د پښتو د حقونو او د هغوی د ملي او کلتوري تشخص د بقاء د پاره جنګېدلے دے.

په روانه پېړۍ کښې چې پښتون قام د سیاست په میدان کښې کوم لوسوري مفکرین رازېږولي دي. د افضل خان نامه په هغو کښې د ډېره هسکه او جوته ده.

خان لالا وخت په وخت هم د تقریر او هم د تحریر په ژبه د تاریخي

نور په دوهم مخ

اتوار (یکشنبه) ۳۱ اګست ۱۹۹۷ء
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

باقي: قامي وحدت

شواهدو او ائیني حوالو په ذریعه په پاکستان کښې د خپل قام د پاره د بو باحوره ژوند او سعاه ارزو کړې ده او د هغه د افکارو عملي نادري نمونې د کتابونو او مقالو په شکل کښې زمونږ د نظر وړاندې راغلي دي.

په دغه لړ کښې داورو لے خوندي کتاب "قامي وحدت" د افضل خان د بشېرګ سطالعې په نتائج کښې د هغه د رسا فکر بوبل ژوندے ثبوت دے. دا په بو شکل کښې د پښتون اولس په برو د خور تاریخ او د پښتو د کلتوري اندارو بوه لنډه پېژندګه هم ده او د هغوی د شاندارې ماضي او روښانه مستقبل په حقله د بولسني دستاویز په شکل کښې بوه لوټلی سیاسي مفکوره هم.

د پښتنو د اصل نسل په باره کښې کښې نظرئي وړاندې شو بدي او دي کښو جوړ خبره دي حد په راوسته چې پښتانه بو نا بیلګي بوسلت دے. خو کوم چې دلته راغلي وي په دې کلچر او روایاتو کښې ور کړسه وي. پښتانه هر څوک چې دې وي په دا د محققنو سر خوږے دے. خو پښتانه اوس پښتانه دي بوه ژبه بو کلچر لري او په فطري توګه د بو جغرافيائي وحدت خاوندان دي.

افضل خان خپله دې کتابچه د پښتو قامي وحدت کښې خپل سیاسي فکر چې په کومو تاریخي نښتونه، جغرافيائي او اقتصادي دلائلو او تجربې سره وړاندې کړے دے بوه د ډېره عقلمي ژورتیا او ادبي خوږوالے لري. او د شعور او فهم په رڼا کښې ډېر په اسانه ژر غونډېږي خو خبره د نتیجو د ترلاسه کولو ده، د پښتنو بې اتفاقي بو تاریخي صداقت او نسلي مرض دے. د بایزید روښان نه راواخله تر باچا خان پورې د دې مرض په علاج ډېر کوششونه وشول خو مرض لاعلمي په کښې پروت دے. په موجوده وخت کښې هم د وخت طبیبان د دې زړخوږ په علاج بسې دي خو دا به نه لګي چې مرض به ښه شي او که نه. د هغه د درمان په ارمان کښې به طبیبان هم په کټ پرېوځي

ورځپاڼه پېښور
وحدت
چیف ایډیټر: پیرسفید شاه همدرد
دوشنبې ... ۱۹۹۸ ... جلد ۲۳ شماره ۱۶۸

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

## ډاکټر کبیر ستوري د خپل شعر په هنداره کښې

لیک: لائق زاده لائق

خوبونه هر څوک وینې. خو ځینې خوبونه شخصي وي او ځینې اجتماعي. په شخصي خوبونو کښې د انسان فکر د خپلې ځانې نه چاپېره چورلي او یکښې هاغه څه وینې د کوم څه حصول چې د ده د لاشعور غوښتنه وي. د داسې خوبونو په مقابله کښې اجتماعي خوبونه قامونه وینې لکه د نولسمې صدۍ ... جرمن قام ...

بیا چې کله د پښتون قام د ننګیالو دلاسه د ... پښتنو ... کښې ... شوه ...

> پښتون قام کښې د یووالي احساس ورځ تر ورځې لا پسې پیاوړې کېږي

...

---

ورځپاڼه
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR
پېښور
وحدت
چیف ایډیټر: پیرسفید شاه همدرد
سه شنبې ... ۱۹۹۷ ... جلد ... شماره ...

## د پښتنو یووالي دوخت ضرورت

عبدالکبیر ستوری

پښتانه چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کښې خپاره شوي دي ... د دوی تاریخ ... تقریباً د ... لوړو ... (استعماري) ...

ستې ترېکنې او دښمنۍ پېرېږدي او د خپل هېواد او قوم له پاره د ترقۍ، سوکالۍ او امن لګه لاره غوره کړي او اصلي هویت را ژوندی کړي.

پښتون د یووحدت لوم قوم دی، ... وجود او یووالي ته ... تقسیم کړی دی ...

له دغې هر هغه استعماري طاقت ته چې افغانانو ته ... انګرېزانو ... روسانو ...

...

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبې ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

د پنځشنبې (زیارت) ورځ، ۹ دویمه خور، ۱۴۱۸ هـ ق، ۲۳ زمرے (اسد) ۱۳۷۶ هـ ش، 14-اگست 1997ء، 30 پشکال 2054 ب، جلد 12، شماره 219

# پښتانهٔ یوُد بل نه بیل نهٔ شی پاتې کیدے، افضل خان

## دافغانستان موجوده حالاتو د پښتنو د قامي وحدت لارېرانستې دهٔ، د تباهي په نتیجه کښې نزدې شول

## پښتون نهٔ صرف مذهبي وحدت بلکې علاقائي او کلتوري وحدت هم دے، خپل ځان به ارو مرو کتي

پېښور (پ ر) د پښتونخوا قومي پارټي مشر قام پرست لارښود او پخوانی وفاقي وزیر افضل خان وئیلي دي چې دافغانستان موجوده حالاتو د پښتنو د قامي وحدت لار پرانستي دهٔ. پښتانهٔ پهٔ هر لحاظ د یو وخت یو بل نه بیل نهٔ شي پاتې کیدے. پرون بویان کښې دهٔ ووئیل چې دا د فطرت قانون دے چې د هرې تباهي پهٔ شا د اباډي یو داسې رازیت وی چې پهٔ ورسې نظر کښې د هغې

پاتې صفحه اخر دریم کالم

### پاتې :: افضل خان

اباډي تصور هم نهٔ شي کیدے. څو وخت سره د اخېره ثابته شي چې الله تعالی پهٔ خپل هر حکم کښې د انسان د بیګړې رازیت ساتي همدغسې پهٔ افغانستان کښې هم وشو دهٔ ووئیل چې د تېرو اتلسو کالو پهٔ اوږده سوده کښې پهٔ زرګونو ساشومان یتیمان، بې شمېره میندې بورې او ګڼې زنانه کونډې شوې. دافغانستان ګڼې خلق خپل کور کلی نه لرې پهٔ پردو ملکونو کښې مېشته شولې دافغانستان د دغې تباهي پهٔ نتیجه کښې پښتانهٔ یو بل ته نزدې شول. د یو بل پهٔ درد دردمند شول او نن پېښور او د پښتونخوا پهٔ نورو علاقو کښې افغانان خپل ځانونه پې کوروانهٔ ګڼي دهٔ ووئیل چې

دافغانانو دا احساس پهٔ دې اساسي د قدرور دے چې دا ټوله پښتونخوا د افغانانو د پلار نیکه زمکه دهٔ. نو پهٔ خپل کور کلي کښې بايد چې څوک ځانته مسافر ونهٔ وائي. دهٔ ووئیل چې پهٔ عالمي سطحه د پرله پسې انقلابونو پهٔ ترځ کښې اوس دا خبره واضحه ښکاري چې پښتون قام به هرو مرو یوه ورځ د خپل قامي وحدت مرام ته رسېږي ځکه چې پښتون د یو وحدت نوم دے. دا نهٔ صرف مذهبي وحدت دے بلکې علاقائي، کلتوري وحدت هم دے. خان لالا ووئیل چې زمونږ اوس هم عقیده دهٔ چې د پښتون وحدت یو بل نه لرې نهٔ شي پاتې کیدے. دا وحدت د یو سازش ترمخه ټوټې ټوټې کړے شوے وو او د دوی پهٔ سرې ئې چې د یو ورېنود کرېنې پهٔ نوم کومه کرښه راښکلې وه اوس د دغې کرېنې څهٔ قانوني او اخلاقي حېثیت نهٔ دے پاتې شوے. دهٔ ووئیل د حالاتو بدلون د دې اشاره کوي چې پښتانهٔ به هرو مرو خپل ځان ګټي او خپل قامي وحدت به ترلاسه کوي

وحدت

Oktober 2003


# قام پرست مشر ډاکټر کبیر ستوري پېښور ته راغلو

## پښتو عالمي کانفرنس او د پښتو په نمائنده جرګه کښې به ګډون کوي

پېښور (وحدت خبر) په المان کښې د پښتنو د جذبو ترجمان د تولنيز اولسوليز ګوند مشر او د ساپوهنې ډاکټر ښاغلی عبدالکبير ستوری پېښور ته رارسيدلی دے. دوی سره د نورو قامی فکر لرونکو نه علاوه شيرين کرد يوال هم ملګرے و. نوموړے کبير ستوری يو د ډېر ښه شاعر او قامی فکر لرونکے دے. تراوسه د دوی د شاعری

باتې صفحه ۵ کالم ۶

باتې :: ډاکټر کبير ستوري

دوه کتابونه د «قلم توره» او «ژوندی خيالونه» په پښتو شاعری کې د قدر اضافې دی. د دې نه علاوه د ساپوهنې په موضوع د دوی ليکلی کتابونه «ويره» «د هوښيار تيا تله» او ژبساپوهنه په پښتو ادب کښې ښې انفرادی کوششونه دی. ښاغلے ډاکټر کبير ستوري د پښتون قام د ملی يو وال او وړاندې تګ هيله من دے. دوی به خپلو نورو راغلو ليکوالو ملګرو سره د پښتو په عالمی کانفرنس او بيا ورپسې د پښتو په نمائنده جرګه کښې ګډون کوي.

وحدت

چیف ایډیټر پبلشر او پرنټر ... د روزنامه "وحدت" د پاکستان د حکومت
په تصدیق ... وحدت پریس خیبربازار پېښور نه خپروي. ایډیټر ... شاه
ایډیټر ... علي شاه ګیلاني. دفتر: روزنامه وحدت، ۲ اسلامیه کلب بلډنګ
خیبربازار پېښور _ فون ۲۱۴۰۳۴ ۲۱۴۱۵۴ فکس ۲۱۴۳۳۱
Emile: wahdat@pes.comsats.net.pk

04. Feb. 2002

دوشنبه (پیر) ۴ فروري ۲۰۰۲

# ذکر دیو ادبي، ثقافتي او سیاسي تقریب

## سپینږي سپیڅي



### سید صابر شاه صابر

قدرمن ډاکټر کبیر ستوری د افغانستان په هغو لیکوالو، هغو مړونو کښې شماریږي چې د سر نه تر پښو ټول پښتون پښتون دے هغه که په وطن کښې و اوکه د وطن نه اوس بهر دے د ژوند تر ټولو لوئي مقصد او مدعا ئې هم دغه ده چې کله به وي چې د پښتو په سپوږ سپیره او ریږل هم د دوستۍ او مستۍ وږمه وږمه شمال والوزي. کله به وي چې د میرویس بابا په شاره ترږاره. سوي لوئي خاوره به د خوشحالیو، تابانیو، داري داري ورانګي خوري شي. قدرمن په خپل ذات کښې دیوې اداري او انجمن حیثیت لري ادب او سیاست خپلو کښې "توک او اوري" کړي. په ادب کښې د ژوند د فکر سرخیل دے

دېلا ډیرو ورو لویو کتابونو خالق دے لکه "د قلم توره" "ژوندي خیالونه" "دویرې تله" "پښتونخوا" "سکروټه" "ژب ساپوهنه" "د هوښیارتیا تله" او نور خود هغه په ژوند او شخصیت کښې چې تر ټولو لوئي صفت زه وینم هغه دادے چې نه صرف بهر ئې د پښتو نغاره ډنګولې ده بلکې اول ئې په خپل کور کښې هم په خپلو خلقو د پښتو عظمت او حیثیت منلے دے لکه زمونږ ددې خو خو مشرانو په رنګ نه دے چې ټول ژوند او ذات ئې د تضاداتو ائینه وي. د موصوف خوش بختي ده چې د هغه بچي هم د هغه

هومره لوئي پښتانه دي په خپله ژبه خپل ثقافت خپل شناخت له سره ماله تیر دي په موجوده وخت کښې زه ولتیه په پېښور کښې دوه

داسي کورنۍ وینم چې د هغوی د خپلو مشرانو د نیشت باوجود د هغوی دوستانو او تعلق دارو سره

د هغوی نه هم مضبوطه راشته درشته پالي، بلکې د رسول پاک ص په دې حدیث چې "تاسو د خپلو خپلوانو او مشرانو دوستانو سره تعلق ساتئ" چا زیات عمل کړے دے نو هغه یو ډاکټر بصیر بیدار ستورے (د کبیر ستوري زوی) او بل د زرین انځور ورور عزیز خان ( او د هغه نور ورونه هم) چې دا وخت ئې زمانه تامي له خیاله وتي دي) مودې مودې وشوې چې کبیر ستورے او ملګرے انځور په وطن نشته خو د هغوی ددې کشرانو له برکته د هغوی د ملګرو د هغوی سره هم هاغسې تماس او رابطه ده لکه پخوا چې وه.

دروان کال د جنوري په دولسمه نیټه نور په خلورم مخ

باقي: سپینږي سپیڅي

مازیګر بصیر بیدار دوکان ته راغے یو کارډ ئې راته په ګوتو کښې کیښود، وې "هن صابر شاه" دا واخله د کشر ورور مې واده دے چې په اتلسمه نیټه ماښام به په ارباب روډ مارکوپولو ریسټورنټ ته ضرور راځې" زه داسي پروګرامونو ته ډیر خوشحالیږم او کوشش کوم چې پکښې شرکت وکړم او ددې دوه وجې دي یو خو هغه د غلام سخي استاد خبره "خیته پکښې غوړه شي" او بل به د غسې موقعو ډیرو هیرو تیرو او

درنو درنو هستیو سره لیده کاته وشي یو خو لمحې د دنیا د جنجالونو نه فکرونو او شور ماشور نه په سکون، ازادۍ او بې غمي تیرې شي، او بیا د بیاغلي نسیم خان ستوري په واده کښې خو باوجود د هغه د نومورې پلار په غیر موجودګۍ کښې د ومره زړې زړې، درنې درنې، ادبي، ثقافتي او سیاسي هستۍ راغلې وې چې ماتې سیال او مثال په دې ترڅدې کلونو کښې په یو تقریب کښې هم نه دے لیدلے "مارکوپولو

بلیو پیلس" ډیر لوئي ډیر ښائسته هال دے (یقینا چې ډیر ګران به هم وي) د نشتر هال نه هم لوئي او ښائسته هال، دا هال د خلقونه ډک و دهر چا په شونډو د خندا ګانو او مسرتونو سیرلي ګډیدل، په اوو بجو د موسیقي پروګرام شروع شو د نظامت واګې اباسین یوسفزی ته وسپارلې شوې او اباسین ډیر په ښه شان د روند انداز د غه خپل فرائض تر سره کړل وار په وار به ئې د خوږو خوږو شعرونو سره فنکاران راغوښتل خیال محمد،

سیداګل مینا، او ګلزار عالم هر یو د خپلو اوازونو د سحر په غیږو کښې د محفل د محبت رنګونه واخسته، خو زما د ګلزار عالم مجلس ډیر خوښ شو، هغه هسې هم هر ځائې منفرد وي پوخ او پیه تول پوره مجلس کوي او چونکې دا زیات د سنجیده خلقو محفل و د لته زیات علمي ادبي شخصیات او مشران ناست وو لکه ارباب سیف الرحمان خان، افضل خان لاله، حاجي غلام احمد بلور، ډاکټر راج ولي شاه

باقي برخه بله پاڼه کې

وحدت

چیف ایډیټر و پبلشر پیر سید سفید شاه همدرد ورځپاڼه "وحدت" دپاکستان دحکومت په تصدیق دوحدت پریس خیبربازارپېښور نه چېږوی، ایډیټر پیر رحمدل شاه
ایډیټر: ظفرعلی شاه ګیلانی، پته:: ورځپاڼه وحدت ۲۰ اسلامیه کلب بلډنګ
خیبربازار پېښور ـ فون : ۲۱۴۰۳۴ ۲۱۴۱۵۴ فیکس ۲۱۴۳۳۱
Emile: wahdat@pes.comsats.net.pk

دوشنبه (پیر) ۴ فروری ۲۰۰۲

ذکردو ادبي، ثقافتي او سیاسي تقریب

لیک : سید صابر شاه صابر

04. Feb. 2002

— پاتې برخه —

خټک، حبیب الله رفیع، اجمل خټک، ارباب الطاف (دتاکال نائب ناظم) ارباب دوست محمد خان پروډیوسر شوکت علی، فضل رحیم مروت، لائق زاده لائق، قیصر خان ایډوکیټ، شمس الهدی شمس، اسد سایے، بریالے باجوړے، رحمت شاه سائل، سیدولی خیال مومند، شاهین بونیرے، هدایت الله ګل، اباسین یوسفزے، ارباب نثار خلیل، ارباپ همایون خان اونورو ګڼو لویو ورو سپکو درنو پښتنو په دغه تقریب کښې شرکت کړے وو. نو په داسې خانې او موقعه هم دغسې "غزلیزې" موسیقي مزه کوله. دموسیقي په دوران کښې قدر من اجمل خټک، غلام احمد بلور، او افضل خان لاله دپټ او پښتو پګړی نسیم خان ته په سر کړه کومه چې بیا هغه تر اخره په سر ساتلې وه ډیر ښه او ډیر ځرونند ورسره ښکاریدو

دماسخوتن دودی هم ډیره درنه وه دومره درنه چې ډیرې اوږې اوږې سترګې ئې هم مړې کړې

زه چې په دې پروګرام کښې ناست وم نودلرې او برې پښتونخوا ترمنځه عرضي مرضي، استعماري تورې تورې دیوې صدۍ کرښې مې دفکر او احساس تازه تازه بادونو تالاترغه کړې نن تول پښتانه یو شوی وو تول په یو لباس، یو سوچ، یو ژبه، یو ملت. متفق وو دتولو په خلو. تولو په شوندو هم دا یوه خبره یو نعره وه چې:

مونږ تول یو ، یو

دخپلې ژبې دعظمت او حیثیت په خاطر

دخپل قام دمرام او مقام په خاطر

دخپل وطن دابادۍ او ښیرازۍ په خاطر

دخپل تاریخ خپل ثقافت دشناخت او ساخت په خاطر

او دخپل رڼا رڼا ستوری ستوری مستقبل دهیلو جذبو او تلوسو په خاطر!

—

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

ورځپاڼه پېښور

# وحدت

چیف ایډیټر

پیر سفید شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

پنجشنبه زیارت، 25 جمادی الثاني، 1422 هـ ق، 22 سنبله 1380 هـ ش

13 ستمبر 2001، 31 بادرو، 2058 ب، جلد 26، شماره 250، بیعه اروپۍ

## د کبیر ستوري "ویره" کتاب چاپ شو

په انساني ژوند کښې هاغه احساس چې لاشعوري طور راپیدا کیږي او بیا په ذهن او اعصابو دومره ژور اثر کوي چې انسان ته د ژوند شېبې سبا کول گران شي ډاکټر کبیر ستوري د نفسیاتي د یو پوه ډاکټر په حیث




په دې کتاب کښې د ویرې د مختلفو وجوهاتو او اړخونو جاج اخلي، او چې کوم خلق د ویرې په مرض کښې اخته دي هغوی ته د مکمل علاج لارې په گوته کوي "ویره" د لوستونکو د ویرو خوښتو ترمخه په درسم خل خپلو پېښور غونډې اداري "لخوا "ډاکټر محمد فرید بېزگر په اهتمام چاپ شوې ده د ویرې په موضوع داگه ور کتاب ستاسو په هر اړخ رهنما ثابت کولې شي مشینه بیعه او ښوره چاپ

د کبیر ستوري ژبپوهنه - پاتې برخه -

خپلې ژبې او کلتور څخه بلکل پردے شوے وُ، په پښتو هیڅ نه پوهیدو او په فارسی غږیده، پخپله ځلوېښت کاله باچاهي کښې ئې هڅه هم نه ده کړې چې څو ټکې پښتو یاده کړی، حال داچې په افغانستان کښې د تولو میشته لږه کیو قومونو (ازبکو، ترکمنو، تاجکو، هزاره او نورو) له مجموعې څخه پښتانه زیات وو. که دظاهر شاه د باچاهی وخت په پام کښې ونیسو نو په دغه وخت کښې په نړۍ کښې ستر بدلونونه راغلی دی چې د پښتو د قامی وحدت په بشپړتیا بې اغیزې نه وُ دویمه نړۍ واله جگړه پای ته ورسیده د ملګرو ملتونو موسسه (اقوام متحده) جوړه شوه، انګلستان د هند دنیمې وچې څخه وتلوته مجبور شو، دپاکستان اسلامی جمهوریت په کال 1947ء کښې جوړ شو. د پښتون قام نیم وجود په پاکستان کښې پاتې شو. سمه لار خو داوه چې افغانستان او د پاکستان اسلامی جمهوریت یو بل ته نژدې شوے وے. چې دواړه اسلامی هیوادونه وو او ډیر څه نور ئې هم سره شریك وو. خو ظاهر شاه یو دوه مخے سیاست پیل کړ. له یوې خوا ئې د پښتو ویش ومانه، په پاکستان کښې ئې سفارت او قونصلګری جوړه کړه او له بلې خوائې ورسره دښمنی راواخیسته او ویل به ئې چې په پاکستان کښې ډیره پښتنو یعنی نوې برخې پښتنو حقوق غوارو چې د پښتونستان په نامه خانته ملك جوړ کړی. او د افغانستان نه بیل نه وی. دغه رنګ د پښتونخوا په اړه لیکی" پښتانه له پیړیو راسې خپل ټاټوبی او وطن ته چې پیدایشی (قدرتی-فطری) وحدت دے. پښتونخوا وانې او پښتونخوا د پښتنو د ټاټوبی اولسی نوم دے حکومتونو ته هم پکار دی چې ددې خاورې سرکاری نوم هم پښتونخوا کړی، که چیرته دخپلو اولسونو قامونو نمائندګی کوی. لنډه داچې د ستوری صیب دا کتاب د لوستلو سره اړه لری او ددې د اهمیت پته هم د لوستلو نه وروسته لګی. لیکل ئې په کمپیوټر او برنی املاء باندې شوی دی. چې د ډیرې تندی نه پکښې لفظی غلطیانې زیاتې برېښی. سر پانه ئې ډیره ښکلې او زړه راښکونکې ده ترون ئې د پښتو ژبې دانقلابی او خوږ ژبې شاعر رحمت شاه سائل په نوم شویدے او په وروستې پانه کښې د ستوری صیب او سایل صیب په ګډه یو عکس چاپ دے د کتاب په اول سر کښې د پېښور یونیورستی د ژورنالیزم د ډیپارټمنټ مشر ښاغلی ډاکټر شاه جهان یوه په زړه پورې سریزه لیکلې ده او بیا په یو سل او ځلوېښت مخونو مشتمل کتاب دے په 145 مخ باندې د" خوښه او مننه" پر سر لیك لاندې ښاغلی کبیر ستوری صیب له ښاغلی نسیم خان ستوری، امیر کروړ ستوری، عبدالنصیر نصیر، عزیز سرشار، محمد شیرین ګردیوال، هدایت الله خان بنګش، ډاکټر محمد فرید بزګر، نعمت الله رسولی، لائق زاده لائق، عبدالنصیر بیدار او ننګیالی میر داد خیل څخه خوښه او مننه کړې ده. په 147 مخ ښاغلی لایق زاده لایق د "اعزاز" تر لاس لیك لاندې لیکل کړی دی. او دغسې کتاب پای ته رسیدلے دے.

وحدت ورځپاڼه پېښور
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR
دوشنبه (5) 8 جنوري 2001

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو د ډېرو خپرېدونکو ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

# وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

[illegible] ۱۹۹۶ [illegible] جلد [illegible] شماره ۲۵۸

سه شنبه ۳ ستمبر ۱۹۹۶ء

## د وفاقي وزير محمد افضل خان د ورور په مړينه د کبير ستوري غمرازي

پېښور (وحدت خبر) د پښتون سوشل ډيموکريټک ګوند الماني مشر کبير ستوري د کشمير او قبائلي چارو د وفاقي وزير او د پښتونخوا قامي پارټي مشر محمد افضل خان د ورور محمد عالم خان په مړينه خپله ژوره غمرازي ښکاره کړې ده او د مرحوم د مغفرت د پاره ئې دعا کړې ده. کبير ستوري د مرحوم په مړينه د ده خپلوانو او خصوصاً محمد افضل خان سره خپله خواشيني څرګنده کړې ده. او د پسماندګانو د پاره ئې د صبر غوښتنه کړې ده.

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبې ورځپاڼه

ورځپاڼه پېښور

# وحدت

چیف ایډیټر
پیر سفید شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

شنبه خالي ورځ 21 شعبان المعظم 1424 هـ ق، 25 تله میزان 1382 هـ ش
18 اکتوبر 2003 م، 30 اسو 2060 ب، جلد 28، شماره 286، بیعه 4 روپۍ

## دپښتنو په ژوند تقسیم بد اثر کړیدے، کبیرستورے

**د نړۍ ډېر وېشل شوي قومونه بېرته یوځای شول خو پښتانه تراوسه جدا دي**

پېښور (وحدت خبر) د نړۍ ډېروېشلي قومونه بېرته سره یوځای شوي دي خو پښتانه تراوسه جلا پراته دي چې په پښتون قوم دغې جلاتوب ډېر بد اثر کړے

پاتې صفحه 5 کالم 6

**پاتې کبیرستورے**

دے جرمنۍ کښې دپښتو دټولنيز اولسيز گوند مشر ډاکټر کبيرستوري داخبرې د افضل خان لاله لخوا د ډيورنډ په کرښه جوړ شوي سيمينار ته خپل خطاب کښې کړيدي. دۀ ووئيل چې تاريخ کښې ډيرپښتانه بادشاهان تير شوي دي خو پښتو ژبه ئې رسمي او نه دفتري کړې ده. دۀ ووئيل چې داسې پښتانه شته چې تراوسه پښتو او خپله ژبه نه پيژني. د انزوا حالت کښې پراته دي. دۀ ووئيل چې کله روسانو په افغانستان يرغل وکړو نو پاکستان ته افغانانو هجرت وکړو چې دې سره دلرو بر پښتنو ترمينځ محبت اوپو والے رامينځ ته شوے دے. دۀ ووئيل چې دپښتنو ترمينځ د يووالي دپاره لازمه ده چې د ټولو په نمائندگۍ يوه جرگه جوړه شي. ترڅو د دواړو خواؤ ترمينځ اړيکي ټينگې کړي.

پښتو پرون، نن او سبا - پاتې برخه

MEMBER APNS
THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN
په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه
پېښور وحدت ورځپاڼه
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR
چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد
ABC CERTIFIED

کړیده دمقالونګارانو نوموته دادی.

محترم همیش خلیل، سر محقق عبدالله بختانی، ډاکټر شیرزمان طائزے، سلیم راز، سعدالدین شپون، محمد اصف صمیم، ډاکټر میا سهیل انشاء، دوه مقالې، ډاکټر شاهجهان کاکاخیل، ډاکټر اقبال نسیم خټک، ډاکټر راجولی شاه خټک، طاهر اپریدے، داورخان داود، درویش درانی، ډاکټر یار محمد مغموم، عمرګل عسکر، افضل شوق، خواجه محمد سائیل، قمرزمان قمر طائزے غازی سیال، ډاکټر سید چراغ حسین شاه، رحیم شاه رحیم، پروفیسر محمود ایاز، عارف تبسم، صادق ژړک، حنیف خلیل، روښان یوسفزے، تاج انور، اعجاز خټک، فیض الوهاب فیض، لیاقت امین، پرویز مروت، محب وزیر، قمر صحرائی، اقبال حسین افګار، اسیر منګل او سلیم بنګش

دلته مادمقالو سرخطونه ذکر نه کړل ځکه چې دې سره یوخودامقاله طوالت مومی اوبلخوا داچې لوستونکو ته دمقالو دسرخطونو نه څه فائده نه رسی ترڅو چې هغوی دامقالې خپله لوستې نه وی که څرته ګرانو لوستونکیو داکتاب ترلاسه کړو او هغوی دامقالې خپله ئې ولوستې نوهغوی ته به داخبره ښکاره شی چې ماضی کښې دپښتوژبې او ددې په واسطه دانسانیت څومره خدمت شویدے نن پښتوژبه په کوم مقام ولاړه ده اومستقبل کښې چې دې ژبې ته کوم حالات مخې ته راتلونکی دی پوهانو هغې دپاره کوم تجویزونه وړاندې کړیدی

اخر کښې زه اسیر منګل، سلیم بنګش او دپښتو ادبی چمن نوروملګروته مبارکی ورکوم او دهغوی ددې زیارمننه کوم چې یوداسې ښکلے اوبامقصده کتاب ئې پښتون اولس ته وړاندې کړو زه داکتاب دپښتوژبې داسې خدمت ګڼم چې نه یوازې پرې دپښتوژبې پنګه درنه شوه بلکې دې کتاب دپښتوادب طالب علمانو دپاره دتحقیق په میدان کښې ډیره اسانتیا هم پیداکړه اومحققینو دپاره ئې نوې لاره پرانسته

قافله دې اوس روانه بې خطروی
مونږبل کړی ځراغونه دی په لاره

ورځپاڼه
وحدت
Daily Wahdat Peshawar



# اختر په ټوقو ټوقو راغی

ځیره
ایمان حسین کاکاخېل

[illegible]

# د اروابناد ډاکټر کبیر ستوري د اتلسم تلین یاد

## مونږ د توري او جهاد خلق ډېر ښه پېژنو، خو د علم او قلم خاوندان لږ پېژنو

ډاکټر ظفر محمد سلطانزی

[illegible]



په ډاډ سره ویلی شم چې کبیر ستوری به تل د اصیلو، وطنپالو فرهنګي پښتنو په زړونو کې خاص ځای لري

کله مونږ د پښتو ژبې ارغونې تاریخ ته پام وکړو، نو څرګندېږي چې په مسلکي برخه کې په پښتو ژبه کتابونه د نورو ژبو په پرتله د هیچ برابر دي او یا خو نشته دي.








[illegible]

# پښتو کول دهر پښتون بنیادي حق دے

پښتو کانفرنس

د کوم قوم خپله ژبه سپکه شي هغه قوم سپک کېږي پېژندګلو ژبه، تاریخ او نوم وي

شاعران او لیکوالان با ید د قلم په زور د قوم خدمت ته ملا وتړي، د پښتونولي مورچه دې ټینګه وساتلے شي

پښتو دې تر هغې پورې د تعلیم او د پښتونخوا سرکاري ژبه وګرځولے شي، د مقرر پنو وینا

پېښور (جمال کوټوال) د پښتو دوئم نړیوال کنفرانس پرون هم په خپل ځانګړي بزم سره د پېښور په نشتر هال کښې د ګڼو پوهانو، عالمانو، ادیبانو، لیکوالو شاعرانو، خبریالانو او هنرمندانو په ګډون چې د بېلابېلو هېوادونو څخه راغلل شوي دي، دوام وکړو او د پښتو ژبې د پیاوړتیا ادب او ثقافت په اړه علمي مقالي ولوستل شوي او بیا ئې قراردادونه او وړاندیزونه وشول. د پرون ورځې د غرمې نه مخکښې غونډې صدر سلیم راز، مشر میلمه سعید الدین شپون او کوربه اسفندیار ولي وو. د غونډې کار د قران کریم د څو مبارکو ایاتونو په لوستلو سره پیل شو او په ترتیب سره بیا عبدالرحمان، ډاکټر راج ولي

باقي صفحه ۸ کالم ۸

باقي :: پښتو کانفرنس

شاه خټک، ودود اشنغری، پروفیسر طه خان، ډاکټر سراج، لیاقت امین نسیم الریدي، ولاد علي شاه، علي اکبر سیال، سعید الدین شپون او اسفندیار ولي شعرونه او مقالي ولوستې او د دوئم نړیوال کانفرنس په اړوند ئې مطالب څرګند کړل. ویناوالو په خپلو خبرو کښې ووئیل چې پښتو کول د هر پښتون د پاره بنیادي کار دے. پښتانه په پښتني خاوره پښتو کوي او د پښتونخوا د نوم تر منلو پورې به خپلې مبارزې ته دوام ورکړي. د قوم شناخت خپله ژبه، خپل تاریخ او خپل نوم دے. په کوم قوم چې خپله ژبه سپکه شي هغه قوم سپک کېږي او د هغه قوم نه چې خپله ژبه ورکه شي هغه ورک کېږي. ویناوالو په ټینګار سره لیکوالو او شاعرانو ته جوته کړه چې د ژبې او قلم په زور باند د پښتون قوم خدمت ته ملا وتړل شي او د پښتونولي مورچه ټینګه وساتلے شي. دغه راز د دوئم نړیوال کانفرنس د غرمې نه وروسته غونډه کښې چې مشر میلمه پکښې پروفیسر رب نواز مائل او کوربه شاکر رحمان وو په وارسره ډاکټر شاه جهان سید، ډاکټر سهیل انشاء، شاهد علي شاهد، عبدالرحیم مندوخیل، شباب بونیري، مېجر محمد نواز، نور رحمان لیوال، ګل جان ورډګ او جلال خټک شعرونه او مقالي ولوستې او د پښتو ژبې د پراختیا تعمیم او ترویج او په مورنۍ ژبه کښې د زده کړې په اړه ټینګار وشو. دغه راز د پرونو غونډو په جریان کښې د دوئم نړیوال کانفرانس د جوړېدو په مناسبت د شهید ګهوو غنوي بهټو او د اغفضل خان لالا د پښتونخوا قومي پارټي لخوا د مبارکي پیغامونه هم ولوستل شول چې په تودو احساساتو سره بدرګه کړے شول. د کنفرانس ویناوالو په خپلو خبرو کښې ووئیل چې دوئم نړیوال کانفرنس باند په راتلونکي کښې د یوې مستقلې ادارې په توګه خپل فرهنګي کار ته دوام ورکړي کتابونه چاپ کړي او یوه رساله یا جریده هم ولري. همدا رنګه په اخبارونو او راډیو ګانو کښې د پښتو د ضرورت په څرګوالي خبرې وشوې او موجوده پروګرامونه ناکافي وبلل شول. د کنفرانس ویناوالو په ټینګار سره ووئیل چې پښتو دې تر مېټرک پورې د تعلیم ژبه شي. پښتونولي د یو قانون په توګه د دې ور ده چې دغه ژبه پیاوړې او

پراخه شي او پښتو کولے هم شي. ثقافت پېژندل ک دي د پښتونخوا دغه راز په قرا

افغانستان په اړه هم څرګندونې وشوې او په کلکه سره ... ل شول چې په افغانستان کښې باند د جنګ بل کړے شوے او رسې کړے شي او د یوې سوله ایزې لارې پیدا کولو سره دې لازم اقدامات په نظر کښې ونیول شي. د وحدت ورځپاڼې خبریال د موقع نه په استفادې سره د کنفرانس په څنډه کښې د کنفرانس د برخه والو د څو تنو سره مرکې ... کړې دي او نظریات ئې داسې څرګند کړي دي. میرمن نسیم ولي خان ووئیل پښتو یو وجود هم پښتو یو عمل دے، پښتو یو قوم دے، پښتو یوه پښتونولي ده او پښتو د دنیا په مخ یو قوم دے چې خپله ژبه ئې راخستې ده او خپل ثقافت او ژبه ئې پېژندلې ده. دې ووئیل د پښتو نړیوال کنفرانس یو مهم قدم دے زما په خیال به دې کنفرانس کښې چې کومې علمي مقالې او قراردادونه پېش کړے شول او ... دا به خپل وخت عملي شي دا به د پښتو ژبې او پښتونولي ته ښه ګټه ورسوي او په نړۍ کښې به نوره هم دغه لرغونې ژبه وپېژندلے شي. پښتو بوازې ژبه نه ده یو عمل هم دے. ډاکټر کبیر ستوري چې د پښتو دوئم نړیوال کنفرانس ئې د پښتو ژبې د پراختیا او پیاوړتیا د پاره یوه مهمه وسیله وبلله او وې ووئیل په دې کنفرانس کښې مونږ د لیکوالانو او سیاست دانانو مقالې او وېناوې واورېدې ادب او سیاست څوک بېلولے نه شي. ده ووئیل اساسي مسئله دا ده چې پښتانه په ملو کښې او ویا د یو وتي او روزلې څخه بې برخې پاتې دي (همدغه خبره دا ده چې پښتونخوا) ورته جوړ شي او پښتو د تعلیم او سرکاري ژبه شي. ژبه بوازې د پوهولو راپوهولو وسیله نه ده بلکې دا د سوچ او فکر یو شکل دے څوک چې په پردۍ ژبه زده کړې کوي په دې معنی ده چې د زده کوونکي فکر هم ورسره پردے کېږي. نېک محمد غازي زوي ووئیل مونږ په دوئم نړیوال کنفرانس کښې ډېرې خبرې واورېدې او ښه پښتني احساسات پکښې څرګند شول خو یوه خبره چې زه ورته د انتقاد ګوته نیسم هغه ... ده چې په دې مقالو او خبرو کښې سمه او سوچه پښتو نه وه او تقریباً په سلو کښې شل پکښې انګرېزي وه ... او وینا والو د سوچه پښتو خیال نه و ساتلے د پروګرام چلوونکو د سوچه پښتو خیال نه و ساتلے د پروګرام چلوونکو هم زیاته انګرېزي ژبه کاروله. ډاکټر طلا محمد خادم په دې نظر دے چې پښتو استعماري قوتونو لکه ایرانیانو او مغلو او انګرېزانو ډېره ځپلې ده یعنې پښتانه او پښتو ئې دواړه ځپلي دي. ده زیاته کړه چې اوس پښتانه متحرک شوي او په نړیوال تېش پوهه شوي دي ... زمونږ ژبه داسې کمزورې شوه زمونږ ثقافت سره ولې ظلم کېږي په تي وي او ریډیو ولې پښتو د پښتو په تناسب ... نړیوال کنفرانس جوړ شو دا یو لویه کامیابي ده خو په دې شرط چې کنفرانس کوم قراردادونه وړاندې کړي، هر یو کړه لیک ئې عملي کړے شي

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو د روميې ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

وحدت

چيف ايډيټر: پير سفيد شاه همدرد

بيه څلور (4) روپۍ

رجسټرډ نمبر ۲۸

د پنج شنبې (زيارت) ورځ، ۲۰ د رجب ۱۴۱۸ هـ ق، ۱۵ د لړم (عقرب) ۱۳۷۶ هـ ش، 6 نومبر 1997ء، جلد 12، شماره 301

# د ژبې ارزښت

ليک: ډاکټر کبير ستوري

ژبه په انساني ژوند او د قام په ژوند کښې ډېره مهمه او بنيادي رول او پوره ارزښت لري. د ژبې په سبب قامونه يو د بل څخه بېلېږي او توپير ئې کېږي. د ژبې په واسطه قامونه پېژندل کېږي او د قامي پېژندنه (قامي تشخص) څاکه ده. باچا خان چې هره خبره ئې د کانۍ کرښه ده په دې تينتون (ارتباط) کښې وئيلي دي چې: د يو قام ژبه چې ورکه شي هغه قام ورک شي. او قام پېژندنه ئې ختم شي. ژبه په انساني ژوند کښې هم ډېر ارزښت لري ځکه چې ژبه د يوې خوا د فکر د څرګندولو، پوهېدلو او پوهولو وسيله ده او د بلې خوا ژبه د فکر (اند) بوه بېه يا څېره ده. د دې دپاره چې په دې خبره سوله پوره شوه په مثال سره د فکر مهم ژمونه را په ګوته کوو: مثال: کله چې سړې په ژبې کښې په حجره کښې د شپې پېچ اوده وي او سحر راپاڅي او د حجرې څخه بهر راووځي او ووينې چې ځمکه لنده ده نو فکر کوي چې د شپې باران شوې دے. کله دې مثال ته غور شو نو به وينو چې سړي څېله باران ليدلے او حس کړے ئې نه دے خو ځمکې د لندوالي په واسطه

په دې پوهېږي يا خبرېږي چې د شپې باران شوې دے. په نورو تورو سره فکر د ناسيده (غير مستقيمي) پوهېدنې يا خبرېدلې لړۍ (پروسه) ده چې دا د فکر بو اړخ دے. د عه ناسيده پوهېدنه يا خبرېدنه د شيانو په منځ کښې د اړيکو او د تينتونو په سبب ولاړه ده. تل چې باران شوے دے ځمکه ئې لنده کړې ده او د دغه تينتون څخه سړے خبر دے نو ځکه وائي چې د شپې باران شوے دے. د دغه فکر بل اړخ را ښکاره کېږي چې هغه عمومي والے دے يعنې د ځمکې د لندوالي او باران په منځ کښې تينتون عمومي خوی لري او د کوم يو خاص باران پورې د ځمکې لندوالے تړلے نه دے، هر باران ځمکه لندوي په نورو تورو سره دا د دې معنې لري چې د فکر په لړۍ (پروسه) کښې سړے د شيانو د يوې ولي د عمومي خاصيتونو سره مخامخ شو. فکر د يوې ولي شيانو د عمومي خاصيتونو انعکاس او د شيانو په منځ کښې د عمومي تينتونو او اړيکو موندنه ده. د فکر په ناسيده توب او عموميتوب کښې د ژبې سره د فکر اړيکي پراته او نغښتي دي. مطلب دا

چې عمومي تومونه او لفظونه چې د يوې ولي شيانو د ګډو او سهمو خويونو ښکارندوي دي د فکر بېه يا څېره ده. د بېلګې په توګه د "کلک" لفظ د ډېرو شيانو خوی جوړوي چې سوټي د عه ټول شيان چې کلک دي ليدلي نه شو خو فکر ئې کولے شو. له دې کبله عمومي توم يا لفظ د فکر بوه څېره ده.

فکر د ژبې په بېه کښې ځان راښکاره کوي. هر فکر چې د انسان په سر کښې پيدا کېږي نو د ژبې سوادو څخه سېخ نه راتللے او پيدا کېدلے نه شي. د اسې فکر چې د ژبې سوادو څخه ازاد وي موجوديت نه لري. دا چې په نړۍ کښې ډېرې ژبې شته دي او سړے هماغه يو فکر په مختلفو ژبو څرګندولے شي او فکر ثابت پاتې کېږي په دې واقعيت کښې کوم تغير نه راولي چې فکر ئې د کومې يوې ژبې چې د فکر څېره جوړوي سېخ نه راتللے نه شي. لوبې د فکر څېره په يوه ژبه کښې جوړه شي بيا په بله ژبه اړول کېږي. خو په سوړلې ژبه د فکر بېه جوړېږي. د ژبې او د فکر اړيکي د يوې خوا

نور په دريم مخ

## پاتې: د ژبې ارزښت

د ژبې د ارزښت معنا لري او د بلې خوا دا واقعيت راښائي چې هر څومره چې د انسان ژبه رسېدلې وي څومره ئې فکر هم رسېدلے وي. د دې واقعيت په رڼا کښې د ژبې د ودې دپاره کار ښکاره دے. د ژبې ودې او روزلې څانګونه کوونې، سوونځې او پوهنتونونه دي له دې کبله د دې څخه ضروري ده چې په سوونځيو او پوهنتونو کښې نځانونه په سوړلې ژبه ښېښو د زده کړې امکانات برابر شي. په څېله سوړلې ژبه زده کړه نه يوازې د فکر د ښېښتوب کره برخه ده. د ښې ودې معنا لري بلکې د قام د سوکالۍ او ابادۍ لپاره هم ده چې د نورو قامونو سره ئې د سيالۍ جوګه کوي.

دوشنبه (گل) ۲۶ جنوري ۱۹۹۸ء
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR
روزنامه وحدت پښتو

## مرحوم سلنګ جان

ليک: عبدالبصير بيدار

[illegible]

## «پښتون»

عبدالبصير بيدار

چې ننه د خود داري نه لري سر کښي
کنه هرڅومره معتبر دے پښتون نه دے
چې د پښت، ننګرې تورې خبر نه وي
کنه هرڅومره زورور دے پښتون نه دے
چې د نام د ننګ دي ورځې خبر نه شي
کنه هرڅومره لوئي رهبر دے پښتون نه دے
چې دوخت په تقاضو کړي سترګي پټي
کنه هرڅومره سترګه ور دے پښتون نه دے
چې د ځانه خبر نه وي چې زه څوک يم
کنه هرڅومره باخبر دے پښتون نه دے
چې اختيار ئي د اغيارو وي په لاس کښي
کنه هرڅومره دلاور دے پښتون نه دے
د ځاصب نه چې خپل حق غوښتلے نه شي
کنه هرڅومره زړه ور دے پښتون نه دے
چې په خپله «پښتونخوا» نه قربانيږي
کنه هرڅومره سرلښکر دے پښتون نه دے
عقيده د پاچا خان چې خپله نه کړي
کنه هرڅومره ديده ور دے پښتون نه دے
چې پوهالي د پښتون ئي ارمان نه وي
کنه هرڅومره لوئي ليډر دے پښتون نه دے
چې عزت د «پښتو» نه کوي سعره
کنه هرڅومره لکه «عمر» دے پښتون نه دے

غلامۍ د نا پوهۍ نه جوړېږي
د هنر په ښکلي غرونه وښي کېږي
د اسلام قد چې مشهور په عقل کم وي
د علم عقل به کور کښي بدام شوي
انسانيت د انسان عقله مشرف شي
چې په علم مشرف او مکلف شي
بې علمي لويه بلا ده، که پوهيږې
نه ددې بلا نه ولې په ويريږې
زه ژوبل په يم چې تور د وطن شان
وو ســــــم
چې مشرف به علم بود العاسان وو سم

زما دې ورو کې مضمون کښي د سلنګ
جان د شاعرۍ په ټولو اړخونو بحث
کول او د هغه ښکلي شعرونه ليکل
ګرانه خبره ده، او نن ادب پالونکي به
زما دغه ليکنه د سلنګ د شاعرۍ په
حقله ښکري او نا مکمله بولي خو با د
خپل زوري مينې له کبله چې د پښتو
ددغې سرې او بې ساله شاعر او سره
لي لږ نه غوللتو ليکو کښې د سلنګ
جان د شاعرۍ په حقله د خپل عقيدت
سرزونه او د نظر مرکندونه، کړه

چې احساس د بيتس حسرت انځاري
سلنګ جانه ستا هر شعر به مې سلام
ته
ټول اشعار دي ترجمان د پښتو دي
که جارينه که غزل که دې سادې
رنګين او ساده کې چې ښکلي ښکاري
ستا، خوږې نغمې، اواز د پښتون قام
ته
زه نسير به دې صفت د کوم يو شعر
کــــــــــــم
هر يو بيت خو دي قابل د احترام ته

## باتي: سلنګ جان

سلنګ او سې زلميانو په خپل دين او په
اســــلام
تور د پښتون په برخه شوي له ازله
سونړو تا سوواړه ښانه پاسو په قام
بام کوي چې نه شو جاړ يا نو نه محله

سلنګ د خپلې ځوانۍ سکار
پښتونواله بولي او په پښتونولي له سره
هم تيريږي

زما ځوانۍ ټول کوي د پښتونواله سره
زه به پښتو او پښتونوالي بالندي سر
ورکــــــوم
زه پښتون يم پښتونواله مې خوښيږي
سرو مال مې پښتونوالي به خيرات دي
که مې سرې وښې په دغه لاړ تونيږي
زما وينې د وطن د سر زکات دي

سلنګ جان نه يوازې په نعتيه او نظم
خو د هغه فکر د وسره يو ځي د قام
پرمختګ غوښتي، سو نالي او سې کښي
د علم په زيا کښي لنوي هغه بې علمي
او جهالت د خپل قام او اولس لپاره
لوئي ناسور بولي او د پښتون اولس
د ژوند په هداره کښي د علم او پوهې
لپاره ئي لويه ارزو وه

پښانه که ټول د علم خاوندان شي
او دا کونه تماشې زسونړ ودان وښي
په وطن به زسونړ څه لږه ځحلی وي
د علمي به به سونړ ولې لـــسي وي

هغه د نا پوهۍ نه داسې بې زاره ده چې
وائي

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

پېښور

وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

شنبه (خالي) (3) 19مئي 2001ء

# د ډاکټر کبیر ستوري «ویره»

دشپې په خوره غېږه سري سې اوچه کلکه شوه.
کښې خاموشي ازخونه بدلول. اوسترګې سې نوري هم وازې
ولې په دغه خاموشي کښې کړې. په کمره کښې سا د چا
دناقراري بو داسې کیفیت زه په موجودیت بیایا محسوسوله. څو لیدے. څو چې په بق بق ئې وخندل
سخه اخستے وم چې ساورله محله سې اراده وکړه چې باځم نو سائې په توره تیاره کښې لوټې
دلفظونو لیون نشو کولے. دټولې اوبجلی بله کړم. څو هر اندام سې لوټې غابونه ولیدل. چې څوسره
ورځې د تودو سړونه پس سابله کلک ونختو. په ټول وجود سې کلمې راته یادې وې هغه سې په
وه، لګولې وه اوبه دغه خاموشي نري نري خوله راماته شوه. ساهیڅ ځان چف کړې. څوه دوارخطايي»
کښې سې د اوده کیدو کوشش فیصله نشوه کولے. په زور سې او «ویرې» په وجه بوهه نشوم چې
کولو څوځله سې سترګې پټې سترګې پټې کړې. دیوساعت کومه کلمه سې کله ووئیله زه
کړې. ولې بیا به سې لاشعوري دپاره سې دغه وهم او دغه ویره راته وئیل چې «چغې کړه» ولې
طورسترګې پرانستې. سابه توره هیره کړه ولې ساعت پس سې بیا د دخلې نه سې اواز چرته وتو تولهه
تیاره کښې کیرچاپیره وکتل. دروازې اواز محسوس کړو. شپه سې په داسې حال کښې تیره
تاڅاپی سې داسې محسوسه کړه داخل چې سې په تیاره کښې وکتل کړه. چې رښا ولګیده نو په
لکه چې د کمرې دروازه چا خلاصه نو یو غټ پټ سپے راته مخامخ وارخطايي سې دروازې ته وکتل
کړې وه. دزړه درزاسې سیواشوه. ولاړ و. سادهغه سترګې نشوې دروازه هم هغسې بنده وه. سادشپې
نه بنده کړې وه. په کمره کښې سې
دچاد پښو خاپي ولټول څو هیڅ هم

## کتابونه اتڼې





لائق زاده لائق

نه وو. سابوه لیه اوبه وڅښې او
دبوې اوږدې ساه اخستو سره سې
دوسره قدرې ووې «چې بلا وه بے
ئې نه و».

دابلا . داویره داوهم او
داګمانونه زسونږ دلاشعور نه
شعورته راځي او قدم په قدم زسونږ
دژوند په لاره کښې خنډان کیږي.
سوال دادے چې ویره څه شے دے دا
له کومې لاشعورته راځي او کوم
هاغه عوامل دي چې په ویره کښې
توره هم اضافه کوي. کومې ددغه
لارې چارې دي چې سونږ وهمونو او
ګمانونو ددې زندان نه وېستے
شي.

داټولې خبرې دپښتو ژبې شاعر او
دسائیکالوجي دعلم ډاکټر
کبیرستوري په خپل کتاب «ویره»
کښې راغونډې کړې دي. ډاکټر
کبیر ستورے که یوخوا دپښتون
قام پرست په حیث پیژندے شي
نوبل خوانې په پښتو شاعري
کښې د «قلم توره» او «ژوندی
خیالونه» دبرلوټي ارزښت لري په
دغه شعري مجموعو کښې ډاکټر
کبیرستوري دهرډول طبع ازمائي
کړې ده. څو مجموعي طورښې

دخپل قام او دخپل اولس غم
زړلے دے. دپښتون دساون
اسیدونه ئې په زړه پورې تینګ
نیولي دي. د سابوسي په دغه
تورتم کښې ئې درجائیت لمن
ټینګه نیولې ده دغه ځانګړې انداز
ډاکټر کبیرستوري ته یو اوچت
مقام ورېخښلے دے.
ډاکټر کبیرستورے دساه بوهنې
سائیکالوجي دعلم ماهر دے او چې
څنګه دانساني نفسیاتو بحقله علم
لري دغه رنګ دشعر په ژبه ددغه

نفسیاتو ترجماني هم کولے شي.
دشاعري هوښیارتیا سره سره
ددوی کتابونه «دهوښیارتیا تله»
او «ژبسا پوهنه» دسائیکالوجي
په حواله په پښتو کښې دانفرادي
حیثیت کتابونه دي. څو ددغه
ټولو ادبي کوششونو نه یو ارخ
ئن سونږ د ډاکټر کبیر ستوري
کتنه د «ویرې» په ائینه کښې
کوو.
ویره په یوسل اولس سخونو
خور کتاب دے چې په بوداسې

ورځپاڼه وحدت پېښور
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

# د ډاکټر کبیرستوري «ویره»

(خالي) (3) 19 مئي 2001ء

موضوع لیکلې شوې ده چې زمونږ د نن ورځې ژوند سره ډېر ژور تعلق لري. په طبي لحاظ سره که وکتې شي نو په سلو کښې یو کم سل سړیځان د «وهم» شک، او ګمان» له ویرې سړیځان دي په دې کتاب کښې د هاغه ټولو عواملو احاطه شوې ده د کومو په وجه چې دا رقم حالات مخې ته راتلي شي. په دې لړ کښې ډاکټر کبیرستوري د هاغه ټولو پوهانو د افکارو نه فائده اخستې ده چاچې د تجربو او څېړنو په ذریعه د ویرې عوامل لټولي دي په دغه پوهانو کښې د «فراید»، «یونګ»، «ولهیم» او «الفرد ادلر» نامې د ذکر ور دي چاچې د انساني د ژوند په دغه اړخ څېړنې کړې دي او داسې نتیجو ته رسیدلي دي چې د هغې په تناظر کښې مونږ کولې شو چې د خپل ژوند د ویرې ترهې دغه زهرژنه تیه په اسانه لرې کړې شو ځکه چې دا ژوند.. داورځې شپې ډېرې مختصرې دي چې په دې کښې د سړي سره یوه لاشعوري ویره ملګرې شي نو بیا دا ژوند دا لنډې داورځې شپې ډېرې ګرانې شي؛ نو غوره خبره داده چې د مکمل اعتماد او حوصلې په بنیاد د حالاتو مقابله وکړې شي.

د ډاکټر کبیرستوري «ویره» په دې وجه هم ډېر انفرادي کتاب دے چې تر اوسه پورې په دې موضوع چا لیکل نه دي کړي. او بیا په خصوصي توګه د غربي پوهانو د افکارو ژباړنه ډېره کمه شوې ده. ولې محترم لیکوال د خپل علمیت او پوهې په بنیاد دغه ګرانه ډېره اسانه کړې ده او په ډېره روانه پښتو کښې ئې د «ویرې» په حواله ډېر ګټور لیکل کړي دي.

«ویره» ټول ټال «شپږویشت» موضوعات لري چې په کښې د څېړنکارو هاغه ټول زور مشاهدات هم شامل دي. د کومو په ذریعه چې دا معلومه کېږي شو چې یو انسان ولې ویره کوي. او په کوم حال کښې کوم قسم ویره مخې ته راځي په دې کتاب کښې د مثالونو په ذریعه د ویرې د مختلفو حالاتو ذکر شوے دے. دغه رنګ یو لوستونکے د کتاب په لفظونو کښې د ننه د خپل ځان مشاهده کولې شي.

د کتاب په اخري برخه کښې ډاکټر کبیرستوري د یوې سوال نامې په شکل کښې داسې جدول ورکړے دے کوم چې د دې فیصله کوي چې یو انسان څومره ویره کوي یا هغه څومره دروغ یا رښتیا وائي د سوالونو ځوابونو د اسلسل ډېر خوند ور او په زړه پورې دے. ځکه چې د هر سوال سره لوستونکے د خپل ذات په هنداره کښې د ځان ژوره کتنه کوي. او چې کله ټول سوالونه حل کړي نو په اخره کښې بیا د فیصلې تعین کولې شي.

د پښتو ژبې پښتو ادب لمن د داسې قسم کتابونو نه بیخي خالي ده او حقه خبره داده چې مونږ د ادب لطیف د تخلیق سره سره د داسې تحقیقي کتابونو ډېر زیات ضرورت لرو ځکه چې ژبه هله د سیالو سره سیاله کېدے شي چې هغه د نورو ژبو د تخلیقاتو او تحقیقاتو نه استفاده وکړي. زمونږ د اولسي ژوند په مقابله کښې د نړۍ قامونه ډېر په وړاندې تلي دي. او هاغه منزلونو ته رسیدلي دي د کومو په لار چې زمونږ ډېر منزل پاتې دے. دا منزل مونږ په ژباړنو رالنډولې شو ځکه چې داسې به د پښتو لوستونکي د دغه نورو قامونو د پوهانو د مشاهداتو نه خبر شي.

ډاکټر کبیرستوري چې د ژوند په ټولو ړوزو پوهه دے. د اهتر لري چې د خپل مطالعې او د خپلې پوهې ټول اړخونه د لوستونکو سره شریک کړي. دا ځکه چې ډاکټر کبیرستوري خپل اولس خپل قام سرلوړے لیدل غواړي. او دغه سرلوړي په علم کښې ده. په پوهه کښې ده. کوم قامونه چې د علم په کالو ځان سنګار کړي نو دغه قامونه بیا سیالي کولې شي.

«ویره» په پښتو ژبه کښې یو داسې کته وره اضافه ده چې هرچاته خپله ائینه په لاس کښې ورکړي. په دې خیال په دې غرض چې هر لوستونکے د کتاب د یکو سره سره د خپل زړه په درزېدو هم نظر ولري او دا فیصله په خپله وکړي چې په عملي ژوند کښې کومه ویره د هغه ملګرې ده.

ډاکټر کبیرستوري د مختلفو اعصابي مرضونو د ذکر سره سره د هغې د علاج په حقله هم تفصیل بیودلے دے او ځنې هاغه دوایانې ئې هم ذکر کړې دي کومې چې د ویرې په حال کښې مدد کولې شي. ډاکټر کبیرستوري چې د خوشحال بابا د ویرې په حواله کوم شعر لیکلے دے زه دا خپله لیکنه هم په دغه شعر راغونډوم چې

زه خوشحال کمزورے نه یم چې به
دار کـــــړم
په ښکاره نعرې وهم چې خلق ئې
کـــــړه

موږ دپاره هم الله کافي دے او هغه تر ټولو بهتر مددګار دے (القرآن)

ABC CERTIFIED

Daily wahdat Peshawar

چیف ایډیټر
پیر سید سفید شاه همدرد

ورځپانه
# وحدت

پېښور
پاکستان

ایډیټر
سید هارون شاه

فون: 2214154 فیکس: 2214321

شنبه (خالی)، 25 ربیع الاول 1428 هـ ق، 1 جیټ، 2063، جلد نمبر 32
14 اپریل 2007ء، 25 وری (حمل) 1386 هـ ش، شماره 100، بیعه 5 روپی.


۱۴ اپریل ۲۰۰۷ء

نن په تهانک حملې کیږی، بنو کښې اور بل دے او د پښتنو دښمنان دلته داسې حالت جوړول غواړی لکه څنګه چې څه موده وړاندې افغانستان کښې وو. د ډاکټر کبیر روح موږ نه غوښتنه کوی چې ددې مسائلو دمخنیوی دپاره موږ شریک غور څنګ جوړ کړو. غونډې ته قیصر خان ایډوکیټ ووئیل چې د پښتون کلچر دپاره د ډاکټر کبیر خدمات ځلنده دی. نن د پښتو موسیقۍ سره د ټرلو خلقو بې عزتی کیږی.



داروانباو ډاکټر کبیرستوری د ورومبی تلین په مناسبت جوړې شوې غونډه کښې افضل خان لالا، پروفیسر جهانزیب نیاز، پروفیسر ډاکټر اعظم او ډاکټر شیرزمان طائزے په سټیج ناست دی.

# د پښتو قامی وحدت سره پښتو ژبه او کلتور وده کولے شی: افضل خان لالا

## پښتنانه په خوبرخو ویشل شوی او ددوی ترمینځ د رابیکل شو وکړنو د رسمی کولو هڅې روانې دی

## پاکستان کشمیر کښې دازغن تار غزولو مخالفت او په افغان پوله ئې دغزولو بخپله وړاندیز کوی

## د کبیرستوری د تلین په مناسبت جوړې شوې غونډې ته مختار یوسفزی، جهانزیب نیاز، پروفیسر شاه جهان، قیصر خان او نورو هم تقریرونه وکړل

پېښور (مدثر شاه) پښتنو چې ترڅو قامی وحدت نه وی ترلاسه کړے ترهغه پښتون کلتور او ژبه وده نه شی کولے. د قامی بوالی دپاره د ډاکټر کبیر ستوری خدمات او زیار د هیریدو نه دی او باید ټول پښتانه د کبیر ستوری دغه لار خپله کړی. دا خبره د عوامی نیشنل پارټی مشر افضل خان لاله تیره ورځ د نومیالی سیاست وال، پوهان، لیکوال شاعر او څیړن کار کبیرستوری دورومبی تلین په مناسبت دعالمی پښتو کانګریس د سیوری لاندې جوړې شوې غونډې ته دخطاب په وخت وکړه. غونډې ته د پښتونخوا ملی عوامی پارټی صوبائی صدر مختیار یوسفزی، دعالمی پښتو کانګریس چیئرمین پروفیسر جهانزیب نیاز، پروفیسر شاه جهان، قیصر خان ایډوکیټ، معظم خان، میرمن معراج همایون، ډاکټر انور ظفرباو نورو ګڼو لیکوالو شاعرانو او سیاستمدارو وینااوې وکړې. په دې موقعه افضل خان لاله ووئیل چې کبیرستورے هغه سیاست وال، ادیب او څیړن کار و چې خان له ئې هدف ټاکلے و او د دغه هدف ترلاسه کولو دپاره ئې نه ستړې کیدونکې مبارزه کوله. دا زیاته کړه چې زموږ بدبختی ده چې موږ په څو ټوټو ویشل شوی یو او د پښتنو ترمینځ رابیکل شوو کرښو ته د رسمی شکل ورکولو هڅې روانې دی. افضل خان لاله ووئیل چې نن هند پاکستان نه شکایت کوی چې پاکستان په کشمیر کښې مداخلت کوی او غوښتنه ترې کوی چې دکشمیر سرحد باندې دې ازغن تار وغزول شی. خو پاکستان ددغې تار مخالفت کوی. دغه رنګ افغانستان هم ګیله من دے چې پاکستان په افغانستان کښې لاس وهنه کوی نو په دې موقعه پاکستان افغانستان ته وړاندیز کوی چې باید په پوله ازغن تار ولګول شی. چې مقصد ئې دا دے چې د ډیورنډ کرښه رسمی بڼه ومومی. دا ووئیل چې قامی وحدت ترلاسه کول زموږ قانونی او اتینی حق دے. او افغانستان ته د امریکایانو په راتلو دې منطقه کښې دبدلون نخښې په واضحه ډول ښکاری. د ډاکټر کبیرستوری د تلین په موقعه جوړې شوې غونډې ته د پښتونخوا ملی عوامی پارټی صوبائی صدر مختیار یوسفزی ووئیل چې منظمې ګوندونه د پښتون ثقافت تباه کول غواړی. چې دا نه پوهاوې دے دغه خلقو بې عزتی ده بلکې ټول پښتون قام او کلتور ته سپک کتل دی. موږ باید په دې خبرو خاموشه پاتې نه شو. د ډاکټر کبیرستوری پخوانی ملګری ډاکټر انور ظفری په دې موقعه ووئیل چې ډاکټر کبیرستورے یو نرم او ساده ژوند تیرونکے انسان و او په سیاسی ژوند کښې هغه سره ډیر رازونه وو. خو خپلې مفکورې سره دومره مخلص و چې ډیر رازونه ئې قبر ته خان سره یوړل. دا ووئیل چې د ستوری دغه تحریک دې جاری وساتل شی. په دې موقعه ګڼو شاعرانو ډاکټر کبیرستوری ته د عقیدت پیرزوینو لړی کښې خپل کلامونه واوروول. د غونډې په پای کښې د عالمی پښتو کانګریس لخوا ورځپانې وحدت ته د پښتو ادب او کلتور د خدمتونو په اعتراف ستورے ایوارډ ورکړل شو. دغه رنګ ددغه نور ایوارډونه پروفیسر جهانزیب نیاز او اسدالله دانش ته هم د دوی د ادبی او فرهنګی خدمتونو په اعتراف کښې پیش کړے شول.

ورځپانه وحدت پېښور

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو ورځپاڼو کښې مخکښه ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

د دوشنبې (پیر) ورځ ... ۱۵ ستمبر ۱۹۹۷ء، 32 باد رو 2054 ب، جلد 12، شماره 290

# د ډاکټر کبیر ستوری «ژوندی خیالونه»

څوک په رضا د سلسکه نه ځي
یا ډېر غریب شي یا د یار دغمه ځینه

د دې لیک په تندي لیکلی شوې لنډۍ ډېره مشهوره ده او تراوسه پورې د پښتني دنیا د زړه اواز ده ما ته ئې د کبیر ستوری په تعلق را یاده شوه زموږ دا ستورے د کونړ د طبعي ښکلا د لمنې نه د جرمنی د صنعتی تمدن د غرغور فضا ته رسولو کښې د یار د غم ډېره برخه ده. البته یار ئې هیواد وے ځکه ئې ټول ژوند ډیر دامي رومانه هنداره ده چې په کښې د ده د زړه، ذهن، فکر او عمل هر اړخ کښې د وطن مینه او د ملت درد جوت او ډوډ ښکاری که ئې تعلیم کښې لګیا وی که د روزی په تابیا مصروف وی نو «دست در کار او دل با یار وی». او چې دې دوران کښې څه وخت پیدا کړی هغې کښې هم د نوی تمدن او تهذیب په مست او رنګین ازاد ماحول کښې سیل، تفریح، او مزې چرچې نه کوی بلکې د هیواد او ملت د پاره ټول او زیار کوی د ذهن هر قوت، د قلم هر کش او د وخت هره شیبه خپل اولس کښې که هیواد کښې وی که بیرون دنیا کښې د وطن د مینې او خدمت جذبه را اولړزوی ملی احساس پیدا کړی د بیداری وینه ګرمه کړی او د تش تش غیرتي اولس نه د قومي وحدت یو قوت جوړ کړی چې خپل جنت هسې وطن د کورنو او بهرنو غاصبانو د زیلو، لوټلو او خرابولو نه وساتی او د زمکې په مخ تری په رښتیا جنت جوړ کړی

په دغه لیونی مینه او ریښتنی هوډ به جرمنی او یورپ کښې هم ورځ او شپه لګیا وے د وطن والو د تیارولو راغونډولو او منظم کولو د نده ئې د عمر سره سمه خپله کړې ده د هیواد والو ذهن روښانه کولو او د سرام لاره روښانولو د پاره ئې قلم دلاسه غورزولے نه وے او لر و بر پښتنخوا نه ئې هم ځان رسولے وے تر څپله وسه ئې د ملی تحریک او زواک خدمت کړے او کوی تر دې چې د یو شاعر او انسان په حیث ئې احساس جمال د بشری حسن نه هم متاثر کړی نو زموږ په ستوری د ملی ژوند د بانیست د احساس څپه راشی او وے د ژوند په ځرزو برزو او د ادب او شعر



لیک: محمد اجمل ختک

په ذوق کښې د خپلې خاورې او اولس ترجمان شی رښتونے پښتون شی چې د شعرونو دغه مجموعه «ژوندی خیالونه» لکه د ده د نور شعری او نثری ادب زما د دې وینا ثبوت وے هر څوک چې ئې لولی دا خوند او رنګ به پکښې وینی

زه چې د خپل شاغلی ستوری دا کتاب «ژوندی خیالونه» بیا بیا لولم نو هر ځل پکښې راته د ده د خپل ملی سرام سره د ژورې او عمری مینې خصوصاً د سوچه پښتو او سپڅلې پښتونوالې د غیرتی احساس او لیونی تړون داسې شعور او فن ښکاری چې په ښکلی رنګ کښې د خاورې نګ او د وینې غورزنګ د مثالی اشعارو رنګینه او حسینه جامه اغوستې وی او س چې دا څو الفاظ لیکم نو د خپلې رائې د ثبوت د پاره هم راته ډیر اشعار راوړاندې شول خو زه چې خبره اوږدول نه غواړم نو هغه دلته نه لیکم او د دې کتاب په معنوی او ادبی اړخونو هم بحث کول نه غواړم «مشک انست که خود ببوید نه که عطار بګوید».

المختصر زموږ د مسافر ستوری دا کلام «ژوندی خیالونه» په پښتو ژبه د پښتني وینې او مینې د پښتنو د ننني او پرونی زخمونو او سبانی ارمانونو او پښتونوالې د ژوند او مستقبل د پسرلی وږمې دی دلته د ده دا شعر ضرور لیکم چې د خوشحال بابا نه واخلې د فخر افغان بابا او تر ستوری پورې د هر تنکیالی مشر کشر پښتون ارمان وے

دا ستورے د پښتون د خپلواکی په هله ځلې
روڼ شی
چې واړه پښتانه په یو مرکز ټول شی
جرګه شی

چارشنبه ۸ اکتوبر ۱۹۹۷ء
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR
ورځپاڼه پېښور
وحدت

# دنړۍ نوے نظم د پښتنو څخه نوے سوچ او فکر غواړي

دشوروي اتحاد د ړنګېدو وروسته د دوؤ سترو ځواکونو نظریه خاورو ته وسپارل شوه چې نړۍ ئې په دوؤ برخو وېشلې وه او حتی د ملګرو ملتونو قانونو ترسیخ ئې کړېده راڅکلې وه، اوس په نړۍ کښې یو ستر ځواک باقي دے چې هغه د امریکا متحده ایالتونه دي. نړۍ د اقتصادي مفاداتو په بنسټ په ګوټو اوځنو وحدتونو باندې وېشل کېږي چې دې ته د نړۍ نوے نظم وائي. داچې د نړۍ ددې نوي نظم بنسټ اقتصاد دے نو په یوه منطقه کښې هغه ملکونه چې ګډ اقتصادي مفادات لري په یوه اتحاد یا سنډهي کښې راټولېږي. د ملکونو په منځ کښې جغرافیائي پولې خپل اهمیت دلاسه ورکوي چې مثال ئې اروپائي هېوادونه دي.

سیاست د اتحاد یا سنډهي د ګټو د ساتلو دپاره منطقوي خوی پیدا کوي او لوڅ د اتحاد یا سنډهي داس په خدمت کښې راوستل کېږي. دا د پښتنو څخه هم نوے فکر او سوچ غواړي چې خپل سیاست ته سیمه ایزه (منطقوي) بڼه ورکړي او دټولي منطقي سیاست ئې وکړغوي او په یوه غټ چوکاټ کښې د خپل قامي وحدت په لور روان شي.

ترکمنستان نه د پاکستان او افغانستان په خاورو کښې د تجارتي لار جوړېدنه زمونږ په سیمه کښې د سنډهي د جوړېدلو او ابادۍ بنیاد دے. د لارې جوړېدو له داهم رابه ګټه کوي چې د افغانستان او پاکستان مفادات به اوس وخت کښې شریک شوي دي. د مفاداتو شریکوالے ددوارو ملکونو ترمنځ د نږدې والي ضرورت پیدا کوي او د افغانستان او پاکستان ترمنځ د کنفډریشن بنسټ ګرځېدلے شي. ددې تجارتي لارې دپاره چې نه یوازې د افغانستان او پاکستان په ګټه ده بلکې د مرکزي اسیا د نورو ځواک سوو هېوادونو په ګټه هم ده. په افغانستان او منطقه کښې امن ټکار دے خو د امن د منځ ته راتګ څخه ایران او روسیه نسبي دا ځکه چې ایران خپله د انرژۍ چینې لري. په دې کښې ځانته تاوان وېني، چې په حقیقت کښې د ترکمنستان د انرژۍ د حنو څخه کار واخستل شي نو دیوې خوا په افغانستان کښې به امنی حوزوی او د بلې خوا ددې څخه کوي چې د تجارتي لاره د ایران دلارې تېره شي او هرڅه ئې پخپله قبضه کښې وي. همدغه شان روسیه هم د ترکمنستان څخه ئې پخپله خاوره کښې د انرژۍ تلونه تېرولي دي نه غواړي چې د انرژۍ بل ځائي کښې اخستونکي ولري او په دوی باندې د انرژۍ قسمه شي ځکه چې هر څومره چې ددې انرژۍ بیسې تقاضا زیاتیږي هغومره ئې بیه جګیږي.

لنډه داچې په افغانستان کښې اوسنۍ جګړه د سنډهي او اقتصادي مفاداتو جګړه ده د یوې خوا د پاکستان او افغانستان او د مرکزي اسیا د نورو خپلواکو هېوادونو مفادات او دبلې خوا د ایران او روسې مفادات دي. په دې کښې د امریکا متحده ایالاتونه مهم رول لوبولے شي چې نه یوازې د نړۍ یوازنے ستر ځواک دے بلکې د خپلو ملګرو سره یوځائي د انرژۍ ستر اخستونکے هم دے. دایران نه لارخه تجارتي لاره د انرژۍ د اخستونکو هېوادونو دپاره د یوې خطرو ډکه ده ځکه چې ایران به ئې د خپلو اقتصادي ګټو دپاره په مختلفو بهانو بندوي او د خپلې انرژۍ خرڅلاو دپاره به بازار ګرم ساتي. د افغانستان او پاکستان په خاوره کښې لاره نه یوازې بې خطره او د دواړو وړه، بلکې د افغانستان او پاکستان او مرکزي اسیا د هېوادونو د هوسائي او ابادۍ او په یوه سنډهي کښې راټولېدو بنسټ دے. دا نه یوازې د منطقي ملکي د ټولي نړۍ په ګټه ده د دې هدف دپاره په افغانستان کښې د جګړې او لوځي ډلو ټپلو د خپلو ټولو ډله ډله بکار ده چې امن او پښتګښت منځ ته راشي او په دې توکه د کې ګوندېزي پارلماني اولسواکي دپاره شرائط برابر


لیک: ډاکټر کبیر ستوری

شي، چې ټول سیاسي ګوندونه د وطن په ابادۍ کښې برخه واخلي او هرچا ته پکېنې ددې امکانات ورکړے شوي وي چې خپل سرپښتوب (شخصیت) ته په ازاده توکه وده ورکړي او هم پکېنې ورونه قامونه (پښتون ازبک هزاره او تاجک) په فدرالي بڼه کښې د ملک په سیاسي، اقتصادي او کلتوري ژوند کښې عادلانه برخه ولري.

د نړۍ اوسنے تاریخي پړاو د اولسونو او قامونو ترمنځ د سولې او ورورولۍ په څخو ولاړ دے. د جنګ جګړې او دبیتي ځائي شلحه او ورورولي بیسي واکمن بدلیږي او قامونه پائي کېږي د قامونو په منځ کښې ورورولي او په کاولډنتوب د سکمرتي نه ده. د افغانستان او پاکستان ترمنځ کنفډریشن د ګډو مفاداتو د دفاع دپاره د وخت ضرورت دے. او د پښتو د قامي وحدت په لور یو غټ ګام دے چې په سیمه کښې د سولې امن پښتګښت او هوسائي تضمین دے.

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو ورځپاڼو کښې مشهوره ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه **وحدت** پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

د سه شنبې (نهې) ورځ، ... 15 جولائی 1997ء، 31 هاړ 2054 ب، جلد 12، شماره 190

# پښتانه نور د یو بل نه بیل نشي پاتې کیدے، افضل خان

## نړۍ په یو عالمي اتحاد کښې د راغونډیدو لارې چارې لټوي

سوات (وحدت خبریال) د پښتونخوا قومي پارټۍ مرکزي مشر، پخواني وفاقي وزیر او قام پرست لاړښود په خپل یو بیان کښې ویلي دي چې پښتون د یو وحدت قوم په توګه نږدې سل کاله وړاندې یو استعماري قوت دا وحدت ځکه د یو سازش تر مخه ټوټې ټوټې کړو چې هغوی ددې نکیالي اولس نه

پاتې صفحه اخر شپږم کالم

**پاتې :: محمد افضل خان**

خپله بدله اخستل غوښتل دا خبرې محمد افضل خان د جرمنی د ښار کولن نه په واپس کیدو خپل کلي د روښخیله سوات کښې د سپین ږیرو یو لوې ولې ته کولې. قامي مشر ووې چې اوس د ټولې نړۍ حالات داسې دي چې د قامونو ترمنځه فاصلې ختمېږي. د جرمنی د یو کیدو نه پس هانګ کانګ هم تقریباً یو نیمه صدۍ پس بیا د چین لمنې ته لاړو. دا ددې خبرې واضح ثبوت دے چې نن د عالمي اتحادونو دور دے پښتانه نور ډیره موده د یو بل نه بیل نه شي پاتې کیدے. د ډیورنډ د کرښې اوس هیڅ قانوني حیثیت نشته ځکه چې ددې کرښې نه دواړو غاړو ته د یو نیکه اولاد اوسیږي. د یو کلتور، یوې ژبې خاوندان ژوند کوي. نو دوی به تر کومې پورې په خپلو کښې داسې ولې ولې او لرې لرې پراته وي. محمد افضل خان ووې چې په جرمنی کښې د پښتنو د یو والي د ورځې په مناسبت سره کیدونکې غونډه کښې د ګڼو قام پرستو، تنظیمونو نه علاوه د نورو افغان تنظیمونو غړي هم د ګڼو هیوادونو نه راغلي وو او د هر یو کس په زړه کښې هم دغه ارمان وو چې هغه سباؤن به کله راځي چې د پښتون قام د سرې دا د تقسیم شوے لیکې ختمې. دوی په دې لړ کښې په جرمنی کښې د پښتون ټولنیزا او اولسولیز غورځنګ مشر کبیر ستوري ته خراج تحسین پیش کړو چا چې د دې لوئي مرام دپاره په هر ډول ګامونه اخستي دي. پخواني وفاقي وزیر ووې نن چې نړۍ په یو عالمي اتحاد کښې د راغونډیدو لارې چارې لټوي د یوې کرنسي خبرې کیږي نو بیا به چې پښتون اولس هم د خپل قامي وحدت دپاره سوچ وکړي. خپل ځان وګڼي دا نه صرف د پښتون قام خپله ذمه واري ده بلکې د نړۍ د ټولو قام پرستانو هم دا اخلاقي او سیاسي ذمه واري ده چې د پښتنو د یو والي دپاره ټولې لارې چارې برابرې کړي. محمد افضل خان ووې چې زمونږ د اتحاد نه بغیر او زمونږ د سوکالۍ نه بغیر به ټوله ایشیاء بالخصوص او په ټوله نړۍ بالعموم امن نه شي قائمیدے.

نهې (سه شنبه) ۱۵ جولائی ۱۹۹۷ء
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبی ورځپاڼه

ورځپاڼه پېښور

# وحدت

چیف ایډیټر
پیر سفید شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

دجمعې ورځ 20 شعبان المعظم 1424 هـ ق، 24 تله میزان 1382 هـ ش
17 اکتوبر 2003ء، 29 اسو 2060 ب، جلد 28، شماره 285، بیعه 4 روپۍ

# د ډیورنډ لائن لوظنامه د حاکم او محکوم ترمنځ وه، افضل خان

## پیرنګیانو د خپلو مفادو دپاره پښتانه په څلورو برخو ویشلي وو

### د دواړو ملکونو حکومتونه د پښتنو د قومي وحدت دپاره خپلو کښې خبرې وکړي دسیمینار وروستي برخې ته خطاب

### لطیف اپریدی، حاجي بلور، سکندر شیرپاو، سلیم سیف الله، کبیر ستوري، ولي محمد خلیل، میا افتخار او نورو شخصیاتو هم تقریرونه وکړل

پېښور (وحدت خبریال) د پښتون قومي جرګې کوربه او د پښتونخوا قومي پارټۍ مشر افضل خان د پاکستان او افغانستان حکومتونو ته مطالبه کړېده چې د

پاتې صفحه 5 کالم 2

پاتې: افضل خان لاله

د ډیورنډ کرښې دواړو خواؤ ته د اباد و پښتو د قومي وحدت دپاره خپلو کښې خبرې او اقدامات وکړي. او د کرښې نه د تېرېدو راتېرېدو دپاره د پاسپورټ په ځای دې د ریډ پاس په ذریعه د تللو راتللو اجازت ورکړې شي. تېره ورځ د دوه ورځنی پښتون قومي جرګې اخري سیشن ته خپل خطاب کښې دا وویل چې د ډیورنډ کرښې لوظنامه د حاکم او محکوم ترمینځه وه پیرنګیانو د خپلو مفادو دپاره پښتانه په څلورو برخو ویشلي وو. نن چې ټول خوارة وارة قامونه رایوځای کیږي پښتنو ته هم متحد کېدل پکار دي. په دې موقع لطیف اپریدي وویل چې د ډیورنډ لائن ختمولو دپاره به د پاکستان او افغانستان پښتنو ته قرباني ورکول وي. دا وویل چې دا کرښه به د حکومتونو نه بلکې د عوامو په کوششونو ختمیږي. دا افغاني چارو کښې د لاس په نه وهلو زور راوړو او قبائلي علاقو کښې د فوځ د تعیناتۍ مخالفت ئې وکړو. په دې موقع رحمت شاه سائل هم تقریر وکړو. ډاکټر کبیر ستوري په خپله وینا کښې وویل چې د افغانستان او پاکستان وروستي حالات د دې خبرې ښکارندوي کوي چې د دواړو قومونو چې د ډیورنډ د کرښې نه یوې اوبلې خوا ته پراته دي ګټې او تاوانونه ئې شریک دي. د عوامي نیشنل پارټۍ حاجي غلام احمد بلور په خپله وینا کښې وویل چې پښتانه ترڅو ویش او یو موټې نه شي یوه مسئله هم نه شي حل کولې. دا د پښتنو په یوکېدو زور راوړو. د پیپلز پارټۍ سکندر شیرپاؤ بیا په دې ټکو وویل چې په دغه حساس وخت کښې د ډیورنډ کرښې په خبر متنازعه مسئلې راخېژول د پښتنو په ګټه نه تمامیږي. د مسلم لیګ قائداعظم ګروپ سلیم سیف الله زیاته کړه چې د پاکستان د پښتنو نورې ډیرې مسئلې دي چې باید حل شي. ولي محمد خلیل په خپله وینا کښې وویل چې د ډیورنډ کرښه په کال ۱۸۹۳ کښې د سیاسي فشارونو له کبله د هغه وخت د واکمن امیرعبدالرحمان خان او انګریزانو ترمینځ لاس لیک شوه خو امیرحمزه مروت بیا په دې نظر وچې دا د یو ظالم او مظلوم ترمینځ معاهده وه او د هغه مهال د پښتنو مشرانو او پوهانو کمزوري وه چې د دغې فرضي لیکې پوښتنه ئې ونه کړې شوه. اقبال خبروال په خپله وینا کښې وویل چې د ډیورنډ په لیکه د افغانستان دریځ واضحه دے په شپږویشتمه جولایۍ کال ۱۹۴۹ کښې د افغانستان لویې لوئې جرګې د انګریزانو سره ټولې معاهدې ماتې کړې وې چې د ډیورنډ کرښه هم پکښې شامله وه. ډاکټر سید عالم په خپله وینا کښې وویل چې د ډیورنډ کرښه نه افغانستان منلې ده او نه د پاکستان پښتو سیاسي ګوندونو. نو داخبره باید سپینه او دا مسئله باید حل شي. دا وویل چې زه د ملت پالو ګوندونو نه پوښتنه کول غواړم چې د ډیورنډ کرښه په مارګله کښې ده او که جهلم کښې د عوامي نیشنل پارټۍ میا افتخار حسین وویل چې موږ په دوؤ کښې راګیر یو د پاکستان په اسملۍ کښې د دغه ملک د وفاداري قسم هم خورو او د افغانستان سره د یو والي خبره هم کوو. د یادونې وړ ده چې د افضل خان لاله رابلل شوي سیمینار کښې اکثرو پښتنو مخالفو سیاسي شخصیتونو د یو بل خبرې واورېدلې. هم دا راز هریو په دې خبره زور اچولو چې باید پښتانه یو شي.

ورځپاڼه وحدت پېښور

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

# وحدت

چيف ايډيټر: پير سفيد شاه همدرد

د دوشنبې (پير) ورځ، ۲۷ لوي اختر، ۱۴۱۷ هـ ق، ۱۵ غويی (ثور) ۱۳۷۶ هـ ش، 5 مئی 1997ء، 22 چيتر 2054 ب، جلد 12، شماره 120

بيه: ۲ روپۍ (۴) پاڼې

رجسټرډ نمبر پي ۲۸

## د کبير ستوري «ژوندي خيالونه»




«ژوندي خيالونه» د پښتو د بر کاله د ملت پال پښتون شاعر اديب او علمي شخصيت ډاکټر کبير ستوري د شعرونو مجموعه ده چي اوس اوس خپره او خوره شوه په دې مجموعه کښې چې کوم نظمونه، غزلونه، ترانې، ښندرې او شعر ټوټې شاملې دی په هر يوه ټوکي کښې ې د خپلې خاورې او ملت مينه په غورځنګ ده په کتاب سريزه ستر ادبي او سياسي شخصيت اجمل خټک ليکلې ده او د ليکوال لنډه پېژند ګلو د کتاب په شاتنۍ مخ درج ده ټرون ې د محمد افضل خان په نوم شوېدې د کتاب مخونه اته اتيا سرپاڼه پيا ئيسته، کاغذ سپين او کتابت کمپيوټري دے علاقمندان ې د پېښورد لويو کتابتونو ځخه ترلاسه کولے شي.

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو وړومبې ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

17 Oktober 2003

د اقتصادي حالت به کیدو دپاره

# پښتو ته پخپلو وسیلو اختیار پکار دے، حاجي بلور

## ډیورنډ لاین که یو خوا د پاکستان سرحد دے خو بلخوا ددې کرښې په وجه پښتانه تقسیم شوي دي

پېښور (وحدت خبریال) د اے این پي مرکزي مشر حاجي غلام احمد بلور ویلي دي چې د پښتنو اقتصادي حالت به هغه وخت سم کیږي کله چې پښتنو ته پخپلو وسیلو اختیار حاصل شي زمونږ جماعت ددې مقصد دپاره علي خلپ کوي. د زیارت په ورځ پېښور پریس کلب کښې د پښتون قامي جرګې په نامه دوه ورځنۍ کانفرنس ته د تقریر په وخت دۀ ووئیل چې خان عبدالغفار خان باچا خان د پښتنو د حقونو دپاره کومې قربانۍ ورکړي دي د ښرې یو لیډر هم د قامي حقونو د پاره نه دي ورکړي. دۀ ووئیل چې د پښتنو د حقونو د پاره د هر کوم مشر په مشرۍ کښې چې کار کیږي مونږ ټې هر کلے کوو. دۀ ووئیل چې زمونږ د پارټۍ د مشرانو کردار د چانه پټ نه دے دۀ ووئیل چې خلق وائي چې د صوبې د نوم بدلولو سره به د عورو اورو ټر خونه راګم نه شي مونږ وایو چې د صوبې نوم بدل شي نو پښتنو ته به شناخت په لاس ورشي. دۀ ووئیل چې د ډیورنډ لاین یو حیثیت دا دے چې د پاکستان سرحد دے نو ددې دویم حیثیت دا دے چې دې پښتانه تقسیم کړي دي. دۀ ووئیل چې هندوستان عالمي طاقتونو اوویشلو اوس وارۀ قومیتونه د پنجاب د لاس لاندې دي. دۀ ووئیل چې انګریزانو رومبے د ډیورنډ لاین په ذریعه پښتانه تقسیم کړل او دلته ټې هم پښتانه یو ونه ساتل او د دوی شناخت ټې ختم کړے دے. دۀ ووئیل چې ون یو نټ په حقیقت کښې ګریټر پنجاب وو. دۀ ووئیل چې د پاکستان د جمهوریت نوم په حقیقت کښې د پنجاب د امریت نوم دے مختلف قامونه که یو کیدے شي نو پښتانه ولې نه شي کیدے دۀ ووئیل چې د پښتنو په وسیلو نورو قبضه کړې ده ددې د خاصلولو دپاره د اتحاد ضرورت دے.

ABC CERTIFIED
THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN
MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو وړومبی ورځپاڼه
ورځپاڼه
پېښور
وحدت
چیف ایډیټر
پیر سفید شاه همدرد
رجسټرډ پي نمبر 27

دجمعې ورځ 27 شعبان المعظم 1424 هـ ق، 1 لړم (عقرب) 1382 هـ ش
24 اکتوبر 2003ء، 6 کتک 2060 ب، جلد 28، شماره 292، بیعه 4 روپۍ

# دميرويس بابا پګړۍ

ډاکټر کبير ستوری

بچې دي د پښتون ډير شی کۀ لر وی اوٌ کۀ بر
هر ګټ کښې دې پيدا شی د خوشحال نيکۀ لښکر
د پت ښيګړې تورې وروروليی ئې جوړه ختيه
پۀ ننګ کښې ئې اخښلی د پښتون هډ اوٌ تبر
پښتو اوٌ پښتونوالي پۀ ورونی کښې ئې ونغاړه
اے پلاره د ميرويس بابا پګړی کړه ورپسر
چې سر تيټ نۀ کړی غيرته ازادی سندرې وائی
اوٌ تورې د ښکيلاک ته ئې سينه وی لکه سپر
د تورې اوٌ قلم خاوند چې هر پښتون بچے شی
نو هله به روښانه شی بيا ستورے د سحر

Wahdat@pes.comsats.net.pk

مولږ د پاره هم الله کافي دی او هغه تر ټولو بهتر مددګار دی (القرآن)

Daily wahdat Peshawar

چيف ايډيټر
پير سيد سفيد شاه همدرد

ورځپاڼه
وحدت
پېښور
پاکستان

ايډيټر
سيد هارون شاه

فون: 2214154، فيکس: 2214321 بيعه 4 روپۍ

جلد: 31 | پکشنبه المبارک 16 ربيع الثاني 1427 هجري، 1 بيساکھ 2063 بکرمي، 14 مئی 2006 عيسوي، 24 ثور 1385 هجري شمسي | شماره: 130

## د پښتونولي فلسفه

ډاکټر کبير ستوري

ښښب دې دا وتدون د پښتونوالي فلسفه شي
لمن دې دادب د خوشحالو ګرمه ډېره شي
اولس دې د ځورېدلې خوزړا باندې خندا نه شي
پېدا دې دې اولس ته د خندا بوه شپه شي
د رمل د ځورېدلو انسانانو په امېد شي
امېد دې د ژوندون د سو کالۍ ورته نغمه شي
امېد د خوشحالۍ او سو کالۍ چې زړه کښې نه وي
انسان په سې جوړ شي ځانې ټې کورا وهډ بروشي
داستو يې د پښتون د خپلواکۍ په هغه رڼ شي
چې واړه پښتانه په يو سر کړ يو ل شي جرګه شي

وحدت

چيف ايډيټر پبلشر پير سيد سفيد شاه همدرد ورځپاڼه "وحدت" د پاکستان د حکومت په تصديق د وحدت پريس خيبر بازار پېښور نه خپروي. ايډيټر پير حسام شاه
ايډيټر: ظفر علي شاه ګيلاني، پته: ورځپاڼه وحدت، ۲۰ اسلاميه کلب بلډنګ
خيبر بازار پېښور. فون: ۲۱۴۰۲۴ ۲۱۴۱۵۴ فيکس ۲۱۴۳۲۱
Emile: wahdat@pes.comsats.net.pk

پنجشنبه د زيارت، ۱۶ اکتوبر ۲۰۰۳

# پښتانه باید ملي وحدت ته توجو وکړي، اجمل خټک

مستقبل کښې دېوي غټې اژدها صورت کښې پښتو باندې مصيبت راروان دې، باید پښتانه ئې مخه ونيسي، سيمينار ته خطاب

پاکستان کښې د ټولو قومونو د پيژنګلو تسليمولو نه بغير د وفاق چليدل ګران دي، جلال محمود شاه



پېښور پريس کلب کښې د ......

CNI

پېښور (وحدت خبريال) د عوامي نيشنل پارټي مرکزي رهنما اجمل خټک وئيلي دي چې مستقبل کښې پښتو باندې د يوې غټې اژدها صورت کښې مصيبت راروان دې چې پښتو له اوس نه د دې صحيح سوچ يکسار دے او د ملي وحدت طرف ته توجه ورکول پکار دي. د پښتونخوا قومي پارټي

باقي صفحه ۶ کالم ۶

وحدت
ورځپاڼه پېښور

ورځپاڼه پېښور WAHDAT
وحدت
چیف ایډیټر و پبلشر پیر سید سفید شاه همدرد ورځپاڼه "وحدت" د پاکستان د حکومت په تصدیق د منظور عام پریس خیبر بازار پېښور نه خپروي، ایډیټر پیر رحمدل شاه،
پته: ورځپاڼه وحدت ۲۰ اسلامیه کلب بلډنګ خیبر بازار پېښور
ټیلیفون: ۲۱۳۰۳۲، ۲۱۳۱۵۴، ۲۱۲۴۴۳ فیکس نمبر: ۲۱۳۳۲۱
Email: Wahdat@psh.brin.net.pk.

## «دستوري دقلم توره»

د «قلم توره» دنوميالي ملت پال شاعر ډاکټر کبير ستوري د شعري ټولګې نوم دے دا کتاب د پښتونخوا د پوهنې ديره پېښور په اهتمام خپور شوے دے، د دې شاعرۍ او شاعر په حقله ليکل لائق زاده لائق کړي دي دا شعري ټولګه د ډاکټر کبير ستوري په نوو نظمونو مشتمل دے ټول مخونه ئې يو سل نهه دي، ټائټل ئې رنګينه، کاغذ سپين او کتابت کمپيوټري دے، ليکلي پيغه نه لري د کتاب تړون د خان عبدالولي خان او ميرمن نسيم په نوم شوے دے د پېښور ښار په کتابخانو کښې تر لاسه کيدے شي، ډاکټر کبير ستوے په المان (جرمني) کښې مقيم دے.

## نوې ملالۍ

ډاکټر کبير ستوے

ځان دې سپيلنی کۀ، ځار د خپلې پښتونخوا نه شه
اے پښتنې پېغلې د پښتو د باغ باغوانه شه
دا پښتنه خاوره دوخت نوې ملالۍ غواړي
جوړ کړه يو لښکر د پېغلو سخکښې ئې روانه شه
وخت نۀ ايسا رېږي قافلې دژوند رواني دي
دروسه د منزل په لور ډيوه بله روښانه شوه
ستوے به قيصې ستا د ميړانې او غيرت کوي
پورته کړه جنډه د پښتون جګه تر اسمانه شه

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN
ABC CERTIFIED
په ټول ملک کښې د پښتو ورومبې ورځپانه
MEMBER APNS
ورځپانه پېښور
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR
وحدت
چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد
دشنبې (خالي) ورځ، د مسانه ۱۸، هـ ق ۱۴۱۸، کب (حوت) ۱۳۷۶ هـ ش، 14 مارچ 1998ء، جلد 23، شماره 71

## پښتونولي

پښتونولي د جرګو یو اولسي سیستم (نظام) دے چې ډیموکراټیک (جمهوري) خوی لري. جرګه کښې شي چې د کورني، کلي، منطقې، قبلې، او قام په سویه منځ ته راشي، د ټول قام په سویه سره جرګې ته لویه جرګه هم وائي خو دا جرګې یو بل پورې تړلې نه دي.

موقتي (عرضي) غړیو کړي او خپلوا که بڼه لري. په هره جرګه کښې په خپله سویه سره لکه د سټیټ (هیواد، ریاست) په شان مقننه، عدلیه او اجرائیه قوه راغونډه شوې وي له دې کبله خپلو پریکړو ته بې د بهرنې مرستې خخه د عمل جامې اغوستلے شي.

د پریکړو د عملي کولو توان د جرګې د کهون کورنیو د نفوذ د ساحې پورې اړه لري. که چیرته د جرګې د کهون کورنیو د نفوذ ساحه کوچنۍ وي او خپله پریکړه عملي کولے نه شي نو بیا په جرګه کښې نور داسې کسان زیاتیږي چې د نفوذ ساحه ئې د پریکړو د عملي کولو د پاره بسیا وکړي.

د پښتو جرګې د هرچا له خوا راغوښتل کیدے شي او د پروخت د کمزورۍ له خوا. او کله کله د پیښو د ضرورت له کبله یې له دې چې څوک ئې راوغواړي منځ ته راځي او خلق د جرګې لپاره پخپله راټولیږي، د جرګې د کهون کورنیو غړ لګوالے او شمیر د پیښې او لانجې د غړلګوالي پورې اړه لري. جرګه ټولنیزې، سیاسي او حقوقي پریکړې کولے شي، په جرګه کښې هغه کله راټې نه اخستل کیږي، په هغه موضوع باندې چې جرګه ورته رابلل شوې وي تر هغو خبرې او بحث کیږي چې ټول موافق نه د ټولو په خوښه ورسیږي. او بیا پرې د دعا لاس پورته شي. کله نا کله جرګه په لانجه کښې د برخه والو څخه واک اخلي او بیا د هر اړخ سره بیلې بیلې خبرې کوي، دا خبرې تر هغې دوام لري چې ټولو خواو ته قناعت ورکړے شي او روغې ته راضي شي.

د جرګې راغوښتلو او جرګې جوړیدو سره سره جرګه لیرل هم په پښتو کښې رواج دے. چانه چې جرګه ولیږل شي مخ او خاطر ئې کوي او د دېرخه نه ورته تیریږي.

پښتونولي پوخ نظریاتي او فلسفي بنسټ لري چې په لاندې درې ترونو ولاړ دي.

۱) پښتو: پښتو یوازې د پښتو ژبه نه ده، بلکې د یو شمیر صفتونو مجموعه ده لکه پت، ننګ، ننګ، میړانه او داسې نور. دا صفتونه هر پښتون کښ مور وي که غریب یا بډه دي چې وي لري د پښتو بابا خوشحال خان خټک هم هغه خبره تائیدوي چې وائي:

دوست پښتون د لنډ ها ره تر ا نکه
سره یو د ننګ په کار پت او اشکار

پښتو د پښتو کهه ښکلا ده. ننګ چې د پښتو یوه برخه ده د هر پښتون ښاست دے او هیڅ پښتون به دې ښاست کښې د بل نه کم نه وي د پښتونولي ډیموکراټیک (جمهوري) خوی په پښتو بعضي په دې صفتونو کښې بروت دے چې ټول پښتانه پکښې مساوي دي.

۲) دودونه او ترخونه: لکه روغه،



ډاکټر عبدالکبیر ستوري (جرمني)

نانغه، ننواتې، سوله او داسې نور. لکه چې د ټولو جرګې پریکړه د بلې جرګې لخوا وسنل شي او یا مختلفې جرګې په یوه لانجه کښې په نابلې توګه یو شانته پریکړه وکړي نو دوحت به ئې بدلو سره دود (دستور) یا نرخ کرځي.

۳) پیغور: د پیغور په واسطه د پښتو (صفتونه) په پوښتنه کښې اچول کیږي چې د پښتو د تهذیب او کلچر نه خوښونه پکښې نغښتې دي پښتو ویل او پښتو کول دواړه سره تړلي دي.

پښتونولي د پښتو لیکوالانو

سرپیره د نړۍ د یو شمیر لیکوالانو پام هم ځانته راړولے دے او د خپلې خیړنې موضوع ئې ګرځولې ده. له دې کبله یو شمیر اروپائي پوهان خیړونه پریږدو او بیا پرې لنډه تبصره کوو.

ماکس کلیم بورګ (Max Klimburg Afghanistan, Wien 1968) اطریشي پوهان د پښتونولي د لاندې د پښتو یو عنعنوي یا حقوقي سیستم بولي چې ترټولو سره قضا (عدالت) ئې جرګه ده او لیکي چې: په جرګه کښې د ازادو ډیموکراټیکو کړو وړو سره سم د دائرولو له مخې نه شر لري او نه د غونډې په وخت کښې هر تن د پاره یا کلي خانونه وي. سپینږیرو تابیلې ځائې کښې د همغږو کسانو په ډله کښې ناست وي او هر څوک چې هر کله کله وغواړي کولے شي چې پاخیږي خبرې وکړي او لار شي. د جرګې د پریکړو لپاره د رایو د پر والي شرط نه دے. هغه کله رائې نه اخستل کیږي بلکې د مخالفو کسانو نښوالے ارزښت لري. د جرګې د پریکړو عملي کول د جرګې د کهون کورنیو پېښه پوښتنه د نه ده. همدغسې ویلي کروزې (Willy Krause. Afghanistan Basel 1972) او نور بهرني لیکوالان پښتونولي یوازې یو دوبار دود یا حقوقي دود ګڼي.

د پورتنیو لیکوالانو دا نظریه چې پښتونولي د پښتو یوازې حقوقي دود یا سیستم دے سم نه ښکاري نه

نور په دریم مخ

وحدت 14 مارچ 1998

پاتې:: پښتونولي

پرېښې ځکه جرګه چې د پښتونولۍ تر ټولو ستر مقام لري یوازې حقوقي پرېکړې نه کوي، بلکې ټولنیزې او سیاسي پرېکړې هم کوي. د دې خبرې په ثبوت داوړي چې پخپله احمد شاه بابا په (۱۷۴۷ع) د جرګې لخوا دافغانستان مشر ټاکل شوی دی، له دې کبله پښتونولي یوازې یو حقوقي سیستم نه شي ګڼلی کېدلی بلکې ټولنیز او سیاسي سیستم هم دی. د کلیم بورک داخبره سمه ده چې د پښتنو جرګه ډیموکراتیک (جمهوري) خوی لري او هرڅوک پکښې په ازادانه توګه خبرې کولی شي او خپله نظریه څرګندولی شي خو داچې وائي چې جرګه مشر نلري په دې خبره پکار ده چې ووایو چې جرګه مشر یا مشران لري خو دغه مشران دوه ډوله (رایو) له لارې نه ټاکل کېږي بلکې معنوي منل شوي کسان دي د بېلګې په توګه په یوه جرګه کښې چې یو لوی مشر ناست وي نو سړي ویلی شي چې دغه جرګه دهغه د مشرۍ لاندې وشوه.

ځیني نور پوهان وائي چې د جرګې سیستم چې یو ډیموکراتیک سیستم دی په پخوانیو قبیلوي ټولنو کښې موجود و کوم چې د بې طبقو ټولنو کلاسیکې او لرغونې بڼه وه. کله چې طبقاتي ټولنه چې سټیټ ورسره مل و منځ ته راغله نو د جرګو دغه نظام هم د منځه لاړ. په دې لړ کښې انګلس (Friedrich Engel: Der Usprung der Familie. Berlin 1974) دایرو کېزن Irokesen د سینکاس Senekas قبیلې ته ګوته نیسي. دغه قبیله د حوانانو د ټوټو په بنسټ په اتو خیلونو وېشل شوې وه چې هر خیل یوه جرګه لرله چې بالغو نرانو او ښځو پکښې دایو مساوي حق لرلو، دغې جرګې د سولې او جګړې مشران ټاکلي او لرې کولی شو که څه شو نو وبه وینو چې د سینکاس دقبیلې جرګه د طبقاتي ټولنې په منځ ته راتګ سره د منځه لاړه. د پښتنو د جرګې د موجوده بڼې سره توپیر لري او هغه داوي چې د سینکاس دقبیلې په جرګو کښې د پښتنو جرګو برخلاف رائې اخستل کېدلې او دائمي مرکزي بڼه یې لرله او کټ مټ سټیټ ته ورته وه. نو کله چې په طبقاتي ټولنه کښې په ځکه سوبه سټیټ منځ ته راغی نو دغه جرګې یې هم د منځه یوړې ځکه چې په ځکه او غوره سوبه سره تنظیم په ښه سوبه سره تنظیم د هماغه شان تنظیم ځانې نیسي او د منځه یې وړي، خو د پښتنو جرګې د سټیټ یا هیواد په برخلاف غیر مرکزي، خپلواک او موقتي بڼه لري او یو بشپړ اولسي ډیموکراتیک (جمهوري) سیستم دی چې د پښتني ټولنې ټولې ربړې حلولې شي، او له دې کبله یې سټیټ ځاني نه شي نیولې بلکې برخلاف لویه جرګه چې د قام د ارادې ښکارندویه ده سټیټ جوړولې شي ځکه چې قام د نړیوالو حقوقو د منځې د خود ارادیت حق لري او کولی شي چې د خپلو چارو د سمبالښت لپاره یو تنظیم چې سټیټ (هیواد) نومېږي جوړ کړي او یا د جوړ شوي سټیټ په وړه او بڼه کښې بدلون راولي، قام سټیټ جوړولی شي خو قام په سټیټ کښې منځ ته نه راځي بلکې یوه کلتوري ټولنه ده چې ګډ تاریخ، یوه ژبه او یو وطن لري. له دې کبله د لوئې جرګې مقام د سټیټ څخه اوچت دی او پرېکړه یې معتبره او د یوه قامي رائې اخستنې حیثیت لري چې د خپل سټیټ چې د قام دابادي نښه ده د جوړولو حق لري خو هیڅکله سټیټ او یا پارلیمنټ چې د سټیټ یوه برخه ده او یو دائمي جرګه ده د لوئې جرګې ځاني نیولې نه شي.

داچې ځیني خلق په بهر کښې د لوئې جرګې د راغونډولو څخه خبرې کوي، د دوی دا خبرې د جرګې د اصولو په ضد کار دی ځکه چې دغه جرګه خپلې پرېکړې پخپله عملي کولی نه شي

ABC CERTIFIED
THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN
MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبی ورځپاڼه
ورځپاڼه پېښور
وحدت
چیف ایډیټر
پیر سفید شاه همدرد
رجسټرډ پی نمبر 27

کوشنبه (پېر)، 20 ذی القعده، 1422 هـ ق
فبروري 2002، 24 ما، 2058 ب، جلد 27، شماره 35، بيعه 4 روپۍ

# افغانستان خارجي مداخلو تباه کړيد ے، اجمل خټک

## د افغانستان په حقله د جنرال پرويز مشرف د پاليسي مرسته کوو، د غربت خاتمې سره به دهشت ګردي پخپله ختمه شي

کوهاټ (فيروزخان صادق) د نيشنل عوامي پارټۍ مشر او بزرګ سياستدان اجمل خټک ونيلي دي چې شعر او ادب د قام وجود قائم ساتي او د شاعرانو اديبانو د برکت نه پښتو ژبه او پښتون قام په دنيا کښې موجود دي ده تيره ورځ د کوهاټ په

پاتې صفحه 5 کالم 5

### پاتې اجمل خټک

غورزنې کلي کښې د اباسين ادبي ټولنې کوهاټ د ورومبي کليزې په مناسبت جوړې شوې غونډې نه د مشر ميلمه په حيث خطاب کولو ده د ملکي سياست په حقله وويل چې هندوپاکستان دې د مذاکرات په ذريعه مسئله حل کړي ولې چې د جنګ په صورت کښې به دواړه ملکونه اوټوله نړۍ تباه شي د وحدت په پوښتنه ده د افغانستان په حقله ووېل چې د جنرل مشرف پاليسي د قدر وړ ده ده ووېل چې غربت ختم شي او تعليم راشي نو دهشت ګردي به خپله ختمه شي ده

وويل چې ما د جنرل مشرف سره ليدل کتل کړي دي او ورته مې دسيمې په حالاتو ټول حال ونيلے دے ده وويل چې د افغانستان مسئله به د لويې جرګې د لارې هواريږي ده وويل چې افغانستان بهرنيو مداخلې تباه کړے دے افغانستان ستر ابدالي د ټولو افغانانو دپاره جوړ کړيدے بايد ټولو قامونو ته پکښې مناسبه نمائندګي ورکړے شي ده وويل چې د افغانستان مسئله واشنګټن کښې نه بلکې د افغانانو ترخپل مينځ خبرو کښې هواريږي ده وويل چې پاکستان د موجوده افغان حکومت سره ښې اړيکې غواړي خو بعضې لاسونه دا نه غواړي ده وويل چې

زمونږ پارټۍ د افغانستان د ننه وفيد شوو پاکستانيانو د خلاصي دپاره کوشش کوي او په دې حقله زمونږ خبرې اترې شروع دي ده وويل چې امريکا افغانستان کښې خپلې پښې ټينګول غواړي خو افغانان به دوي داسې کولو ته کله هم پرې نه ږدي ده وويل چې که يورپي ملکونه د افغانانو د ښې دپاره کارونه کوي نو مونږ ئې مرسته کوو خو که اراده ئې نوره وي نو مونږ ئې غندنه کوو غونډې ته د علاقې ناظم ملک فضل ربي پروفيسر محبت خان خټک فيروز خان صادق او ځنې نورو مشرانو هم تقريرونه وکړل

05.12.1997 وحدت ورځپاڼه

## د پښتونخوا د پوهنې ډېره به د رښتین په نوم مجله اجراء کوي

**د خدائي بخښلي علمي کارونو ته به خصوصي توجه ورکولې شي، غونډه کښې پرېکړه**

پېښور (پ ر) د اروایناد پوهاند رښتین په یاد کښې د پښتونخوا د پوهنې د ډېرې په اهتمام یوه تعزیتي غونډه راحت اباد پېښور کښې د ښاغلي بصیر بیدار په کور کښې وشوه، چې مشري ئې د ډېرې د اطلاعاتو سکرتر لائق زاده لائق کوله. غونډې کښې د مقامي لیکوالو نه علاوه د افغانستان څنو سلسو سلګرو هم ګډون وکړو چې پکښې ښاغلي لونګ، ننګیال پټیال او محمد ګلاب شامل دي. غونډې کښې د ښاغلي رښتین په علمي خدماتو تفصیلي رڼا واچولې شوه او دا فیصله وشوه چې د پښتونخوا د پوهنې د ډېرې د رښتین په نوم یو درې میاشتنۍ مجلې اجرا کوي چې پکښې به د خدائي بخښلي علمي کارونو ته خصوصي توجه ورکولې شي.

---

## د پښتونخوا د پوهنې ډېره

د پښتونخوا د پوهنې د ډېرې دستوري لاندې د جنورۍ په پنځمه نېټه راحت اباد پېښور کښې یوه تنقیدي غونډه د عبدالبصیر بیدار په مشرۍ کښې وشوه، د نظامت فرائض ننګیال پټ بال ترسره کړل. د ایجنډې ترمخه لائق زاده لائق خېل نظم «د ننګ شمله» تنقید ته وړاندې کړو چې زړه پورې بحث پرې وشو او په مجموعي توګه معیاري وګرځولې شو. اخره کښې غیر طرحي مشاعره وشوه چې پکښې ننګیال پټ بال، عبدالبصیر بیدار، لائق زاده لائق، ګلاب یوسفزی، ګل رنګ سرداد خېل، محمد رحمان کمال او عبدالغفار غیرت خېل خپل کلامونه واورول.

ABC CERTIFIED
THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN
MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو وړومبې ورځپاڼه
ورځپاڼه پېښور
# وحدت
چیف ایډیټر
پیرسفید شاه همدرد
رجسټرډ پي نمبر 27

پنج شنبه، زیارت ورځ 19 شعبان المعظم 1424ھ ق، 23 تله میزان 1382ھ ش
16 اکتوبر 2003ء، 28 اسو 2060 ب، جلد 28، شماره 284، بیعه 4 روپۍ

د پښتونخوا قومي پارټۍ د مشرۍ لاندې

# د ډیورنډ د کرښې په موضوع سیمینار

د پاکستان د سیاسي ګوندونو مشرانو، افغاني سیاسي شخصیاتو، قبائیلي مشرانو او قوم پرستو پښتنو پکښې برخه واخسته

د ډیورنډ کرښې پښتانه تقسیم کړیدي، دا کرښه غیر فطري ده اخر او اول به له مېنځه ورځي

ټول پښتانه باید د خپلو حقونو د حصول د پاره یو موټې شي، دافضل خان، عبدالرحیم مروت، لطیف اپریدي، افضل خاموش او نورو خطاب

پېښور (... سکرمل رسان زې) د پاکستان د پښتونخوا قومي پارټۍ د صدر افضل خان لاله قیادت کښې په پښتون قام د ډیورنډ د کرښې د منلو اغېزو تر نامه لاندې سیمینار پېښور کښې جوړ شو. سیمینار کښې د پاکستان د سیاسي پارټیو سیمه ایزو مشرانو، افغان سیاسي شخصیتونو، د قبائیلو قومي سپین ږیرو، افغان میرمنو ژورنالستانو او رابلل شوو میلمنو برخه اخستې وه. د سیمینار پیل کښې افضل خان لاله د یوې مختصرې وینا په شرح کښې د سیمینار برخه والو او میلمنو ته په راتلاست ووئیلو او د دعوې څخه ئې هیله وکړه چې د ټاکل شوي موضوع په رابطه د خپلو خیالاتو اظهار وکړي. او د سیمینار برخه والو ته په دې حقله لازم تاریخي معلومات وړاندې کړي. وروسته پروفیسر عبدالرحیم مروت د پښتو په قبائیلي جوړښت او جغرافیائي موقعیتونو وغږیدو. او په دې حقله ئې اوږد تاریخي معلومات وړاندې کړل. دا ووئیل چې په نړۍ کښې هیڅ داسې یو قوم نشته دے چې د خپل قومیت، ثقافت او

یووالي پرته پېژندل شوے او پالي ترقي کړې وي. دا ووئیل چې نننۍ زمانه او عصر دا تقاضا او غوښتنه لري چې پښتون قوم خپل ځان وپېژني او د یووالي په روحیه د ترقۍ په لور حرکت پیل کړي. سیمینار ته خپل خطاب کښې د کمیونسټ پارټۍ مشر افضل خاموش ووئیل چې موږ ته د خبرو په ځاې عملي کوششونه کول پکار دي. دا ووئیل چې د ډیورنډ کرښه غیرفطري ده او پاکستان یا افغانستان دواړو کښې به یو له دا کرښه مانول وي دریسي کوسلږي. ټیمر ووئیل چې پښتانه باید د یو والي لاسونه ورکړي او د خپل برخلیک د ټاکلو د پاره غیرمنې ګامونه اوچت کړي. دې ووئیل چې پښتو ته پکار دي چې د خپل ځوان نسل په روزنه او علمي زده کړه کښې ډېره توجه وکړي. دې ووئیل چې که پښتانه هم لکه د نورو ملکونو په شان د یوې سیاسي تفکر او علم په ګاڼه سینګار شي نو بیا د خپلو قامي ګټو د ساتنې په تدبیر سوال شي. وروسته ودود هغري یو خوږ

ملي او جذباتي نظمو ولوستو چې د سیمینار د برخه والو خوښ شو وروسته ایمل بهټو، روښان یوسفزی، د پاکستان مزدور کسان پارټۍ مرکزي صدر افضل خاموش، اکمل لیونی، طاهره خټک او د اے این پي د مشرتابه هیئت غړي او مشهور سیاستدان اجمل خټک په جدا جدا توګه وینا وکړې او د ډیورنډ د کرښې د تاریخي حیثیت د مېنځه تلو، د پښتون قوم د ملي وحدت او د پښتو ژبې او ثقافت په حقله ئې ګټورې خبرې وکړې. د سیمینار د کار د وړومبې برخې په نېمائي کښې په امریکه کښې د مشهور قومي مشر طاهر اچکزي او د حسن کاکړ هغه پیغامونه هم ولوستل شول کوم چې د افضل خان لاله په نامه د ډیورنډ د کرښې په رابطه سیمینار ته را استول شوي وو. سیمینار ته د افغان ملت ګوند مشر شمس الهدی شمس، امیرحمزه مروت او لطیف اپریدي هم خطاب وکړو. واضحه دې وي چې سیمینار به نن د زیارت په ورځ په دویمه ورځ هم دوام وکړي

موږ دپاره هم الله کافي دے او هغه ډیر ښه کارساز دے (القرآن)

Daily wahdat Peshawar

چیف ایډیټر
پیر سید سفید شاه همدرد

ورځپاڼه
# وحدت

پیښور
پاکستان

ایډیټر
سید هارون شاه

فون: 2214154 فیکس: 2214321 بیعه 4 روپۍ

جلد: 31 | دوشنبه 9 ربیع الثاني 1427 هـ ق، 30 وساګ 2063 ب، 8 مئی 2006، 18 ثور 1385 هـ ش | شماره: 124

# دږني ترقي سره دقام ترقي تړلې ده، افضل خان لاله

پښتو عالمي کانګرس او غني خان پښتو ادبي تحقیقي ثقافتي جرګې د ډاکټر کبیر ستوري او قمرزمان قمر طانړي یادګیني ریفرنس وکړو

د پښتو ژبې او ادب د ودې لړ کښې به د ډاکټر ستوري او قمرزمان طانړي خدمات تل یادساتلے شي، مقررین



د عوامي نیشنل پارټۍ مشر افضل خان لاله او نور په دستوره کښي شریک دي

پیښور (وحدت خبریال) د عوامي نیشنل پارټۍ مرکزي مشر محمد افضل خان لاله وئیلي دي چې د پښتو ژبې د روزنې پالنې او ودې دږوندي ساتلو دپاره چې شاعرانو، ادیبانو او لیکوالو د وسائلو د نشتوالي باوجود کومې قربانۍ ورکړېدي او د پښتون قام د وحدت دپاره ئې کوم فعال کردار ترسره کړے باید هغې ته د قدر په نظر وکتل شي. پښتون یو داسې بدقسمته قام دے چې په سوونو کاله اقتدار کښي پاتې شوېدے خو ژبه ئې اقتدار کښي پاتې نه ده. دږبې ترقي سره دقام ترقي تړلې ده دې خبالتو خرګندونه ده تیره ورځ د مشر میلمه په حیث د پښتو عالمي کانګرس او غني خان ادبي، تحقیقي، ثقافتي جرګې په اشتراک د پښتو د ستر شاعر، نقاد او محقق اروابښاد د قمرزمان قمر طانړے او یو هاند لیکوال اروابښاد ډاکټر کبیر ستوري په یاد کیښي پیښور پریس کلب کښي شوي درنې دستوري ته دخطاب په وخت کړي ده. د دستوري صدارت پروفیسر جهانزیب نیازکولو. افضل خان لاله دکبیر ستوري او قمر طانړے روح ته د دوی د ادبي خدماتو په ترسره کولو نیکې پېرزوینې وړاندې کړي او وې وئیل چې پښتانه باید د دوی پیغام خورکړي او تول عمر کبیر ستورے او قمر طانړے په خپلو ذهنونو او زړونو کښې ژوندے وساتي. دستوري ته دخطاب په وخت د دستوري صدر د پښتو عالمي کانګرس چیرمین پروفیسر جهانزیب نیاز، لائق زاده لائق، ډاکټر شیرزمان طانړے، مبارز خاپي، د ورځپاڼې وحدت نیوز ایډیټر میا فاروق فراق، محمد آصف صمیم ایم پي اے ارشد خان او نورو یو هاند د اروابښاد ډاکټر کبیر ستوري او اروابښاد قمرزمان قمر طانړے په ژوند او خدماتو رڼا واچوله په دې موقع د سټیج سکتر فرائض شبیر درانی ترسره کړل. دستوره کښي د شهاب الدین خټک، د ورځپاڼې وحدت سب ایډیټر امجد علي خادم، اعجاز میشن افراو ستر لیکوال لیاقت امین، حمید الرحمان شادان، شمشیر هیواد، فریدون خان او د ګل محمد مسرور او مظهر شاه طاهر نه علاوه د چارسدي، مردان، صوابي، کوهاټ، پیښور او خواوشا نورو علاقو د ادبي تنظیمونو نمائندګانو او افغان لیکوالو هم ګډون وکړو

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

وحدت

پېښور

دوشنبه (ګل) ۱۵ دسمبر ۱۹۹۷ء

# د ډاکټر کبير ستوري ژوندي خيالونه

ليک: لائق زاده لائق

د ادب د پوهانو خيال دے چې ادب دوه لوئي څانګې لري، ورومبے هغه ادب چې خالصتاً د ادب لپاره وليکل شي په نورو لفظونو کښې دې ته ادب لطيف هم وئيل کيږي چې پکښې ژبات تر رومانوي رنګ جوت وي. داسې شعر، افسانه، انشائيه او نور اصناف د ځېلې احساس د ټکورد پاره لکه د پېښې کار کوي ولې چې په ژوند کښې د عمل او غورځنګ لارې نه په ګوته کوي زمونږ د پښتو ادب لمن د داسې فن پارو نه ډکه ده چې پکښې د ښائستونو رنګونه ستائيلے شوي دي او دا په دې اساس چې پښتون په سينه کولو کښې هم دوېره انتها پسند دے څومره چې په کرکه او نفرت کښې خپل ثاني نه لري. د پښتون د سلګونو کالو خپل منځي اختلافات او ترېګني ددې قام ددغه طبعي او فطري احساس ترجماني کوي.

د ادب دويمه لويه څانګه هغه ادب دے چې د ژوند دپاره وليکل شي دا قسم ادب خپلو لوستونکو ته يو منزل او يو مرام په ګوته کوي داسې ادب په وينه کښې غورځنګ پيدا کوي په پښتو ادب کښې ددې سلسلې باقاعده سر خيل خوشحال خان خټک ګڼلے شي چا چې د مغلو د ظلم او جبر په ضد د پښتون قام غيرت ته اوازو کړو او نه صرف دا چې پښتنو ته ئې خپل ځان ورياد کړو بلکې پخپله هم ددې مبارزې دپاره راووتو.

د افغان په ننګ مې وتړله توره ننګيالے د زمانې خوشحال خټک يم

د خوشحال بابا نه پس ددې مسلک نور ګڼ ليکوال پيدا شول چې کله په دې سلطه کښې د خدائي خدمتګار تحريک پيل شو نو د پېرنګي خلاف د پر قام پرستان ليکوال مخې ته راغلل چا چې ادب ته د قام پرستي هنرونه زده کړل ددې دور ټول پښتني ادب د ژوند سندرې وائي دا هم د دغه ليکوالو د هلو ځلو نتيجه وه چې پښتانه ئې د باچا خان په مشرۍ کښې راغونډ کړل او دوېره ئې منظم کړل چې بيا يې د پېرنګي استعمار ګولي چلېدې ولې يو پښتون هم د تشدد لارې نه ځپلوله. د قيصه خوانۍ واقعه غالباً چې د ټول انسانيت په تاريخ کښې ځانګړې واقعه ده، کله چې يو داسې قام د خپل رهبر باچا خان په وينا د فرنګي استعمار ګولو ته خپله سينه اونيوله د کوم د غيرت او ميړانې مثالونه چې د کاڼي کړښې دي دغه وخت ويښ پهيدې ننګيالي په خاورو کښې لت پت ګېدل ولې چا هم د باچا خان د بېولئ نه سرغړونه نه شوه کولے دا ټول ننګيالي د يو داسې ادب د لارې ملګري وو کوم چې د ژوند ترجمان وو د خدائي خدمتګار تحريک په وړاندې بوتلو کښې د پښتنو ليکوالو هلې ځلې يو داسې اټل حقيقت دے چې څوک ترې هم انکار نه شي کولے. پېرنګي استعمار اخر په دې مجبوره شو چې ددې خاورې نه کډې بار کړي پېرنګے لاړو، ولې د پښتون قام هغه ارمان پوره نه شو د کوم دپاره چې زلمو خپل سرونه شيندلي وو د کوم دپاره چې پېغلې کونډې شوې وې او د کوم دپاره چې پې شمېره ميندې بورې شوې وې.

د پېرنګي د تللو نه پس د جنوبي ايشيا په نقشه د پاکستان د نوم اضافه وشوه ولې پښتون قام بيا هم ټوټې ټوټې او تار په تار پاتې شو غن تر دې چې په يو وطن کښې په بېلو بېلو برخو کښې ويشلے پاتې شو د پښتنو ليکوالو دغه ارمان لا اوس هم په غورځنګ دے د لر او بر ګڼ شمېر ليکوال د پښتون قام يو والے خپل منزل او خپل مرام ګڼي د داسې ليکوالو په صف کښې يو قام پرست پښتون ډاکټر کبير ستورے هم دے.

د ستوري تعلق د افغانستان د کونړ ولايت کلي «تتر» سره دے او چې کله ئې فکر ځوان شوے دے نو د اولې ورځې نه ئې د پښتون قام د يو والي غږ کړے دے باغلے کبير ستورے د يو حساس فکر سره سره د يو حساس ذهن هم لري د هغه په شونډو هر وخت ترې مسکا خوره وي داسې په قرار قرار خبرې کوي لکه چې په هره خبره کښې د پښتون د ځپلو اکې يو پټ پيغام هر چا ته رسول



غواړي. باغلے ستورے د يارانو محفل کښې مدام ورک ورک ناست وي دا ځکه چې د هغه په ذهن کښې هر وخت د پښتون قام غم چورلکونه خوري د هغه په ژوند کښې يو مرام د پښتونخوا عظمت او د پښتون قام سره يې غرضه مينه ده.

دا کونړ ستورے پاس په هسک کښې ځلېدونے تل شي

ما پکښې مينه د «پښتو» او «پښتونخوا» واخسته

باغلي کبير ستوري د ژوند لويه برخه په جرمنۍ کښې تېره کړه او لا تر اوسه په دغه پردي هېواد کښې ژوند کوي د باغلي ستوري د «پښتونخوا» سره د مينې اندازه ددې خبرې نه لګيدے شي چې د جرمنۍ حکومت غوښتلي دوي ته دا موقع ورکړه چې دغلته د دوېره ايسارتيا په بدل کښې د جرمنۍ باقاعده شهريت واخلي ولې باغلے ستورے دې ته تيار نه دے چې خپلې اړيکې د خپل هېواد سره پرېکړې کړي. په پردي هېواد کښې د ستوري د پښتو پښتونولۍ ژوندۍ مثال دا دے چې دغه ئې د پښتو قام پرستانو يو ګوند د «پښتون سوشل ډيموکرټيک پارټۍ» په نامه جوړ کړيدے دا ګوند هر کال د پښتو د يو والي ورځ لمانځي چې پکښې د لر او بر قام پرستانو پښتنو ته بلنه ورکولے شي دا ټولې قربانۍ باغلے ستورے په ځان منې دغه وجه ده چې په جرمنۍ کښې د پنځه ديرش کالو تېرولو باوجود ئې هيڅ يو پېسه نه ده جمع کړې بلکې خپل هر څه ئې د پښتو د لښکر نه زار کړي دي.

ما کبير ستوري څاپوړې پکښې کړي ازادي د پښتونخوا مې لوئي ارمان دے

باغلے کبير ستورے په دې پوهيږي چې قربانۍ ورکولو نه بغير د ازادۍ مرام ته رسېدل ګران دي.

ستوريه د مينې مورچل نيسه که مشن ئې رښا

ګڼې لښکر د ازادۍ کور ته راتللے نه شي

ولې کبير ستورے د خپلو دغه قربانو په نتيجه کښې د راتلونکي سباوون نه مايوسه نه دے او دا ګلک باور لري چې د پښتو د يو والي سحر به خامخا راخېژي.

دا نبارد ژوند ورکيږي سبا کيږي د سبا ستوريه راخېژي خامخا

باغلے کبير ستورے چې کله هم پاکستان ته راغلے دے نو دلته ئې د خپلې ټولې ايسارتيا شپې د پښتو په خدمت کښې سبا کړي دي ددې سيمې ټولو ليکوالو له ورغلے دے سياستدارانو له ورغلے دے په پوهانو ګرځېدلے دے چې بايد ددې لوئي مقصد او مرام دپاره خپلې هلې ځلې نورې هم تندې کړے شي.

سلامي تړلي د وطن د ازادۍ لپاره د پښتو د ابادۍ او سوکالۍ لپاره پاتې به پله پانې کي . . . .

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

MEMBER APNS

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

ورځپاڼه وحدت پېښور

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

د دوشنبې (پیر) ورځ، ۵، شوالمکرم، ۱۴۱۸ هـ ق، ۲۴ لیندۍ (قوس) ۱۳۷۶ هـ ش، 15 دسمبر 1997ء، جلد22، شماره339

د ډاکټر کبیر ستوري "ژوندي خیالونه" پاتې برخه

باغلي کبير ستوري به دې خبره کله هم نه وي خوشحاله چې پښتانه دې خپل منځي دلې ولرې هغه که افضل خان لالا له ورغلي وي نو ورته ئې د خان عبدالولي خان د خواخوږۍ پیغام ورکړې وي که جرګې لطیف اپريدي له ورغلي وي نو ورته ئې د محمود خان اچکزي د روغ نیتي قیصه کړې ده، باغلي ستوري دا ګڼي چې که جرګې موثر خپله پیوند ګټو حاصلول غواړو نو خپل منځي اختلافات به د مینځ نه وړو او د یو روښانه سحر د پاره به هر پښتون بچي خپلې ذمه وارۍ سر ته رسوي.

د توري او قلم خاوند چې هر پښتون شي نو هله به روښانه شي بیا ستوري د سحر د باغلي کبير ستوري د شاعرۍ محور پښتونولي ده د هغهٔ ليلى پښتو ده د هغهٔ ارمان پښتونخواه وي هغه د ساه بوهني واکنهر وي ځکه نو د پښتون قام پهٔ نقشيا نو بوئي وي چې ددې قام د ټولو مسئلو حل دا وي چې دوی خان وګټي او هغه د باچا خان فلسفه خپله کړي چې لا به يو کيږو ګټي ورکيږو. د باغلي کبير ستوري پهٔ حقله باغلي اجمل خټک ليکي.

«د باغلي کبير ستوري ژوندي خيالونه پهٔ پښتو ژبه، د پښتنې وينې او مينې، د پښتو د ننې او برونو زخمونو او سباني ارمانو او پښتو او پښتونولي د ژوند او مستقبل د سپرلي وږمې دي.»

زهٔ دا ګڼم چې د باغلي کبير ستوري ژوندي خيالونه به ډير زر د پښتو د يو والي هغه ارمان پهٔ عملي شکل کښې ووینې کوم ته چې د ډيرو قام پرستانو انتظار وي او اوس ورځ تر ورځې دغه انتظار خپل منطقي انجام ته پهٔ رسيدو وي.

دا ستوري د اسمان ورته زيا کوي ولاړ وي

نقشه کښې د نړۍ د «پښتونخواه» نوم لــيــکــل کــيــري

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو وړومبۍ ورځپاڼه

ورځپاڼه پېښور

# وحدت

چیف ایډیټر

پیر سفید شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

پنج شنبه زیارت، ورځ 26 شعبان المعظم 1424 هـ ق، 30 تله میزان 1382 هـ ش

23 اکتوبر 2003ء، 5 کتک 2060 ب، جلد 28، شماره 291، بیعه 4 روپۍ

## پښتنو خپلې ژبې او کلتور ته شا کړېده، کبیر ستوری

### د ژبې په حواله د بې تفاوتۍ په وجه زمونږ قومي تشخص ورک شوېدے

پېښور (وحدت نیوز) د افغانستان پیاوړي شاعر او دانشور ډاکټر کبیر ستوري خپل یو اخباري بیان کښې ویلي دي چې د پښتون قوم د وروسته پاتې کېدو

باقي صفحه 5 کالم 4

### باقي کبیر ستوري

بنیادي علت دا دے چې مونږ تراوسه د خپل کلتور او ثقافت د پرمختګ د پاره هیڅ نه دي کړي ډاکټر ووئیل چې پښتنو خپله ژبه هېره کړېده او په پردو ژبو نه بوازې خبرې کوي بلکې په پردو ژبو افتخار هم کوي د ژبې ټرانه کړو چې د ژبې نو بې پرواهۍ په وجه زمونږ قومي تشخص ورک شوے دے او چې څومره وخت تېرېږي مونږ نور هم په شا ځو ډاکټر ووئیل چې د یو قام د پرمختګ د پاره د ژبې ترقي ډېره اهمیت لري او کوم قومونه چې خپله ژبه او کلتور هېر کړي هغوی هېڅکله خپل ځان نه شي ګټلے ډاکټر کبیر ستوري ووئیل چې د افغانستان او پاکستان حکومتونو ته پکار دي چې د نورو ژبو نه علاوه پښتو ته هم خپل حق او مقام ورکړي ډاکټر ووئیل چې که چرته حکومتونو د پښتو ژبې په حقوقو همداسې سترګې پټې کړې نو کېدے شي چې پښتون قوم او پښتو ژبه د منځه لاړه شي

په ټول ملک کښې د پښتو وړومبی ورځپاڼه
پېښور
ورځپاڼه
# وحدت
چیف ایډیټر
پیرسفید شاه همدرد
رجسټرډ پي نمبر 27
دجمعې ورځ، 23ذیقعد 1424هـ ق، 26مرغومې (جدی)، 1382هـ ش
16جنوری 2004ء، 1ما، 2060ب، جلد 29، شماره 16، بیعه 4 روپې

## د افغانستان بدن کښې پښتانه د ساه حیثیت لري، کبیر ستوری

### اساسي قانون کښې د پښتو ژبې د ملي کولو نوم نه اخستل زیاتے دے

پېښور (وحدت خبر) پښتانه دافغانستان بدن کښې د ساه حیثیت لري او همدا پښتانه دي چې

باقي صفحه 5 کالم 7

**باقي کبیر ستورے**

هیواد ته سوله، امنیت او سوکالي بخښي. المان کښې د پښتو د ټولنیز اولسولیز ګوند مشر ډاکټر کبیر ستوري وحدت ته خپل رالیږلي بیان کښې ونیلي دي چې: دافغانستان نوي اساسي قانون کښې د ښځو د حقوقو او د هیواد د اقلیت ژبو ته رسمي شکل ورکول یو ښه کار دے. او مونږ د دغه ذکرشوو او ددې په څیر د نورو هیواد جوړوونکو او د وطن والو د سوکاله ژوند د غوښتونکو مادو ښه ملاتړ کوو. ده ووئیل چې د اساسي قانون د موادو متن کښې د پښتو ژبې د ملي کولو نوم نه دے اخستل شوے چې دا پښتو سره زیاتے دے

او مونږ نې هیڅکله هم منلو ته تیار نه یو. ده ووئیل چې اساسي قانون کښې باید پښتو ته د نړۍ د نورو اساسي قوانینو په څیر ملي حیثیت ورکړے شوے وے. خو متاسفانه چې دغه کار داساسي قانون کمیسون د پام څخه غورځولے دے. ده ووئیل چې نړیوالو دیموکراتیکو اصولو او دودونو په خلاف اساسي قانون کښې د ډیرکیو حقوق تر پښو لاندې شویدي. او د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند دغه کار په کلکه غندي. ده د نړیوالو دیموکراتیکو ځواکونو څخه غوښتي دي. چې د نورو هیوادونو په شان افغانستان کښې د پښتو ملي ژبې ملي حیثیت ته زیان ونه رسوي

وحدت
چیف ایډیټر وپبلشر پیرسید سفید شاه همدرد روځپاڼه "وحدت" دپاکستان دحکومت په تصدیق تو وحدت پریس خیبربازار پېښور نه چاپوي، ایګزیکټیو ایډیټر وحدت شاه
ایډیټر: ظفر علی شاه ګیلاني، پته:: ورځپاڼه وحدت ۲۰ اسلامیه کلب بلډنګ
خیبربازار پېښور فون: ۲٦٤۰۳٤ ۲۱٤۱٥٤ فیکس ۲۱٤۳۳۱
Emile: wahdat@pes.comsats.net.pk

جمعه ۱۲ جنوری ۲۰۰۴

دوشنبه (ګل) ۲۶ جنوری ۱۹۹۸ء
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR
ورځپاڼه پښتو
وحدت

## مرحوم سلنګ جان

لیک: عبدالبصیر بیدار

د پښتو ژبې په اولسي ادب ...

وحدت
چیف ایډیټر وپبلشر یوسف شاه همدرد روځپاڼه "وحدت" دپاکستان دحکومت په تصدیق دوحدت پریس خیبربازار پېښور نه خپروي، ایډیټر روح محمد شاه
ایډیټر: ظفر علی شاه ګیلاني، پته: روځپاڼه وحدت ۲۰ اسلامیه کلب بلډنګ خیبربازار پېښور فون: ۲۱۴۰۳۴ ۲۱۴۱۵۴ فیکس ۲۱۴۳۳۱
Emile: wahdat@pes.comsats.net.pk

## ستوماني

ډاکټر کبیر ستوری

کهٔ دژوند خیرې هر څومره ترخې شي
چې داستاد شونډو رنګ واخلي خوږې شي
چې مُسکې شي جهان واړه پهٔ خندا شي
خوشحالي شي ورکې ټولې اندېښنې شي
مُسکې اوسه چې د غم پهٔ کالهٔ غم وي
پهٔ منګې او پهٔ رباب تودې حجرې شي
لر قلنګ د سپېنې خُلې د میوزا کړه
چې بې خونده راته بې دمیخانې شي
داوړسل د سیوري لاندې ئې اوده کړې
چې د ستوري ستوماني وزې دمې شي

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

# وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

پوروخ، یکم شوقدر ۱۴۱۸ ه ق، ۱ لیندۍ (قوس) ۱۳۷۶ ه ش، یکم دسمبر 1997ء، جلد 12، شماره 325


## اجمل خټک د پښتني ټولنې ادبي شخصیت


لیک: ډاکټر کبیر ستوری


د نړۍ په سر د انسان ژوند محدود وي خو ځینو انسانانو دومره ځینه معنوي شتمني جوړه کړې وي او ټول ژوند ئې داسې تېر کړې وي چې د مرګ د قید څخه ازاد وي او تل ژوندي وي. په دې ډله انسانانو کښې اجمل خټک هم راځي چې په 1927ء کال کښې په اکوړه خټک کښې د حکمت خان په کور کښې پیدا شوی دی. دی اوس یو اویا کلن دی خو د پښتون اولس په خدمت کښې نه ستړې کېدونکې ستړې تړې وهي اجمل خټک یو ډېر ارخیزه سرپښوب (شخصیت) دی او د پوهنې، فلسفې، سیاست او ادب په ډګر کښې یې ساری جګ مقام لري. د اجمل خټک د سرپښوب ټول ارخونه په یوه مقاله کښې رانغښتل



ګران کار دی نو دلته به مو ځو مهمو ټکو ته مختصره نظر اچول کېږي. اجمل خټک د باچا خان «فخر افغان» د لارې ملګری او د خدائي خدمتګارو د تحریک کروسته دی.

باچا خان ځکه هم د ستر خان زوی او خوناسته ولاړه ئې د مزدوره طبقې او غریبانو سره وه. باچا خان د ښکیلاک (استعمار) په مقابل کښې د پښتو په یوه مرکز د راغونډولو دپاره دا سیاسي نعره پورته کړې وه چې «که سوړه وي که پوره وي نو به شریکه به وي». ترڅو چې د مزدوره طبقې هغه اندېښنه د منځه یوسي چې که سوبر د ښکیلاک د زبېښاک (استحصال، استعمار) څخه ځان خلاص کړو نو بیا به سوځېل خانان ملکان زبېښي. د باچا خان دا نعره د پښتني ټولنې څخه اوبه اخلي، شریک ملکیت د پښتني ټولنې د ودولا تر اوسه ډاګ، غر او ځنګ د پښتنو په ځینو سیمو کښې شریک ملکیت دی. اجمل خټک د باچا خان دا سیاسي نعره ځیله سیاسي فلسفه وګرځوله او د ادب په رنګینه جامه کښې ئې راونغاړله او په دې توګه ئې د ځینو ملګرو شاعرانو او لیکوالانو سره یوځائې قامي طبقاتي ادبي خوځښت (تحریک) روان کړو. قامي طبقاتي خوځښت یا مبارزه د کمونسټي یا سوسیالسټي طبقاتي خوځښت یا مبارزې سره توپیر لري. د قامي طبقاتي مبارزې هدف د یوې خوا د ښکیلاک د زبېښني څخه د ټول قام خلاصون او د بلې خوا د قام په منځ کښې د تضادونو د منځه وړلو په غرض د ټولنې د ټول عائدات عادلانه وېش دی چې ټولنیزې ولسوالۍ (سوشل ډیموکراسۍ) سره ورته والی لري. په لنډو ټکو سره د قامي طبقاتي مبارزې هدف د ټول قام ګټه او سوکالي ده چې د


نور په دریم مخ


په ټول ملک کښې د پښتو وړومبې ورځپاڼه

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

باني: اجمل خټک

یوې خوا بهرنی تضاد چې د ښکیلاک سره ئې قام لري د منځه وړي او د بلې خوا د قام په منځ کښې دننې تضادونه مزدور طبقې ته د پیداوار او (تولید) په وسائلو کښې د عادلانه برخې د ور کولو په واسطه د منځه وړي. د کمونسټي طبقاتي مبارزې هدف د ټول قام ګټې نه دي بلکې صرف د مزدور د طبقې ګټې دي چې په هیواد (سټېټ) باندې د مزدوره طبقې د قبضې او حاکمیت د لارې د پیداوار وسائل په لاس کښې اخلي چې د قام په منځ کښې تضادونه د منځه نه ځي بلکې شکل او بڼه بدلوي.

نن ورځ قامي طبقاتي ادبي خوځښت په پښتني ټولنه کښې ډېر پراخوالی موندلی او زیات شمېر شاعران او لیکوالان په دې ادبي خوځښت کښې د قام د هوساینې او ابادۍ په لور اوچت ګامونه اخلي.

قامي طبقاتي ادبي خوځښت د ادبي بهیر په منځ تللی (مترقي) بڼه ده چې ځینو قامي ارزو ګانو ته په نړۍ وال ډګر کښې ژوند ورېخښي نه دې کېله ددې خوځښت چلونکو شاعرانو او لیکوالانو ته قام پرسته مترقي شاعران او لیکوالان هم ویل کېږي. اجمل خټک د قامي طبقاتي ادبي خوځښت د بنسټ ایښودونکي په توګه د پښتني ټولنې ابدي شتمني ګرځېدلې ده. د اجمل خټک د شعرونو او لیکنو ټولنیز ارزښت په دې کښې پروت دی چې د قام د ویښولو او پوهولو وسیله ده. قامي سیاسي نظرې او پیغامونه یکښې په داسې انداز کښې خوندي شوي دي چې د شعر او ادب ښکلا او هنر یکښې ښېښر او د ودې جګ پړاو ته رسېدلي دي. دلته ئې د شعر یو بیت د بېلګې په توګه وړاندې کوو:

تاسو د غیرود کلچر پرڅا کښې هرڅه هېر کړل

زه ثقافت سود تبکه د غیرت رنګ ګڼمه

اجمل خټک د ادیب فاضل او منشي فاضل د ازموینو وروسته د پېښور په پوهنتون کښې د ادبیاتو په څانګه کښې د ماسټرۍ درجه ترلاسه کړې ده. په پښتو ژبه ئې ډېر کتابونه لیکلي دي چې ځینې ئې دا دي. د پښتو ادب تاریخ، د غیرت چغه، باتوره طبقه، دا زه پاګل وم، ژوند او فن، کچکول، مونږ او منزل، فکر او عمل، عوامي جمهوري تحریک، د وخت چغه، ګلونه تکلونه، ګل پرهر، سرې غنچې.

اجمل خټک پښتون قام ته د خدمت په لاره کښې ډېرې سختې تکلې تېرې کړي دي د پېښور، سېنټ ډېرو او جهلم جېلونه ئې بېلګې دي دی پنځلس کاله (1973-1988) په کابل کښې د هجرت ژوند کولو ته مجبور شوی وو خو هلته ئې هم د پښتو او پښتونولۍ ډېرې هرې خوا وښندلې او ذهني اوښتون (انقلاب) ئې په تېره بیا د قام په ځوان کول (نسل) کښې راوستو.

د اجمل خټک د صدارت په وخت کښې د عوامي نېشنل پارټۍ او قام پرستو پښتو په هلو ځلو سره د پښتونخوا د قرارداد منظورېدل ستر سیاسي برې او تاریخي ویاړ دی چې د باچا خان او خان بابا ولي خان د نظریو د پوره کولو په لور یو ګام دی.

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER A.P.N.S.

په ټول ملک کښې د پښتو ورمبی ورځپاڼه

پېښور ورځپاڼه

# وحدت

چیف ایډیټر
پیر سفید شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

دوشنبه (پیر) ورځ، 24 صفر المظفر 1426هـ ق، 15 ورې (حمل) 1384هـ ش

4 اپریل 2005ء، 21 چیتر 2061ب، جلد 30، شماره 91، بیعه 4 روپې

## پېښور کې ته وده تل شاعرانو ورکړېده، پښتو ادبي کانفرنس اعزاز

### تراوسه چې څومره حکمرانان راغلي دي هغوی پښتنو او پښتو سره زیاتے کړیدے

پېښور (وحدت خبر) د پښتو د ژبې او ثقافت د پرمختګ او ترقۍ لپاره د یو منظم تحریک ضرورت دے زمونږ په ملک کښې څومره حکمرانان چې راغلي دي دوی تل د پښتنو او پښتو سره زیاتے کړے دے په دې ملک کښې چې څومره سیاسي، سماجي افتونه راغلي دي هغې کښې د سیاستدانانو هم غټ لاس دے خولې په ملک کښې د معاشي بدحالۍ، خودکشیو په شرحه کښې اضافه او کلاشنکوف کلچر په وده ورکولو کښې حکمرانانو کردار هم ادا کړے دے دا خبرې تېره ورځ د پښتو عالمي کانفرنس د منتظمینو په اعزاز کښې شاعرانو، ادیبانو او دانشورانو وکړې، دد ستورې مشرې مرکزي افغان ادب عبدالله بختاني وکړه او ډاکټر کبیر ستوري، حبیب الله رفیع، درویش دراني او نورو تقریرونه وکړل

چارشنبه ۹ اکتوبر ۱۹۹۶ء
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR
ورځپاڼه وحدت پېښور

# د وحدت په نوم



محترم مدیر صاحب

السلام علیکم ورحمة الله

تاسو چې کوم خدمت پښتو ژبې ته کوئ د هغې به هیڅ یو حقشناس پښتون سترګې نه شي پټولې ستاسو اخبار د پښتو وال دی او د دروند افغان جنګ په وخت وحدت پخپله د یو لوئي جهاد کړی دی. مونږ لاس په دعا یو چې لوئي خدائي ج دې زوخ وساته. د خپلې ژبې خدمت نه دې چې کومه ملاتړلي دی په دې کښې دې خدائي پوره او کامیابي درکړي. محترم مدیر صاحب دغه زمونږه یوه بیانیه ده چې د پښتون سوشل ډیموکریټ ګوند لخوا د جرمني نه خپره شوې ده هیله مند یو چې نشر نه ئې وساړئ.

زمونږ ګوند د ډاکټر نجیب الله او د هغه سره د نورو په وحشیانه توګه وژلو باندې د غم او غصې او افسوس اظهار کوي چې دغه قتل غیر انساني، غیر اسلامي او غیر افغاني عمل دی. ډاکټر نجیب د ملګرو ملتونو په دفتر کښې پناه اخستې وه چې دغه نوګه خلق د ملګري قانون لاندې نه راځي. خو د طالبانو دې د ملي روایاتو او بین الاقوامي تعلقاتو هیڅ خیال ونه ساتلو دوی بین المللي پناه اخستونکي بهانه کړو چې دې سره د طالبانو دانتها پسندي سفاد رک سخلوسری یکار خود او چې دوی مقدمه چلولی ده او ډاکټر نجیب ته ئې د سزا ورکړې ده چې د سزا حق زمونږ د اسلامي مذهب سره دی. حسنه ده. دوی نه اسلامي کار وکړو او نه افغاني.

ډاکټر نجیب قتلول یو سیاسي عمل وو چې افغانانو او پښتو کښې د داسې کار بدل وي، د طالبانو مشران به دې بدل نه هیڅري خلاص نه شي. ځکه چې دغه داسې داغ دی چې دوی ئې وینځلې نه شي. مونږ د طالبانو مشر مولوي عمر ته خوښینه کوو چې د ډاکټر نجیب قاتلان دې ګرفتار کړي او عدالت کښې دې ورباندې مقدمه چلوي. که چرې د طالبانو مشران دغه کار نه کوي نو بیا مونږ د اقوام متحده دلوئي سکتر بطروس غالي نه غوښتنه کوو چې دوی دې د طالبانو د مشرانو خلاف بین الاقوامي وارنټ ګرفتاري کړي او د انټرپول په ذریعه دې دوی ونیول شي او بین الاقوامي عدالت هیګ هالینډ کښې دې مقدمه پرې جوړه شي چې اقوام متحده خپل وجود ثابت کړي. ځکه چې ډاکټر نجیب د یو این او پناه ګزین وو او طالبانو دغه کار د اقوام متحده سره وکړو. که چرې اقوام متحده د نجیب پوښتنه ونکړه نو بیا د داسې اداري ضرورت هم نشته چې څوک د خپل پناه ګزین پوښتنه نه شي کولې.

دغه به یو خطرناک روایت جوړ شي. هر ځائي به بیا داسې خلق راپورته کیږي بغیر مقدمې نه به قتلونه کوي چې دغه کار زمونږ په نظر د اسلام او انسانیت دپاره ډیر خطرناک دی. زمونږ ګوند په دې عقیده دی چې افغانستان کښې ډیر ګوندیز سیاست موثر دی چې څوک د ټول واکي حاکمیت کوشش کوي هغه که مذهبي ګوند وي یا کمونستي موثر ئې به سختي سره رد وو. باید افغانستان کښې ژر تر ژره د ډیرو ګوندونو په بنسټ انتخابات وشي چې افغان اولس د خپلې خوښې ګوند ته رائي ورکړي. یو ګوندي سیاست نه به تېر وخت کښې او نه راتلونکي وخت کښې هواد کښې امن راوستي شي.

زمونږ ګوند د شخو دمانترو حلولو یوه سلامي کوي عقد به اسلام مقدس دین کښې به بخه او به تر قرض دی څوک چې ددې به سر غړوي دغه نه اسلامي کار کوي او نه انساني. زمونږ ګوند د رباني حکومت او د تاجکستان د حکومت هغه لوټمارانه زدوي چې دوی بدخشان کښې بنخه وښت کنلو سره یله یې افغاني خاوره کښې تېره کړي ده. دغه یو داسې کار دی لکه کوم چې اسرائیل په لبنان کښې کړی دی. ددې نه مطلب داسې دی چې روسي قوتونو ته به حق حاصل وي چې تر پنځو شتو کیلومیترو د ننه په افغاني بدخشاني خاوره کښې د ننې په نوم وړانګاریو او قاچاقبرانو خلاف کاروائي کولې شي. دغه لوټمارانه د افغاني ملت د استقلال دپاره لویه خطره ګڼو. باید دغه لوټمارانه ختم اعلان شي. د افغاني بدخشاني خاورې ذمه وار افغان اولس دی. نه په تاجکستان کښې ناست روسي لوځ دی. دغه د رباني سفاوي آخري حماقت وو چې د افغان ملت سره ئې وکړو. مونږه یو ځل بیا د ډاکټر نجیب او ددوه د ملګرو وحشیانه وژل غندو. او دغه نمونه سیاست چې هر څوک کوي مونږ ئې نه منو. افغانان ډیر بیره او پناه غوښتل اولس ورته د روغې جوړې ضرورت دی.

په درناوی

لۀ طرفه د پښتون سوشل ډیموکریټک ګوند جرمني

علي خان محسود

THE DAILY
WAHDAT
PESHAWAR
درځپانه پېښور
وحدت
چارشنبه 5 جولائی 2006ء
چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

# ډاکټر کبیر ستوري او سندریز پیغام

لیک: فیروزخان صادق

> اروابښاد ډاکټر کبیر ستوری د ژوند شاعر دی او د ژوند شاعر کله هم نه مری بلکې چې ترڅو ژوند وی نو تر هغې به د هغه فن هم ژوندی وی او هر پښتون به د خپل دغه اتل شخصیت په کار او زیار ویار کوی او دهٔ خدمتونو ته به د ستائنې او ډاډګیرنې امیلونه په غاړه کوی

خدای بخښلی ډاکټر کبیر ستوری د پښتون قام او ژبې په دنیا کښې یو داسې قدآور او معتبر نوم دے چې د شخصیت فکر او فن اوازې او انګازې ئې په هر لور خورې ورې دی او د هر چا په زړهٔ کښې ئې ځان ته ځای جوړ کړے دے دهغهٔ سپین سپیځلی شخصیت روڼ روښانه تندے خوږه او پسته لهجه په خبرو کښې دپوهې او علمیت نخښې مهذب او مودب انداز د هر چا احترام او هر چا سره مینه دخپل قام او ژبې د خوشحالی او سوکالی دپاره هر وخت هلې ځلې د تعلیم د اهمیت او افادیت نه خپل قام خبرول د نوموړی د ژوند تر ټولو لوئې مرام ؤ.

اروابښاد د لوړو زده کړو نه پس د جرمنی په هیواد کښې د ډاکټرۍ پېشه خپله کړې وه چې غوښتل ئې له هم دې لارې ځان د انسانیت خدمت وکړی او کهٔ چرې موږ د ډاکټر ستوری په ژوند نظر واچوؤ نو هغه په خپل دغه نیک مقصد کښې تر ډېره حده پورې بریالی ثوب ترلاسه کړے ؤ. هغه یو مستقل مزاجه انسان ؤ ځکه نو په سفر او حضر داخل او خارج شپه او ورځ غرض دا چې هر وخت د خپل مقصد حیات دپاره متحرک ؤ او هغه د انسانیت د خدمت ترځنګ د خپلې ژبې ادب او خپل قام د پرمختګ او بیدارۍ فلسفه وه چې نوموړی ددې غرض دپاره خپل ټول خوبونه ارمانونه او سهولتونه قربان کړی وو هغه د پښتون قام د یو والی تعلیم ترقۍ او خوشحالۍ ډیر ارمانی اوداعی ؤ. او هم له دې مقصد دپاره ئې دلیک لوست موثره او معتبره لاره خپله کړې وه او بیا ئې د خپل قام د اسانۍ دپاره د ادب دواړه څانګې نظم او نثر خپل کړی او غوره کړی وو په ذهنی توګه هغه یو انقلابی او بالغ نظر شاعر ادیب ؤ په جسمانی توګه هغه نسبتاً کمزورے ؤ خو خوئې ئې درونډ او خصلت ئې مضبوط. طبعاً هغه یو چست او چابک سړے ؤ مزاج ئې نرم او نفیس ؤ خبرې ئې خوږې هم وې او درنې هم بلکې ټولې خبرې ئې دکار وې بنیادی طور یو بې زاره او بې ضرره ؤ او د هر چا سره ئې تعلق او تړون بیخی بې غرضه او بې لالچه ؤ پخپله ئې تعلق د پښتنو د یوسفزو قبیلې سره ؤ خو په مجموعی توګه هر پښتون ئې د سترګو تور او د زړهٔ ټکور ګڼلو.

هم دغه وجه ده چې خپل ټول ژوند ئې د پښتو او پښتنو دپاره بخښلے ؤ. او کهٔ هغه هر څو د جرمنی غوندې کاروباری ملک او مادی ماحول کښې اوسېدو بلکې هغه په بنیادی توګه د دوؤ پېو ګڼلو

پاتې
ډاکټر کبیر ستوری

په خاطر د مسافرۍ دغه اذیت ناک او کرېناک ژوند ته غاړه اېښې وه خو سره ددې ئې خپل قام او خپله ژبه یو ساعت هم له خیاله نهٔ ده وېستې او دجرمنی څخه ئې هم د پښتو مطبوعاتو پښتنو شاعرانو، ادیبانو، صحافیانو او نورو اروندو کسانو سره برابر تماس نیولے دے بلکې په دیار غیر کښې ئې دپښتنو د ترقۍ شناخت او پرمختګ په خاطر دپښتون سوشل ډیموکریټک پارټۍ جوړه کړې وه چې دخپل قام او ژبې دخدمت په اړوند ئې ډیر فعال او یادګار رول لوبولے دے هم په دې دوران کښې به چې هر کله په افغانستان، پاکستان یا بل کوم هیواد کښې کومه غونډه جوړه شوه نو ډاکټر کبیر ستوری به ارو مرو خان ور رسولو او دخپل قام او ژبې د نمائندګۍ حق به ئې ادا کولو.

په تیره بیا کله به چې پېښور ته راغلو نو دلته به ئې خامخا په ادبی او ثقافتی غونډو کښې هم ګډون کولو او ددې ځای د شاعرانو، ادیبانو، هنرمندانو او صحافیانو نه علاوه به قام پرستو سیاستدارانو سره هم ئې لیدل کتل کول او د دوی سره به ئې دپښتو ژبې او پښتون قام په موجوده حالاتو اوږدهٔ اوږدهٔ علمی بحثونه کول او هم دغه ادبی او ثقافتی تعلق او تړون ؤ چې

باقی برخه
بله پاڼه کې

وحدت

# ډاکټر کبیر ستوري او سندریز پیغام

لیک: فیروزخان صادق

پاتې برخه

دستوري فکر او فن ته ئې لاشوره ښکلا او خلاوړ کړي وه. او هم دغه Coommitment ؤ چې ستوري ئې پخپل مقصد کښې د پریالیتوب تر مقامه رسولې ؤ. او دغه په فکر او پوهې کښې د پوخوالي او پرخوالي سبب ګرځیدلې ؤ. د ارواښاد د خبرو اکثر موضوع به دپښتون قام ماضی، حال او مستقبل ؤ. هم په دې موضوع به ستوري د هر چا سره بحثونه کول د هر چا وراندېزونه او دلیلونه به ئې په ډیره توجو او رغبت سره اوریدل. او بیا به ئې تري د ضرورت په وخت استفاده هم کوله.

هر کله چې د پښتنو په لوئې کور افغانستان روسی یرغلګرو تیرے وکړو او سمسور افغانستان ئې د بارودو په شنو لوخړو کښې لولپه کړو نو د ټول افغان په حیث ډاکټر کبیر ستوري هم په دغو لوخړو کښې د ر په ډیکه شو او دحالاتو دغه طوفان ډیر وخوځولو او وې ځنګولو خو دحالاتو مقابله ئې ډیره په جرات او استقامت سره وکړه په قول د رحمان بابا (رح) چې

لګه ونه مستقیم پخپل مقام
یم
که خزان راباندي راشي كه
بهار

او بیا هر کله چې د جهاد په مقدسه فریضه ترسره کولو افغانانو خپل دښمن ته ماتې ورکړه نو لکه د ټولو افغانانو کبیر ستوري هم خوشحال شو په دې هیله چې زموږ هیواد به یو ځل بیا سمسور شي خو متاسفانه چې د روسي تیري نه پس افغانستان کښې خپل منځي جنګونه شروع شول او بیا افغانستان داسې لوټې لوټې شو چې په کندواله یاد شو خو ستوري بیا هم همت ونه بائیللو او په قول د خوشحال خان خټک چې

كه اسمان دې د زمري په خلة
کښې ورکړه
د زمري په خلة کښې مه
پريږده همت

هم دا وه چې افغانستان د دریشو لسیزو د غرغنډو او بربادیدو نه پس یو ځل بیا د ابادئ او سوکالۍ په طرف روان شوے دے. او تس نس افغانان دهجرت نه پس اوس خپل وطن په ډیر عزت او درناوي راستنیږي، او هیله کیږي چې ډیر زر به ټول افغانان خپل هیواد ته راشي او دخپل وطن د بیا ودانۍ په کارونو کښې به خپله برخه واخلي او د ډاکټر کبیر ستوري مرحوم روح ته به سکون او راحت ورسوي. او د یو ډاکټر کبیر ستوري روح ته نه بلکې د ټولو شهیدانو روحونه به خوشحاله او خندان شي.

د ډاکټر کبیر ستوري شخصیت ګڼ اړخونه او رخونه لري ځکه نو دغوي په شخصیت نور هم ډیر څه وئیلې او لیکلې شي خو دلیک طوالت مې دلاړې خنډ جوړیږي ځکه نو دشخصیت او فکر متعلق ئې په ذکر شوؤ خبرو اکتفا کوم او بیا دفن یوه اجمالي خاکه ئې دلته د مثال په ډول ذکر کوم ارواښاد ډاکټر کبیر ستوري لکه چې مخکښې وئیل شوي دي چې د یو ښه انسان سره سره یو ښه شاعر او ادیب هم ؤ او بیا د نظم او نثر دواړو په حواله ئې خپل یو شرم لرلو او تر دې وخت پورې ئې د نظم او نثر تقریباً څه یو درځن کتابونه لیکلي دي چې پکښې زیاتره چاپ شوي هم دي او دا وخت ئې شعري مجموعه سندریز پیغام زما مخې ته پرته ده چې رنګینه سرپاڼه معیاري کاغذ ۱۱٤ مخونه لري چې په کال ۲۰۰۲ء

کښې د پښتونخوا د پوهنې ډیره پیښور لخوا په دانش کتابتون کښې چاپ شوې ده. تړون ئې د پښتو د لوموړي شاعر او ادیب ښاغلي لائق زاده لائق په نوم شوے دے او سریزه پرې سرلي پروفیسر اباسین یوسفزي لیکلې ده چې پکښې ئې د ښاغلي کبیر ستوري د فکر او فن په کوتلي جائزه اخستې ده.

هر کله چې موږ د ارواښاد کبیر ستوري ددې شعري مجموعې مطالعه کوؤ نو را ته ددۀ د فن ګڼ رنګونه او قسمونه په نظر راځي چې پکښې مینه، محبت، میړانه، جرات، پښتونولي، وطن دوستي، لوظ، حسن او جمال، غم د جانان او غم د دوران، لنډه دا چې د ژوند په هر اړخ پکښې شعرونه په نظر راځي چې یو طرف ته دشاعر په فهم او فراست دلالت کوي او بل طرف ته زموږ د تګ رووتو کار کوي د کتاب وړومبے شعر ئې دا دے

ګناه د بل چا نۀ ده دا زموږ
خپله ګناه ده
پښتو پښتونولي ته اړولې
چې مو شا ده

ددې شعر نه دا اندازه په اسانۍ سره لګیدے شي چې ښاغلے شاعر پخپل قام او خپله ژبه څومره مئین دے ځکه چې صرف دا یو شعر نۀ بلکې پوره غزل ئې د هم دې موضوع نه څار کړے دے هم دغسې ئې په ټول کتاب کښې زیات تر کلام په پښتو او پښتونولي مشتمل دے لکه چې یو بل ځای کښې وائي

بې پښتو نۀ شي په پښتو
باندې پښتو به کوي
د مینې ستوري ته د خپلې
پښتو رنګ ورکړه

او یا دا چې

چا چې ده لیدلې په ستائیلو
ئې مړیږي نه
یو خوا ئې ښائست دے بل
صفت د پښتو کوي

كه څه هم د ستوري د شاعرۍ مرکز او محور پښتو او پښتونولي ده خو ددې تر څنګ هغۀ په هره موضوع قلم پورته کړے دے چې د نمونې څو شعرونه ئې داسې دي

د عشق کار کښې دهر چا ده
بیله برخه
د چا ستوري دے تیارۀ د
چا څلیږي
د ګل ښائست نه چې په بڼ
کښې بلبلان خاریږي
پور دې ورکړے دے كه ګل
د ښائست غلا کړې ده
کلی نه وځي خوله اولسه
وتل نۀ منی
تل په تولنیز ژوند کښې
انصاف او عدالت غواړي
چې دبخت ستورے مې
دعشق اسمان کښې وځلیدو
خدائیګو د کلی لویو ورو
راته دعا کړې ده

ددې شعرونو په اساس موږ دا خبره په ډانګ پیلې کولے شو چې ارواښاد ډاکټر کبیر ستورے د ژوند شاعر دے او د ژوند شاعر کله هم نۀ مري. بلکې چې تر څو ژوند وي نو تر هغې به د هغۀ فن هم ژوندے وي او هر پښتون به دخپل دغه اتل شخصیت په کار او زیار ویاړ کوي او دۀ خدمتونو ته به د ستائنې او ډاډ ګیرنې امیلونه په غاړه کوي.

ما وې چې زۀ به د جانان
ښکلے تصویر جوړوم
زۀ اعتراف د عجز ؤ فن کړم
چا تصویر جوړ نۀ کړو

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو ورځپاڼو کښې ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

پېښور

وحدت

جمعه ۴ جون ۱۹۹۷ء

# د پښتنو د یووالي ورځ په جرمني کښې نمانځلے شي

پېښور (وحدت خبریال) سبا له د جرمني په ښار کولن کښې د پښتون قام د یووالي ورځ نمانځلے شي چې ورکښې به د نړۍ د کښو عـوادونو نه خواوشا دوه زره لیکوالان، پوهان او ســاسـتدانان او هلته میشته

باقي صفحه اخراول کالم

## باقي:: پښتانه یووالي ورځ

افغانان ګډون کوي. دا ورځ هر کال په جرمني کښې د میشته پښتنو د تنظیم پښتون سوشل ډیموکریټک ګوند د سیوري لاندې نمانځلے شي. چې پکښې پوهان د پښتون قام د یووالي د ضرورت او اهمیت په حقله ډېرې ګټه ورې خبرې کوي. د دې ګوند باني او مشر ترقي پسند شاعر او لیکوال کبیر ستوري په یوه سر کښې ووې چې سر کال به په دې ورځ د افغانستان په خاوره د امن د قیام په لاره چارو غور کولے شي. ستوري زیاته کړه چې پښتون د یو وحدت قوم دے او دا وحدت نور ډېره موده د یو بل نه جدا نه شي پاتې کېدے. د پښتونخوا ملي پارټي مشر او پخوانے وفاقي وزیر محمد افضل خان به په دې موقع مشر میلمه وي ځکه چې د جون په شپږمه نېټه جرمني ته رسیدلے دے او په دې ورځو کښې ئې ګڼو قام پرستو پښتنو سره لیده کاته کړي دي. په دې دستوره کښې د تنظیم مشران غزي محمد شیرین ګرد یوال، علي خان مسعود او هدایت بنګش میلمنو ته هر کله راشه وائي. او د دې ورځې په اهمیت به خبرې هم کوي.

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبې ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

د چهارشنبې ورځ، ۲۸ د روژې میاشت، ۱۴۱۸ هـ ق، ۹ لړم / عقرب ۱۳۷۶ هـ ش، 1 اکتوبر 1997ء، جلد 12، شماره 295

# د پښتو منطقه کښې امن او سوکالۍ د وخت ضرورت دے، ستوری

## وخت راغلے دے چې وېشل شوي پښتانه خپلو کښې یو شي، کولون کښې مرکه

کولون (پ ر) د پښتو ټولنیز اولس ایز گوند د احمد شاه بابا د باچا کېدو او د لویې افغانستان د بنسټ ایښودو د دوه سوه پنځوسمې کلیزې په اړوند د چارشنبې په ورځ د 1997 عیسوي کال د ۱ اکتوبر د ماښام په یو کم د برشمه نیمه د تاریخي په سیرو یحو د جرمنۍ د کولن په ښار

باقي صفحه اخر ۔۔ کالم

باقي :: کبیر ستورے

کښې غونډه وکړه. ټوموړي گوند جرمنۍ څخه راټول شوي فاکس کښې ونیلي دي چې غونډه کښې د پښتو د ټولنیز اولس ایز گوند د مشر او د مشرانو جرگې د غړو نه علاوه د پښتو د کلتوري ټولنې «کولن» مشر محمد شرین کرد توال، د پښتون کور استازي مبارز ساپي او کې شمېر سیده والو گډون کړے وو. غونډه د پي ایس ډي پي د مشر ډاکټر کبیر ستوري لخوا پرانستل شوه او د احمد شاه بابا د باچا کېدو او د لویې افغانستان د جوړېدو د دوه سوه پنځوسمې کلیزې په باب ئې حاضرینو ته د خپلې وینا په ترځ کښې ووئیل «د احمد شاه بابا په دوره کښې ټول پښتانه یو ځائي راغونډ وو خو د وخت غاصب قوت په برخو ووېشل، اوس د دې وخت را رسېدلے دے چې وېشل شوي پښتانه یو ځائي شي، ستوري زیاته کړه چې د پښتو بولړے په منطقه کښې د امن او سوکالۍ لپاره د وخت ضرورت دے». بیا پوهاند ډاکټر محمد قاسم حسنډ، ډاکټر سرالفضل کرد توال، انجنیر حبیب وسیهل او محمد شرین کرد توال او نورو وینااوې وکړې.

وحدت

پښتو ورځپاڼه

چیف ایډیټر: پیرسفید شاه همدرد 27

شنبه (هالي) 25 ربیع الاول 1420 هـ ق، 21 سرطان (چنګاښ) 1378 هـ ش
10 جولائی 1999ء، 26 ارب 2056، جلد 24، شماره 190 بیمه 4 روپۍ

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

ورځپاڼه پېښور

# جرمني کښې د افغانستان «د قلم توره»

بوقلم وبرګ ئې سحني
ډېر ئي مطلبونه
مختلف ئي کارونه
کوم قلم چي فقط قلم وي او صرف حرفونه ولیکي خو کوم قلم چي توره هم شي نو تاریخونه جوړ کړي. سوبر چي د قلم او توري د حقله تاریخ ته کورو نو خوشحال بابا هم قلم او توره یوځاي استعمال کړي دي.

زه ئي چالره وهم قدر ئي چا زده په اروسوړه د توري لسونه لن چي زه د افغانستان «د قلم توره» یادوم نو د ابدالي د قلم او توري دوطن د یو شاعر کتاب «د قلم توره» زما په وړاندې دی د ډاکټر کبیر ستوري د شعرونو مجموعه، «د قلم توره» چي په تصویري او معنوي لحاظ د افغانستان په اثینه کښي وګورم نو ساته ستورنه د هولو پښتنو د هغې ارمان په شکل کښي ښکاره شي چي وئیل به ئي:

له د ښا ستوریه کله به راځیژي ته

افغانانو د خپل ارمان ترانه په داسي رخت کښي وئیلي ده چي هنوی سره خپل ستوري په خپل اسمان کښي

موجود وو. د ترانه دا ارمان چي اوس دلر او بر پښتانه وواني نو د رد او پاسی به ئي لا زیات وي ځکه چي زمونږ د ارمانونو ډیر بلاستوري په پردو اسمانونو ورک دي په دغه ستورو کښي یو ډاکټر کبیر ستوری هم دی. ماستوري لیدلی نه دی خو دغه د شعر په وجود کښي چي کوم ناقلاب پښتي سره ښکاري دي په هغې په پوهیږم. ستوري زه لیدلی نه یم خو چا خبر چي په کوټو ځوړونو الوتی هغه د پښتون شعور ځوړونه دي. لن چي د هغه کتاب سانه د هغه برخوردار راورو نو «د قلم توره» زما په وړاندې دی ډاکټر کبیر ستوري یو داسي شعري تصویر ښکاره شو لکه چي مانه وائي!

لګروندي ګلونه شول په تالم به ئي تښتلم خیالونه مې سازونه شول نغمي د ږرندومم

سور یوش یم ستوریه واتی سرځي جاني مي دی الغوشی

په لار د باچا خان به قدم ږدم محکیمي به ځم ډاکټر کبیر ستوریه د باچا خان او د باچا خان په حواله د هر پښتون قوم

پرست د لارې مل دی. هغه زما د وطن د هغه پښتون قوم پرستو لاریونو د انو معتقد دی چي اوس د هغوی نه پخپله لاره ورکه ده. ورک خلق چي په ورکو پسي روان شي نو هغوی لا ورکیږي. د اکیله یا دا باور به ډاکټر صیب له



کوي ځکه چي هغه د پښتنو د خاوري نه ډیر لرې د جرمني د رنګونو په ماپام کښي ګرځش کوي خو که هرڅنګه د خپل وطن نه لرې د رنګونو د ماپام له پاسه خپلو وطنونو ته وکتل نو د پښتنو د اسمانونو په سرو اسمانونو کښي به ورته په شپه کښي هم دا اسمانونه د شفق د رنګونو هنداره ښکاري. او

د وطنونو ذکښي اوریځي په وختونو کښي به ئي خطا کړي. زه محترم ستوري ته پخور نه ورکوم بلکې ځان سره ئي په هغه ویر کښي اخته کوم چي پخوا ډېر پخوا به مونږ په پېښور کښي د کابل نه داغي اوریدو مله د ښا ستوریه کله به راځیژي ته. او زمونږ د خپلي پښتونخوا داستان په حقله دا یقین پوخ شو چي د دې اسمان نه یو بل اسمان هم شته چي په هغې د پښتون د قسمت ستوري راخیژي او زیا کوي خو خوب، خوب وي. دا

خوب مونږ تولو پښتنو په کلونو کلونو ولیدو مونږ سره په لاسونو کښي فقط قلم پاتي شو هغه قلم چي زه ورته د ځان او خپلو چیو د پاره د سماش ذریعه وایم او د وطنونو نه لرې پښتانه ورته توري وائي. زما په شان یو قلم په جرمني کښي ډاکټر کبیر ستوري سره هم دی هغه لري توره جوړه کړي ده د خپل قلم ژوند ئي اوږد او تاریخ ئي جوړ کړو. د قلم نه توره جوړول د هرچا کارنه دی د اجرات غواړي خپلي نظریي او مقصد سره وفا غواړي مونږ په غریب وطن کښي د قلمونو نه توري نه شو جوړولی. ځکه خو د کابل نه تر پېښوره پوري سرې لښکري راپورته نه شوي.

د لته د قلمونو ژوند ته خطري اوړیدي. توري او پخکي ورک شول کتابونه او تاریخونه وسوزیدل نظریي او مقصدونه ختم شول چک سرونه غم او غرانګور او ازونه بوغي شول. په داسي حالاتو کښي چي د هر لوري څوک د قلم نه توره جوړه کړي نو هغه به په تیارې کښي د رڼا لیکي وي.

د خپل وطن د خپلي خاوري نه لرې په جرمني کښي چي لا اوس هم ډاکټر کبیر ستوري د قلم توره په لاس هر پورته کوي نو د اداري پښتني عقیدي او نظریي اعتراف نه دی نو څه دی؟ زه د هغه د دې پښتني تحفي په حوصله د ومره وئیلی شم!

ستا د قلم توره
لکه جنډه د پښتون
لکه یو غرب د ابدالي د توري
لکه یو برېښ د خوشحال خان د قلم
لکه اواز د باچا خان د خاوري
د دې نه وروستو مهد
بالي وختونه
لکه په ځاني ولاړ دی
لکه پښتون چي سر دی
سري قلم څه کوي
سري په توره څه کا؟

وحدت پېښور

## د پښتو لار

ډاکټر کبیر ستوري

[illegible]

13/4/2007

وحدت

13 April 2007

# په زړه کښې ماته پام دستوری په غزل به کوي

د اتوار ورځ وه موسم ډیر خوشګوار ؤ او په دې ورځ مې یوولس بجې امجدخان ته ګرین هوټل بنودلے ؤ، چې هلته به راشي هلته مې له بل چا سره هم وعده وه خو زه چې صدر ته راورسیدم په څه شي پسې د یو دوکان مخې ته اودریدم چې له مخې مې حاجی نصیرستورے تیر شو ما ورپسې غږ وکړو مخ ئې راګرځولو تر روغ جوړ وروستـه مې ورتـه ووئیل د صدر بازار د ورځې یوولس بجې او دچا غږ اوریدل او بیا راګرځیدل څه عجیبه خبره نه ده؟

هغه ووئیل ولې د اتوار ورځ نه ده څه، چې صدر تش پروت دے بـه حاجی صیب کله راغلے ئې؟ خـان لـه راغلے ئې کـه ستـورے صـیب هم درسره راغلے دے؟

په دې خبره حاجی نصیرخان غلے شو، رنګ ئې بدل شو. لکه د پښو نه ئې چې زمکه تښتیدلې وی اخوا دیخوا ئې وکتـل یو څو اسویلی ئې وکړل بیکته ئې وکتل لاس ئې په مخ راتیـکـو په تعجب ئې ووئیل: ولې جنرال صیب تـه خبر نه ئې؟

او چې مـا څه وئیلو تـه خله جوړوله بیانې راپلندې یو ډیر بد زیـرے وکړو چې زه هم هک پک او حیران شوم، ولې جنرال صیب تـاسو خبر نه یئ چې ستـورے صیب وفات شوے دے زه شور پوهه نه شوم چې د غم دوې لوئې خبر په اوریدو په زمـا له خلې څه وتلی وی؟ خو به مې وټیلې وی؟ ځه له به مې د ولا خبـره کړې وی کله نـه کله ربتیـا راپلندې وایی همدومره مې یـاد دی چې حاجی نصیر ته مې غیږه ورکړه او تر ډیره مې په غیږ کښې نیولے ؤ خو د هغه زړه داسې سورے شوے ؤ چې زمـا پـه دې تسلی بـه د هغه څومره سود شوے وی؟ ما ترې د بیدار ستوری پوښتنه هم ونه کړه دے رخصت شو زه د وعدې ځاې ته ورغلم امجدخان په هال کښې نـاسـت ؤ زه هم ورسره کیښـنـاستـم څه لږه شیبه وشوه بـل میلمه چې د سرګودهې دے کـامـران صیـب هغه هم راغـے خو زمـا طبیعت ډیر خراب ؤ امجدخان رانه پوښتنه وکړه څه چـل دے موډ دې خراب ښکاری پـه فون چې خبرې کیدې ډیر برابر وې مـا ورتـه ټول حـال ووئیلو ده بې اختیـاره ووئیل ولې هغـه خو روغ جوړ ؤ الله دې وبخښی ډاکټرکبیرستورے خـو لـوئې پښتـون ؤ، ډیر ښه سړے ؤ تـاسـو سره د ایران په قونصلیټ کښې لیدلے ؤ تاسو چې ورسره زما تعارف وکړو بیا تـاسـو د بـل چا سره په خبرو بوخت شـوئ هغوی له ما سره ډیره مینه وکړه ما ورته ووئیل هغـه د ایران قونصلګرې نه ده هغـه د ایرن کلتوری مرکز دے "خانه فرهنګ ایران "بیا د دنیا په خبرو سر شو څکه چې یو د بل له غمه نه مری او هسې هم د انسـانـانو دا زړونـه جنګونه بمونو، مرګونو، او وینو توئیدو داسې کـلک کړی لکه د غوښې پـه ځـائې چې پـه زړونو کښې تیږی پـرتې وی هغـه څه لږه شیبـه د دهغـه خفګان هغـه احسـاس هغه بیالوی بیا انسان پـه خپل ژوند او خپلو کارونو پسې روان شی هر څه هیر شی بیا څو ورځې وروستـه زه چرته لاړم هلته یوه غرمه حاجی

**جنرال عبدالصمدموصند**

طفیل صیب میلمه کړم او دغه غرمه د ستوری صیب سره سره د خادم صیب ،ربښتین صیب، وزیرمحمدګل خان مومندبابا دوست محمدخان کامل مومند، قـلـنـدرمومند او نورو ادبی شخصیاتو د خدمتونو ذکر وشو ډیـرې ګټـورې او خـوندورې خبـرې وشوې هلتـه حاجی طفـیـل صیب نور خلق هم راغـوبـنـتـی وو چې پـه هغې کښې یو ډیر تاریخی انسان او پـه هـره حوالـه یو رسیدلے شـخـصـیـت حاجی محمداسحاق خان الکوزے ؤ چې دهغه سره د هر چا په حواله غوره معلومات وو څه رنګ چې ډاکټـرکبیـرستوری پـه دغو ورځـو شپـو کښې پـه حق رسیـدلے ؤ نو ښاغلی الکوزی صیب ئې په ژوند او فن پوره خبرې وکړې په خانګړې توګه دهغوی په یو کتاب (سایرهنه) باندې.

زه چې بیرتـه خپـل هوټل تـه راغـلـم قلم کاغذ مې راواخستو اراده مې وکړه چې زه هـم پـه ستوری صیب څه ولیکم کله څه هم چې د ډاکټـرصیب حق ادا کول او پوره کـول ګران ښکلې ډیـر ګـران کـار دے خو پـه ډاکټـرکبیـرستوری لیکل د هغې نـه هم ګران کار دے څکه چې پـه لیک کښې به دستوری لـه ژونـد او فـن سـره انصاف څوک او څنګه وکړی؟ خو بیا د یـوسف (ع) او د بـوډۍ د پـلغوندې خبره رایاده شوه او له ځان سره مې ووئیل چې ته هم څو کربښې تورې کړه معیاری نه سهی خو ولیکه ضرور تر ډیره مې قلم په غلبونو وتکولو په سوچ کښې ناست ؤم چې څه ولیکم او څنګه ئې ولیکم یوه خبره چې ذکر ئې باید وکړم او هغـه دا چې د ژوند ډیرو تیرو مصروفیاتو رانه د ادبی دنیا لارې ورکې کړی دی د هغـې ژوند چې واقـعـی ژوند دے له ادب او ادیباتو سره د تړون لارې رانه ورکې شوی دی اول بیالت بیا کلومت او بزنس رانه قلم د ګتو اخستے دے.

دا څو کلونه مایوه کرښه هم نه ده تـوره کړې البته شاعری چې کلـه راپلندې راوورېږی هغه په کـاغـذ زر زر ولیـکـم بیا هغـه کاغذ اکثر ورک وی نو لیـک او لیـکـل څکه ګران شوی دی .او کله پـه دې لیک کښې هم څه کمې زیـاتې وی زه د هغې هم بخښـنـه غواړم او بله دا چې ما

وحدت
ورځپاڼه وحدت پېښور (۵) ۱۳ اپریل ۲۰۰۷

# پام دستوري په غزل به کوې

سره د ارواښاد کبیرستوري د ژوند د حالاتو په اړه هیڅ کتاب نشته او که دا ووایم چې ددې موضوع خو څه چې د یوې موضوع په رابطه هم راسره کتاب نشته بلکې که دلته ولټول شي هم د پښتو کوم کتاب به پیدا نه شي.

بیا مې د خان سره ووئیل چې ستورے خو ستورے وی او د ستوری صیب د ژوند او فن په اړه به دومره علمی مقالې لیکل شوی وی چې دا لیکنه نظرماتے حساب او بله دا چې که ددې پیړۍ ادبی تاریخ لیکل کیږی او دپښتو ادب په حقله خبره کیږی او په هغې کښې د ارواښاد ډاکټر کبیرستوری ذکر نه وی د هغوي په ژوند او فن خبره نه وی شوی نو دا تاریخ به یو نیمګړے تاریخ وی او زه خو صرف خپل احساسات او تاثرات د کاغذ مخ ته رسوم او دپښتنو دا لوئې ستورے د لیکنې او یادونې محتاجه نه دے هغوی ته لوئې الله یو لوئې مقام ورکړے دے چې دا مقام ترې مرګ هم وانه خستلے شو او مرګ د خپل درانه سیوری لاندې ورک او پټ نه کړے شو مرګ هغه کسان د خپل درانه سیوری لاندې پټ او ورک کړی چې د (کلوا وشربوا) پرته ئې په ژوند کښې بل مقصد او مرام نه وی خو هغه چې د ژوند مرام مقصد او مرخه په مخ کښې لری د خدمت جذبه ورسره وی خادم او خدمتګار وی مرګ ئې هم د خپل تول

نور په پنځم مخ

## پاتې: پام دستوری په غزل

زور او قوت سره هم تر خپل درانه سیوری لاندې پټولے او ورکولے نه شی او هغه ژوندی او جاویدان وی ځکه چې د قلم خاوند وی د خپلو خلقو خپلې ژبې خپل ادب خپل کلتور او فرهنګ یو رښتینے خادم وی چې په دې سلسله کښې د یو خدمتګار قلموال او د ادب او سیاست د یو سرخیل ډاکټر کبیرستوری نوم هم د ستائنې او یادولو وړ دے چې د خپل ژوند ډیره برخه ئې د خپلې خوارې خو ویاړلې پښتو په خدمت کښې تیره کړه د ادبی او فرهنګی خدمتونو سره سره ئې ډیر ملی خدمتونه هم کړی دی چې تل به په ویاړ سره یادولے او ستائیلے شی د هغوی فن دومره لوئې دے لکه بخپله کبیرستورے او دهغهٔ نرم مزاج د خدمت یوه جذبه دپښتو او پښتنو سره لیونی مینه دا ټولې داسې خبرې دی چې د شخصیت خاوند ته نور شخصیت هم ورکوی او دې ټولو خبرو او خداداد صلاحیتونو ستورے دومره وځلولو هسک کړو او د خلقو د زړونو تل ته ئې کوز کړو چې نور خو پرېږده چې شاید د کبیرستوری د تصور نه هم لوړه خبره وی خو زه به دا ووایم چې دا د کبیرستوری حق ؤ بلکې له دې لار د ډیر درناوی حقدار او مستحق وو.

زمونږ د پښتنې ټولنې ژوند په همدغسې انسانانو پورې اړه لری کومه ټولنه چې د ډاکټر کبیرستوری په څیر شخصیات نه لری هغه ټولنه او خلق ژوند نه لری هغه خپله پیژندګلوی نه لری، خپل تشخیص نه لری او زهٔ به دا ووایم چې هغوی تاریخ نه لری او کله چې تاریخ د یوې ټولنې په باب قضاوت کوی د هغې اتکا په عملی شخصیاتو وی او که د کبیرستوری په څیر دا ادبی هستئ نه وې نو نن به دپښتنو او پښتو ادب څهٔ حال وے. خو دا د دوی او د دوی په څیر د نورو ادبی هستیو هڅې دی چې پښتو او پښتو ادب په نړیوال کچه کښې هسک سر ولاړ دے.

پښتو او پښتانهٔ بختور دی چې الله پاک ورته داسې مشران ورکړی چې ساری نه لری ثانی او مثال نه لری او دا ټول د ویاړ او ستائنې وړ دی او په پای کښې د ډاکټر کبیرستوری د زړهٔ د تل دا سندریز پیغام دا زرین تکی او حرفونه:........

چې پښتونخوا ته پسرلی د پښتونوالې راوړی

په زړهٔ کښې ماته پام دستوری

په غزل به کوې

APNS

په ټول ملک کښې د پښتو روزمې ورځپاڼه

ABC CERTIFIED

ورځپاڼه

THE DAILY
WAHDAT
PESHAWAR

پېښور

# وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

شنبې (خالي) ورځ ۱۰، وزو ۲ اختر ۱۴۱۸ هـ ق، د ۲۵ سلواغه (دلو) ۱۳۷۶ هـ ش، 14 فروري 1998ء، جلد 23، شماره 43

## اسلام دښمنه قوتونه دې خپلو سازشونو نه لاس واخلي، عبدالجلیل ملنګ

### افغانستان کښې دلویو طاقتونو دمفاداتو جګړه روانه ده، د غلته دامنیت خوب لیدل ممکن نه دی

### ټولو لویو طاقتونو ته زمونږ د کمزوري کولو کوششونه کړیدي، وحدت سره مرکه

پېښور (وحدت خبریال) افغانستان کښې د ټولو جنګونو بنیاد خارجي لاس وهنه ده او باید اسلام دښمنه قوتونه د خپلو سازشونو نه لاس واخلي دا خبرې د کونړ د سیمې قامي مشر او د دپارلیمي دورې پخواني وکیل عبدالجلیل ملنګ وحدت سره په یوه مرکه کښې کړې دي. ده ووئیل د افغانستان خاوره چې په تېرو ټولسو کالو کښې د کومو حالاتو سره مخ شوې ده دا اوس د افغانانو لپاره چرې هم د هېرېدلو نه دی او د دوسره وخت تېرېدو باوجود نن هم په دغه خاوره د امنیت خوب لیدل ممکن نه دی دا خکه

باقي صفحه اخر غلوړم کالم

باقي :: عبدالجلیل ملنګ

چې په افغانستان کښې د لویو طاقتونو د مفاداتو جګړه روانه ده او ترڅو پورې چې د یو قوت طاقت نه وي کم شوی یا د هغوی ذاتي مفادات نه وي پوره شوي تر هغې به د افغانستان حالات کړ کیچن وي ملنګ زیاته کړه زمونږ بدبختي دا ده چې مونږ د تاریخ په اوږدو کښې کله هم د ځان د ښېګړې لپاره کوشش نه دے کړے بلکې همېشه مو د بل په خبره باور او اعتبار کړے دے او ټولو لویو طاقتونو زمونږ د کمزوري کولو کوششونه کړي دي ده زیاته کړه چې د تجارتي زمونږ د عملونو نتیجه ده چې سوده وړاندې چې یې شمېره یې ګناه طالبان وو زل شول تو یولي تړي د دې عمل غندنه وکړه په دغو طالبانو کښې د هرچا بچي شامل وو او

ورځپاڼه وحدت پېښور
THE DAILY
WAHDAT
PESHAWAR

# دپردي ترشا ـ گناه د چا ده؟

ليک: عبدالبصير ستوری

په ۱۰ نومبر د پښتونخوا د کښوورځپاڼو سرخي (ځټ تکي) د بوې به نصيبي افغاني کورنۍ د لسو تنو د مرګ خبرو، چې د بوه زوړ کور د کوټې د چت په را پرېوتو تکي د بوې کورنۍ ټول غړي د ورو نه تر زړو پورې دا يو لياره د خاورو لاندې شول، د دغه غمناکې پېښې خبره به اکثره افغانان خبر شوي وي او د ور به پرې ورېږن او خفه شوي وي.

سل نه چې واټي (شمارو برخه څواره وي) بې وزله او خوارو افغانانو څوک د خونړي کمونستي کودتا څخه تر نننه پورې آرامه او خوشحاله ورځ نه ده ليدلې، په کمونستي رژيم کښې ئي کور او کلي بمباريدل په ناروا او ناوړه تورونو جېلونو ته اچول کېدل شخصي شتمني به ئي ترې اخستله، عزت او ناموس به ئي لوټ کېده، د هغوی ددې بې شمېره ناخوالو او ظلمونو له وجې څو افغانانو خپل کور، کلي او وطن پرېښود او په تورو ملکونو کښې ئي د هجرت سره د ستونزو ډکې شپې سبا کولې. څو کله چې کمونستي رژيم ړنګ او د جهاد په برکت واک د مجاهدينو لاس ته ورغې نو زياتره مهاجرين خپلو ښارونه ستانه شول. څو وائي چې په هر ملک کښې داوسيدو لپاره څو شيان دي او لومړني ضرورتونه وي چې هغه امن، کار او بدلي پيدا کول دي. نو په افغانستان کښې چې نه امن شته نه کار او نه څوک پوره شمېري پورې پيدا کوّلے شي برعکس ټوپک سالاري او ډېر ګونه بګټي پرېمانه دي. نو بې ځيلې پنا زيات افغانان د سرسانيلو او کنډکي پرولو په خاطر په هجرت کولو مجبوره شو. په زرګونو داسې افغانان شته چې د اوړي په سخته ګرمۍ او ژمي په سختي کښې د خېمو او څادرو لاندې ژوند کوي او يا څو په داسې ناقصه کرائي کورونو کښې اوسيږي چې کور نه ځائي به ورته د (ګور) کلمه مناسبه وي.

ددغه کورونو مالکانو نه دي خدائي انصاف ورکړی، د خوپيسو ګټلو په غرض به داسې کوردرته په کرايه حواله کړي چې د مرګ په سر به شپه تېرول ترې به وي سرېست (ترميم) او جوړونې څو ئي هېڅ څه خيال نه ساتي بګرد هرې مياشتې په سر به دې د کور دروازه ډبوي چې کرايه راوړه، او که بيا د کوم غريب سره به خپل وخت د کرائي لپاره روپۍ نه وي نو مالک مکان به لکه د زمري څوندې شي او سور کړي او وائي به چې يا څو کور خالي کړه چې کوم بل بدبخت کابلي (افغان) ته ئي په کرايه ورکړم او يا څو زر شه کرايه راکړه، مجبوريت هم به شي نه نو کوم افغان ته چې خالي کور پيدا نه شي نو بيا به بل کرايه دار افغان د کرائي داو ډولي) شروع کړي، دا څو لا څه کوي چې دغو مياشتو په تېرېدو به درته د کرائي دزيات والي نوټس (خبرداری) هم درکړي نو که بيا نه ئې منلي نو څه به کوي؟ خبر په دې کښې به د مالک مکان هم څه ډېره ګناه نه وي هغه ته خدائي په موقع په لاس ورکړې چې اوس ترې کيه نه پورته کوي کله به ئي کوي؛ ځکه د افغان مهاجرينو په برکت خوني کچه کوراو کوانړه بنګلې کرايه کوي او که دغه مهاجرين نه وي نو بيا خوني په کور کښې څوک اوسونه هم نه پړي.

خو افسوس ددغه غريب او دربه دراافغان په حال چې نه په افغانستان کښې ژوند کولے شي او نه په پاکستان کښې خپل ژوند برابرولے شي نو ګناه د چا ده؟ د افغانانو مشران او په جګړو کښې ښکېل ولي څوك سره دې نه و ګاريه دي د ګوښي غربي کورنۍ د حال پوښته وکړي ښکلي دوي څو د افغانانو په نيابت او نړيوالو سره هيڅ وهلي دي او داسې ئي حوالے چې نړيوال افغانستان په منځ يو ځل کښې په کتلو اله دې بدل کړې او دغه ئي وسلې او وسلي افغانانو نه وي ختم کړې تر هغې پورې به پيدا اسانه نه ...

کښې. او د افغانانو کور، کښې ورانوي. ملي شتمني به ئي لوټوي.

که چرې کوم افغان د چت لاندې مړ کېږي يا د لوږي د لاسه په ويرانونو هېوکي او خزلې ټولوي او خيرونه خواړي يا دې روزګاري او لوږو محرومينونو په وجه د نشوېکار کېږي او يا د ظلمونو تکليفونو او تورو مشکلاتو له وجې په ذهني اوبدنې ناروغۍ اخته کېږي نو ددوي پړه څه! وائي چې سوړه دې د حال نه څه خبريږي. څوک چې د حيات اباد په بنګلو کښې ژوند کوي په نوې ماډل موټرو کښې ګرځي څو ئي وسله وال باډي ګاردان (انفساطان) ورپسې روان وي، نه دا ورو، نه د غوږو او نورو سوادو د قحط او نرخ څخه خبريږي، نه ئي ماشومان برېند او نه د لوږي نه ژاړي نو هغه به د کوم غريب او بې کوره مهاجر افغان له حاله څه خبر شي ددغه غمناکې پېښې په خبرېدو څو د پښتونخوا وزير اعلی او نورو وزيران د حادثې ځائي ته په موقع ورغلل او د غم څپلي کورنۍ سره ئي خپله خمرازي وښودله. خو څوک چې ځانته د افغانانو مشران قوماندانان د جنګ سالاران او جنرالان وائي له هغوی څخه کوم يو د دغه غمځپلي کورنۍ سره دروه له صدقه خپله خمرازي کړې او په عملي تو ګه ئي ورسره کومه مرسته کړې؟ لمنې څو به ئي لاځان په دې علاسوي په اخبارونو کښې د خمرازۍ او خواخوږي پېغامونه ورکړې څو په شي پېغامونو باندې ددغه خوارانو سره څه مرسته کېږي؟ که دوی په رښتيا د افغانانو د غريب ي کوره او دربه در اولس خواخوږي او خمرازه وي نو نور دې د وطن ورانولي او اولس وژنې څخه لاس واخلې د اولس سطقوي مشکلاتو او اقتصادي ستونزو ته دې د حل لار ولټوي، د سلب زالي ته دې په درنه سترګه وګوري او د اسلام د سپيڅلي دين د اساساتو په رڼا کښې دې په حقيقي معنی د بې وزله افغانانو رښتوني خواخوږي او غمرازه شي که نه نو بيا ددې ټولو بدبختيو او مشکلاتو د پيدا کېدو ګناه به د چا وي چې د افغانانو ماموش اکثريت ورسره لاس او ګريوان دی.

زیارت (پنجشنبه) ۱۶ اکتوبر ۱۹۹۷ ع
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR
ورځپاڼه پېښور
وحدت

# وحدت

لیک: بصیر ستونی

هسې خو د وحدت په نوم د بر خلق کار کوی اوُ د دې ټاسه لاندې د برخه ځایری اوُ شته خو زه دلته د «ورځپاڼې وحدت» خبره کوم

وحدت چې له کومې ورځې خپلې خپرولې په پښتو ژبه خپرې کړې د هغه تر سیځ د بر کلونه تېر شول خو په دغه تېرو شوو کلونو کښې چې کوم ستر او لوی خدمت د وحدت ورځپاڼې د پښتو ژبې لپاره د زیاتو اقتصادي او سیاسي ستونزو سره کړے نو هغوک پرې ستر کې نه شي پټولې او دغه موضوع په خپل ځای د بر اوږد بحث غواړي خو بیا هم د وحدت په اړه د برو لوستونکو او مینه والو خپله خپله رائې هرگنده کړې چې کم و زیات يې د دې ورځپاڼې په تاریخي پس منظر او نورو پهلو ارخونو رنا اچولې ده. خو زه غوارم چې په غولېدونکو کښې د وحدت په تازه او روان سفر خپل نظر ولیکم

لکه څنګه چې د وحدت په لمړی مخ د ورځپاڼې د نوم په سر لیکلې شوې دا جمله، په ټول ملک کښې د پښتو ورومبی ورځپاڼه، په نظر لګي نو په واقعیت کښې هم دغه ورځپاڼه ده چې پښتو ژبه يې د مطبوعاتو په ډګر کښې د ابدي سرک خته زغورلې ده اوُ بر تر د بره يې د نورو ژبو د مطبوعاتو سره سیالة کړې ده اوُ ورځ په ورځ د دغه ورځپاڼې ښکلي، علمي، ادبي، هنري، سیاسي اوُ ټولنیز مضمونونه اوُ د بې پرې حالاتو خپرول ځانته خپل خاص مقام حاصلوي البته په شروع شروع کښې به دغه ورځپاڼې هسې سکر ټیا وی د رلودې سکر د وخت په تېرېدو اوُ د ورځپاڼې د کار کوونکو په زیار تر ستګه حده پورې پکښې اصلاحات راغلي د مضامینو اوُ لیکنو خوندي ورځ په ورځ سوا کیږي لوستونکي اوُ ستوال زیاتیږي

د هرې ژبې پوهان، لیکوالان اوُ ادیبان د خپلې ژبې د علمي پانګې د خنی کولو پر اختیا اوُ پرمختیا لپاره خپلې هلې ځلې اوُ کوشش کوي خو په دې حقله د پښتو ژبې لمن تر ډېره حده تشه ده هغه رنګه د هرې ژبې په نوبه اوُ وده کښې د علمي، ادبي اوُ هنري کتابونو اوُ لیکنو تر څنګ مطبوعات اوُ اطلاعات هم ډېر رول اوُ فعاله ونډه لري ځکه مطبوعات (خپروني) اوُ ورځپاڼې د یوې ټولنې د سیاسي، اجتماعي اوُ انساني کړو وړو اوُ ژوند اساسي هنداره ده.

په پښتونخوا کښې د وحدت ورځپاڼې څخه د مخه خو نورو ورځپاڼو لکه هواد اوُ شهباز اوُ رسالو لکه اباسین، کاروان، جمهور اسلام اوُ نورو په پښتو ژبه خپروني کولې ولې دغه خپروني د سیاسي اوُ اقتصادي ستونزو په وجه په دې ونه توانېدې چې تر ډېره خپلې خپروني جاري وساتي خو د وحدت ورځپاڼې ته دغه اعزاز حاصل دے چې تر اوسه يې د پښتو ژبې نوم ژوندے ساتلے دے اوُ د دې تر څنګ يې نوم هم دې ته وهخول چې د پښتو ژبې لپاره د ورځپاڼو (اخبارونو) په چلولو شروع وکړي لکه په دې نږدې وختونو کښې چې د سهار اوُ افریدی په نوم ورځپاڼو هم په پښتو ژبه خپروني پیل کړې دي چې دا هم د وحدت برکت اوُ د برپالتوب نتیجه ده.

زه د پښتو ادب سره د بر مینه لرم اوُ په دې وجه چې د پښتو ژبې هر کتاب، رساله اوُ ورځپاڼه لاس ته راشي نو د خپل توان تر حده يې لولم خو دغه ښودې راهسې مې د وحدت ورځپاڼه د خپلې مطالعې لپاره انتخاب کړیلې ده اوُ دا ځکه چې د یوې خوا د پښتونخوا اوُ وران وېجار اوُ ګران هیواد افغانستان د روانو غمیزو پښتونه ځان خبروم اوُ بلې خوا د نورو مضامینو اوُ لیکنو سره سره د بساورۍ لیکوال اوُ کالم لیکونکي (برېښنا داوډزي) کالم اوُ لیکنې چې د وحدت په هره ګڼه کښې خپریږي په شوق سره لولم اوُ د ورځپاڼې د غتو ټکو (سرخپاڼو) د لوستلو څخه وروسته لمړی د هغه کالم اوُ لیکنه لېوم اوُ په لوستلو پیل کوم

داوډزي صاحب ته خدای دا هسې اوُ استعداد ورکړے چې د بردې تر شا کوم حقیقتونه اوُ واقعیتونه پټ دي هغې له د طنز اوُ انتقاد په ژبه ښکلې رنګ اوُ خوند ورکوي اوُ د ټولنې د بد اوُ بد اولس د ستونزو اوُ د واکنو د ژوند څخه خلق خبروي اوُ د ټولنیز ژوند د خرابیو سمون لاره په ګوته کوي

هغه رنګه د تېرو څو اونیو (هفتو) را په دېخوا د صابر شاه صابر د «لوی افغان» نوکیزه (قسط واره) لیکنې زما خاصه توجه ځانته را ګرځولې اوُ د وزیر صاحب محمد ګل خان مومند پښتني احساس اوُ د هغه د ژوند الخور اوُ پېښې يې په ډېره ساده اوُ ښکلې لهجه لیکلې چې د زیاتې ستاینې وړ دي

د پښتو لیکوالانو اوُ ادیبانو لیکنو ځوان نسل اوُ معاصر شاعرانو شعرونو اوُ د پښتونخوا د ادبي سرګرمیو اجلاسونو وحدت ته لا زیاته ښکلا ور په برخه کړې چې «ټکره لراوُ بر پښتانه يې د لوستلو لېواله» کړي دي

د پښتو ژبې اوُ پښتو لپاره چې وحدت یل کوم ستر خدمت تر سره کړے هغه د کوزې (لري) پښتونخوا د ځوان نسل اوُ تعلیم یافته طبقې د پښتو ژبې په لیک لوست اشنائي ده ځکه چې دلته په پښتونخوا (سکولونو) کښې په اردو اوُ انګریزي ژبه زده کړه کېږي اوُ دغه طبقه د خپلې ژبې د زده کړې لیک اوُ لوست څخه تر ډېره حده لرې پاتې کېږي خو د وحدت په لوستلو سره به دغه نسل تر ډېره حده پوره شي

لکه څنګه چې په روان دور کښې د وحدت ورځپاڼه د پښتو ژبې اساسي ترجماني کوي نو همدغه رنګه د وحدت د دغه واری زیاتیږي اوُ د پښتون اولس دا فریضه جوړیږي چې د پښتو ژبې د بقا اوُ پاللو لپاره د وحدت سره خپلې لازمې مرستې تر سره کړي تر څو د وحدت ورځپاڼه د نورو سره د سیالۍ جوګه پاتې شي

خدای دې وکړي چې وحدت د تل په ناز پښتنو د وحدت لپاره هم ستر کاسونه اوچت کړي اوُ پښتانه د ترقۍ ستر ښار ته لارښونه کړي

17 مارچ 1992

THE FIRST AND ONLY PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

A.B.C CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو د رومبئ او اکئ یوه ورځپاڼه

ورځپاڼه پېښور

# وحدت

رجسټرډ پي ۲۷

چیف ایډیټر: پیر سید سفید شاه همدرد

د نهے ورځ ۱۲ رمضان المبارک ۱۴۱۲ هـ، ۱۷ مارچ
۱۹۹۲ء یکم چیتر ۲۰۴۸ ب، بیعه دوه روپئ، جلد ۷ شماره ۱۳۷

## د کونړ د ولایت قومونو منډا کیمپ کښې شورئ جوړه کړه

### افغان جرګې د پاره د زمونږ د شورئ نه هم نمائندګان واخستے شي

پېښور (پ ا) د کونړ ولایت د قومونو یوه لویه غونډه منډا کیمپ کښې اوشوه غونډه کښې د کونړ ولایت عالمانو جهادي قوماندانو او قومي مشرانو ګډون او کړو غونډې په یوه خله وکېن

عبدالجمیل ملک د قومي شورئ رئیس، ملک عبد الاحد مرستیال، ډاکټر صادق منشي او عبد القیوم د دویم منشي په توګه اوټاکلے شو. د

جرګې برخه والو د پاکستان حکومت مننه اوکړه چه د پارلس کاله نه د افغان اولس سره سم د ...رو او تکلیفونو ته ځان اونیولو دے نه علاوه غوښتلے اقوام متحده د پېښور نکتو د فارمولے هم حمایت اوکړو او ئې سیوان نه ئې غوښتنه اوکړه چه د لوئے جرګې لپاره د زمونږ د شورئ نه هم نو نمائنده واخستے شي.

# د ډیورنډ کرښه هیڅکله نه منو

داکرښه د لراوبر پښتنو دویشلو سازش دے خوپښتانه خوک هم په دا سې کرښه جدا کولے نه شي افغانستان زماکور دے او زه خپل کورته راغلے یم

PESHAWAR SATURDAY, APRIL,14, 2007

نورخم ته په رسیدو د افغان لوئې مشر په ستائنه کې

د دولت وزیر زلمے هیواد مل اسفندیار ولي

میرمن نسیم ولي خان او قراسیاب خټک ته ور ښکاره کړے وائي



جلال اباد (نورحمان شیرزاد) د عوامي نیشنل پارټۍ مشر اسفندیار ولي خان په مشرۍ د وفد پارټۍ یو شمیر غړي د تورخم نه لارې جلال اباد ته لاړل په وفد هستيت کښې د اسفندیار ولي نه علاوه بیگم نسیم ولي

باقي صفحه 5 نمبر 1

۱۴ اپریل 2007

## Head Office


**20-Islamla Club Bullding**
**Khyber Bazar Peshawar**


**Daily Wahdat is a Pashto daily newspaper published in Peshawar, in the Khyber Pakhtunkhwa. It was founded in 1976 by Peer Sufaid Shah Hamdard**


**info@dailywahdat.com.pk**

**PH:091-2214154-2562239**
**USA:+15712751612**
**MOB:0332-9051440**
**ISLAMABAD:0333-5168131**
**KARACHI:0322-4098298**
**LAHORE:0333-9181608**